د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
د بشري علومو معاونيت
د ټولنيزو علومو مرکز

# آریانا

## مجلهٔ علمی - تحقیقی

په دې ګڼه کې:


• په افغانستان کې د ...
• نقش سلاطین غوري در...
• د افغانستان په اقتصادي...
• د محمود طرزي د ژوند...
• د مصنوعي ځيرکتيا او..
...





• دوره پنجم
• ربع: دوم
• سال: ۱۴۰۴ هـ.ش.
• شماره مسلسل: ۴۵۷
• سال تأسیس: ۱۳۲۱ هـ.ش
• کابل - افغانستان

۲

مجلهٔ علمی - تحقیقی آریانا
شماره ۲، سال ۱۴۰۴ هـ.ش


# ARYANA

## Quarterly Journal


Establishment 1942
Academic Publication of
Afghanistan Science Academy
Serial No: 457



Address:
Afghanistan Science Academy
Torabaz Khan, Shahbobo Jan Str.
Shar-e-Now, Kabul,Afghanistan
Tel: 0202201279

د افغانستان اسلامي امارت

د علومو اکاډمي

د بشري علومو معاونیت

د ټولنیزو علومو مرکز

# آریانا

مجلۀ علمی- تحقیقی

اقتصاد، تاریخ و اتنوگرافی، حقوق و علوم سیاسی، روانشناسی و تعلیم و تربیه، ژورنالیزم، فلسفه و جامعه شناسی

مؤسس احمد علی کهزاد

سال تأسیس ۱۳۲۱ هـ . ش.

شماره مسلسل ۴۵۷

دوره پنجم

شماره ۲ سال ۱۴۰۴ هـ ش

**یادښتونه**

- مقاله دې په رسمي ډول له ځانګړي ادرس څخه د نوم، تخلص، علمـي رتبـې، د تیلفون شمېرې او ایمېل ادرس په ذکـر کولـو سره د علومـو اکـاډمۍ ادارې تـه را واستول شي.
- را استول شوې مقاله بایـد علمـي، څېړنیـزه، بکـر او دعلمـي منـل شـوو معیـارونو مطابق وي.
- مقاله باید مخکې په بل ځای کې چاپ شوې نه وي.
- د مقالې سرلیک باید لنډ او له محتوا سره مطابقت ولري.
- مقاله باید د لنډیز لرونکې وي، ۸۰ څخه تر ۲۰۰ کلمـو وي او د اصـلي پوښـتنې ځواب ویوونکې وي چې مقاله هغې ته ځواب ویوونکې ده. همدارنګه لنـډیز بایـد د یونسکو له ژبو څخه په یوې ژباړل شوی وي.
- مقاله باید د سریزې، مبرمیت، هدف، د څېړنې د پوښتنې، د څېړنـې د تګـلارې، لاس ته راغلو پایلو او د منابعو د لړلیک لرونکې وي او هم پـه مـتن کـې منبـع تـه اشاره شوې وي.
- مقاله باید پرته د ټایپي تېروتنـو، د ژبـې د اصـولو د ټولـو نکـاتو پـه مراعتولـو او د موضـوعاتو پـه منطقـي تسلسـل سره د A٤ پـه یـو مخیـزې پـاڼې او د Word پـه پروګرام کې برابره شي.
- د مقالې حجم باید حد اقل ۷ او حـد اکـثر ۱۵ معیـاري پـاڼې وي، پـه ۱۳ فونـټ کې دې ټایپ شي، د سطرونو ترمنځ دې فاصله Single وي او کاپي دې د هارډ او سافټ په بڼه را واستول شي.
- د مجلې کتنپلاوی د رد، منلو او د مقالو د سمونو صلاحیت د علومو د اکـاډمۍ د نشراتو د لایحې په نظر کې نیولو سره لري.
- ارایه شوي تحلیلونه او نظرونه د څېړونکي او لیکـونکي پـورې اړه لـري او الزامـاً د ادارې موقف پورې اړه نه لري.
- د نشر شوو مضامینو او مقالو د کاپي حق خوندي دی، یـوازې د مأخـذ پـه توګـه ترې په نشراتو کې ګټه اخیستل کېدلی شي.
- سپارل شوې مقاله بېرته نه مستردېږي.

## - یادداشت

- مقاله رسماً از آدرس مشخص با ذکر نام، تخلص، رتبه علمی، نمبر تیلفون، و ایمیل آدرس نویسنده به اداره اکادمی علوم فرستاده شود.
- مقالۀ ارسالی باید علمی – تحقیقی، بکر و مطابق معیارهای پذیرفته شدۀ علمی باشد.
- مقاله باید قبلاً در جای دیگری چاپ نشده باشد.
- عنوان مقاله مختصر و با محتوا مطابقت داشته باشد.
- مقاله باید دارای خلاصۀ حد اقل حاوی ۸۰ الی ۲۰۰ کلمه بوده، و گویای پرسشی اصلی باشد که مقاله در پی پاسخ دهی به آن است. همچنان خلاصه باید به یکی از زبان-های یونسکو ترجمه شده باشد.
- مقاله باید دارای مقدمه، مبرمیت، هدف، سؤال تحقیق، روش تحقیق، نتایج به دست آمده و فهرست منابع بوده و در متن به منبع اشاره شده باشد.
- مقاله باید بدون اغلاط تایپی با رعایت تمام نکات دستور زبان، تسلسل منطقی موضوعات در صفحۀ یک رویه کاغذ A٤ در برنامۀ word تنظیم شده باشد.
- حجم مقاله حد اقل ۷ و حد اکثر ۱۵صفحه معیاری بوده، با فونت ۱۳ تایپ شود، فاصله بین سطر ها واحد (Single) باشد و به شکل هارد و سافت کاپی فرستاده شود.
- هیأت تحریر مجله صلاحیت رد، قبول و اصلاح مقالات را با در نظر داشت لایحۀ نشراتی اکادمی علوم دارد.
- تحلیل ها و اندیشه های ارائه شده بیانگر نظریات محقق و نویسنده بوده، الزاماً ربطی به موقف اداره ندارد.
- حق کاپی مقالات و مضامین منتشره محفوظ بوده، فقط در صورت ذکر مأخذ از آن استفاده نشراتی شده می تواند.
- مقالۀ وارده دوباره مسترد نمی گردد.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

**ناشر:** ریاست اطلاعات و ارتباط عامه اکادمی علوم افغانستان

**مدیر مسؤول:** عبدالباقی شهاب

**مهتمم:** عبدالباقی شهاب

**هیأت تحریر:**

- سرمحقق شیرعلی تزری
- سرمحقق عبدالجبار عابد
- څېړنوال محمد داود ناظم
- معاون سرمحقق غلام نبی حنیفی
- څېړندوی شیر حسن کمالزی

**دیزاین:** عبدالباقی شهاب

**محل چاپ:** مطبعه ستاره همت. کابل - افغانستان

**آدرس:** اکادمی علوم افغانستان، طره باز خان واټ،

کوچه شاه بوبوجان، شهرنو، کابل

**شمارهٔ تماس ریاست اطلاعات و ارتباط عامه:** ۰۲۰۲۲۰۱۲۷۹(۰۰۹۳)

**ایمیل ریاست اطلاعات و ارتباط عامه:** info@asa.gov.af

**ایمیل مدیریت مجله:** aryanajournal۷۷۷@gmail.com

**اشتراک سالانه:**

کابل: ۳۲۰ افغانی

ولایات: ۴۸۰ افغانی

- قیمت یک شماره در کابل: ۸۰ افغانی
- برای استادان و دانشمندان اکادمی علوم: ۷۰ افغانی
- برای محصلین و شاگردان مکاتب: ٤٠ افغانی
- برای سایر ادارات: ۸۰ افغانی

# د موضوعاتو لړلیک


| شمېره | سرلیک | لیکوال | مخ |
|---|---|---|---|
| ۱. | په افغانستان کې د... | څېړنوال محمد داود ناظم | ۱ |
| ۲. | په افغاني فرهنگ د... | څېړنوال مفتي محمد نبي "المیداني" | ۲٤ |
| ۳. | نقش سلاطین غوری در... | جلیل احمد مرشد و معاون سرمحقق مایل آقا حکیم | ٤۳ |
| ٤. | نابرابری اقتصادی در... | معاون سرمحقق نسرین ترین | ۷۲ |
| ۵. | د افغانستان په اقتصادي... | څېړندوی شجاع الله امان | ۱۰۸ |
| ٦. | د محمود طرزي د ژوند... | څېړندوی شېر حسن کمالزی | ۱۳۱ |
| ۷. | د لومړي او دویمې... | څېړندوی وجیه الله ظهیر | ۱٤٦ |
| ۸. | د مصنوعي ځیرکتیا او... | څېړندوی عبدالقهار عزیزي | ۱٦۵ |

څېړنوال محمد داود ناظم

# په افغانستان کې د ګرځندوی صنعت د پرمختیا لاملونه، اغېزې او په اړه یې د رسنیو دندې

# عوامل تنمية صناعة السياحة في أفغانستان وآثارها، ودور وسائل الإعلام في تطوير قطاع السياحة

**الخلاصة**

تُعدّ السياحةُ في العصرِ الحاضر من أهمِّ الصناعاتِ والإنجازاتِ العالمية، إذ تسعى الحكوماتُ إلى تطويرِ هذا القطاعِ الحيوي لتحقيقِ مصالحها المتنوعة ومكاسبها المختلفة وتعزيز دعايتها، بهدفِ التأثير الثقافي وإبراز تفوقها على الدولِ الأخرى، من خلالِ وضعِ استراتيجياتٍ منظّمة وتنفيذها وِفق خُططٍ مدروسة في مجالِ صناعة السياحة.

وفيما يتعلّق بفرص تنمية السياحة في أفغانستان، وبالنظر إلى الأوضاع الأمنية والاجتماعية والاقتصادية والسياسية **المتاحة حاليًا**، تبرز الحاجة إلى إعداد بحث علمي معمّق حول هذا الموضوع الحيوي، بهدف تمكين الجهات المعنية من اتخاذ قرارات مدروسة وإجراءات مناسبة في هذا القطاع، بما يُسهم في استقطاب المكاسب السياسية والاقتصادية والاجتماعية والإعلامية والثقافية والعلمية والدعوية والرياضية وغيرها لصالح البلاد.

يهدف هذا البحث إلى دراسة أسباب وآثار تنمية صناعة السياحة، ويسعى إلى الإجابة عن الإشكالات البحثية الآتية: ما العوامل الرئيسة التي تُسهم في تطوير قطاع السياحة؟ ما الآثار الاجتماعية والاقتصادية والثقافية المترتبة على ذلك؟ وما الدور الذي تؤدّيه وسائل الإعلام في دعم هذا القطاع؟ ويختتم البحث بجملة من النتائج العملية والتوصيات المناسبة، بالإضافة إلى قائمة المصادر المعتمدة.

**لنډيز**

په اوسني عصر کې ګرځندوی يا توريزم د نړۍ له مهمو صنعتونو او لاسته راوړنو څخه ګڼل کېږي چې نظامونه د خپلو هر اړخيزو ګټو او برياوو د حصول او انعکاس او پر نورو هېوادونو د خپل اغېز او لوړوالي په موخه د ګرځندوی صنعت د پرمختيا لپاره زياتې هڅې کوي، منظمې ستراتېژۍ جوړوي او له پلان سره سم يې پلې کوي.

د افغانستان توريستيکي فرصتونو، په اوس وخت کې يې امنيتي، ټولنيزو، اقتصادي او سياسي وضعيتونو ته په کتو سره د داسې يوې تحقيقي مقالې ليکلو ضرورت ليدل کېږي، چې په دې مهمه برخه کې مناسب اقدامات تر سره او له دې لارې څخه هېواد ته سياسي، اقتصادي، ټولنيزې، اعلامي، فرهنګي، علمي، دعوتي، سپورټي او داسې نورې ګټې را جذب شي.

د دې مقالې په ترڅ کې د توريزم صنعت د پرمختيا لاملونه او اغېزې تر څېړنې لاندې نيول شوي او دې سوال ته ځواب پلټل شوی چې کوم لاملونه د توريزم صنعت د پرمختيا سبب کېږي؟ پر ټولنه څه اغېزې لري؟ او په اړه يې د رسنيو ونډې څه دي؟ دغه څېړنه په عملي پايله، مناسبو وړانديزونو او د سرچينو په ليکلړ پای ته رسېږي.

**سریزه**

له خپل پلرني ځای څخه نورو سیمو ته تګ او د هغو لیدلو ته سیاحت یا توریزم وایي. د توریزم صنعت له ډېرو پخوانیو زمانو راهیسې د حکامو او خلکو د پام وړ و. بشر په خپل فطرت کې له سیاحت یا ګرځندویۍ سره فطري مینه او د نورو ځایونو لیدلو او سفر ته ځانګړې تلوسه لري. انسانان د بېلا بېلو ځایونو، خلکو، فرهنګونو او د هغوی په اړه د معلوماتو ترلاسه کولو او داسې نورو موخو لپاره د نړۍ ګوټ ګوټ ته تګ راتګ کوي.

په اوس وخت کې د ګرځندوی صنعت ته د حکامو، سېلانیانو، پانګوالو، سوداګرو او رسنیو ځانګړې پاملرنه جلب شوې او په دې اړه د ځانګړو علمي، فرهنګي، ټولنیزو، اقتصادي، سیاسي، فکري او داسې نورو لاسته راوړنو لپاره منظمه ستراتیژي جوړوي او د پلي کولو لپاره یې ډېر امکانات او رسنۍ په کار اچوي، چې زیاته اندازه سېلانیان د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه را جذب کړي، خپل اقتصاد پرې پیاوړی کړي او د سترو پانګونو لپاره لاره هواره کړي.

**د څېړنې اړتیا او اهمیت**

د افغانستان توریستیکي فرصتونو او اوس وخت کې یې امنیتي، ټولنیز، اقتصادي او سیاسي امکاناتو او شرایطو ته په کتو سره د توریزم صنعت پر ودې او په دې برخه کې د رسنیو د اغېز په اړه څېړنې ته اړتیا لیدل کېږي؛ ځکه له دې لارې د هېواد هر اړخیز پرمختګ او بریاوو ته لاره هوارېدلی شي، دغسې څېړنې زموږ د هېواد په داسې حساس پړاو کې فوق العاده اهمیت لري.

**د څېړنې موخې**

- د توریزم صنعت د ودې په برخه کې د مناسبو او اغېزناکو اقداماتو تر سره کولو ته د چارواکو او خلکو د عامه ذهنیت جوړول.

- د توریزم صنعت له لارې هېواد ته سیاسي، اقتصادي، ټولنیزې، اعلامي، فرهنګي، علمي، دعوتي، سپورټي او داسې نورې ګټې را جذبول.

- د توریزم صنعت په وده کې د رسنیو رول ښه جوتول او په دې برخه کې له رسنیو څخه لا ښې ګټې اخیستنې ته لاره هوارول.

**د څېړنې پوښتنې**

کوم هڅوونکي عوامل په افغانستان کې د توریزم صنعت د پرمختیا سبب کېږي؟

د توریزم صنعت پر افغاني ټولنه څه اغېزې لري؟

په افغانستان کې د توریزم صنعت د پرمختیا په اړه د رسنیو دندې څه دي؟

**د څېړنې فرضیه**

افغانستان د توریزم صنعت د پرمختیا لپاره پرېمانه هڅوونکي عوامل لري چې د ښې استفادې او د رسنیو د معیاري پوښښ په صورت کې پر افغاني ټولنه هر اړخیزې مثبتې اغېزې لرلی شي.

**د څېړنې میتود**

د دې څېړنې د ترسره کولو میتود توصیفي-تحلیلي دی او د معلوماتو را ټولولو میتود یې پر کتابخانه یي مطالعو، د لیکوال پر تجربو او مشاهدو او ساحوي فعالیتونو او مرکو ولاړ دی.

**۱- په افغانستان کې د توریزم لاملونه**

افغانستان د توریزم صنعت د پرمختیا لپاره ډېر زیات امکانات، فرصتونه او هڅوونکي عوامل لري چې د هغو  په وسیله کورني او بهرني سېلانیان د سیاحت لپاره لېوالتیا پیدا کوي او د غوره پلان او استفادې په صورت کې مو هېواد ته ډېره زیاته پانګه راجذبېدلی شي، کله چې موږ د توریزم هڅوونکي عوامل مطالعه کوو، نو په لومړي سر کې دوه ډوله لاملونه په لاس راځي چې یو یې د توریزم دروني لاملونه دي کوم چې د انسان له  باورونو، خصلتونو، فکر او غریزو سره تړاو لري او بل یې بهرني لاملونه دي چې هغه له چاپېریال او بېرونیو اړتیاوو سره تړاو لري.

### ۱-۱- د توریزم دروني لاملونه

د توریزم دروني لاملونه هغه دي چې د انسان له فکر، عقیدې، خصلت او داسې نورو دروني موضوعاتو سره اړیکه ولري او یو کس یا یوه مجموعه له خپل داخل څخه توریزم یا سیاحت ته وهڅوي چې په لاندې ډولونو وېشل کېږي.

### ۱-۱-۱- عقیدوي لامل

هغه لامل دی چې انسان د خپلې عقیدې او باورونو له لوري سیاحت، ګرځېدو او د بېلابېلو ځایونو کتلو او ورتللو ته وهڅول شي، لکه د مسلمانانو عقیده چې د الله متعال ﷻ له لوري ورته په سیاحت او د الله متعال ﷻ په مخلوقاتو او کائناتو کې تفکر کولو او د هغو لیدلو باندې امر شوی او الله متعال ﷻ په دې اړه فرمايي: ﴿قُلۡ سِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَٱنظُرُواْ كَيۡفَ بَدَأَ ٱلۡخَلۡقَۚ ثُمَّ ٱللَّهُ يُنشِئُ ٱلنَّشۡأَةَ ٱلۡأٓخِرَةَۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ﴾(العنکبوت:۲۰)- ووايه (اې محمده! دوی ته) چې وګرځئ تاسې په ځمکه کې، پس وګورئ چې څرنګه شروع کړی ده پیدایښت(له نشتوالي څخه) بیا به الله پیداکړي پیدا کول وروستني هم(په آخرت کې په مثل د ړومبني پیدایښت په دنیا کې، ځکه چې) بېشکه الله پر هر شي باندې(چې اراده وفرمايي) ښه قادر دی.[کابلی تفسیر].

ډېرو تفاسیرو سیاحت او ګرځندویۍ ته خلک هڅولي دي او دا يې د ایمان د پیاوړتیا او د الله متعال ﷻ د قدرتونو د نښو د ترلاسه کولو او د پخوانیو خلکو له احوال څخه د خبرېدلو یوه غوره او عیني وسیله ګڼلې ده، چې یو له هغو څخه کابلی تفسیر دی چې په افغانستان کې ډېر لوستونکي او مینوال لري، په دې اړه لیکي چې: «د الله تعالی په ځمکه او ملکونو کې وګرځئ! او سترګې وغړوئ! چې الله تعالی څرنګه مخلوقات پیدا کړي دي؟ پر همدغو مخلوقاتو او موجوداتو هم هغه خپل بل ژوندون هم اټکل او قیاس کړئ! او پرې ښه وپوهېږئ! چې د هغه قدرت خو اوس نه دی محدود شوی، نو هم دغه الله تعالی تاسې دوهم ځلې هم پیدا کوي او بیا به سم له خپله حکمته او

مصلحته سره سزاء درکوي...»(۲:ص.۵۵۱) له داسې ليکنو او لارښوونو څخه مسلمانان سياحت او ګرځېدلو ته لا زيات هڅېږي چې د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه ليدنه وکړي او په دې لاره کې خپله زياته پانګه مصرف کړي.

همدارنګه په دې بل مبارک آيت کې هم الله متعالﷻ امر کوي چې: ﴿قُلۡ سِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَٱنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُجۡرِمِينَ﴾(النمل:٦٩)- ووايه (اې محمده! دوی ته) چې وګرځئ تاسې په ځمکه(د مکذبينو) کې، پس وګورئ چې څرنګه شو عاقبت(آخره خاتمه) د ګنهګارانو(کافرانو؟ او ترې عبرت واخلئ!).[کابلی تفسير].

دې ته ورته نور ډېر داسې آيتونه او اشارې په قرآن کريم، تفسيرونو او احاديثو کې شته چې له عقيدوي لحاظه مسلمانان سياحت او ګرځندويۍ ته هڅوي او مسلمانان د ثواب په نيت باندې هم دغسې سفرونه ترسره کوي. خپله د بيت الله شريف د حج او عمرې سفرونه، نبوي مسجد او مسجد الأقصی ته سفرونه د ګرځندويۍ غوره بېلګه ده چې مسلمانان په يواځې توګه يا کورنيو او دوستانو سره له لرې او نيږدې ځايونو څخه په هر ډول سورليو او پلي ډول ورځي، چې دغه ټول مسلمانان له عقيدوي لحاظه د ګرځندوی صنعت ته هڅوي.

همدارنګه د نړۍ ګوټ ګوټ ته د اسلام د مبارک دين رسول او خلک خير ښېګڼو ته رابللو په نيت سفرونه او ګرځېدل هم د ګرځندوی صنعت د ودې سبب کېږي لکه څنګه چې الله متعال فرمايي چې ﴿كُنتُمۡ خَيۡرَ أُمَّةٍ أُخۡرِجَتۡ لِلنَّاسِ تَأۡمُرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَتَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ﴾(آل عمران: ۱۱۰)- يئ تاسې(اې محمدي امته!) خير(بهتر د هر هغه) امت چې ايستلی شوی دی د پاره د خلقو چې حکم کوئ تاسې(هر چا ته) په معروف(نېکۍ) سره او منع کوئ تاسې(هرڅوک) له منکر(بدۍ) څنې.[کابلی تفسير].

همدغسې الله متعال فرمايي: ﴿ٱدۡعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِٱلۡحِكۡمَةِ وَٱلۡمَوۡعِظَةِ ٱلۡحَسَنَةِۖ وَجَٰدِلۡهُم بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُ﴾(النحل:۱۲۵)- بلنه کوه(اې محمده خلقو ته) لارې د رب خپل ته(چې توحيد او اسلام دی) په حکمت(د قرآن په محکمو خبرو) سره او په موعظه(پند) نېک سره(په ښه ډول) او مباحثه کوه له دوی سره په هغې(طريقې سره) چې هغه ډېره ښه وي.[کابلی تفسير].

همدارنگه ټولې نړۍ ته د اسلام دين رسول هم گرځېدل، سفرونه او ليدل کتل غواړي ﴿وَمَا عَلَيۡنَآ إِلَّا ٱلۡبَلَٰغُ ٱلۡمُبِينُ﴾(يس:۱۷)- او نشته پر مونږ مگر(پيغام) رسوونه ښکاره.[کابلی تفسير]. او رسول الله صلی الله عليه وسلم امر کوي چې: «**بَلِّغُوا عَنِّي وَلَوْ آيَةً**»(۳:ص.۱۲۷۵) يعنې ورسوئ له ما څخه ولو که يو آيت هم وي. چې دغه ټول دلايل او د دې اوامرو او مسؤوليتونو اداء کول گرځندوی او سفرونو ته اړتيا لري چې له عقيدوي لحاظه مسلمانان وربانديې مکلف شوي دي، نو په کار ده چې د رسنيو او نورو امکاناتو له لارې د توريزم د عقيدوي لامل په تحريکولو سره خلک د خپل هېواد د بېلابېلو ځايونو ليدلو او سفر کولو ته وهڅول شي، د رسنيو له لارې له عقيدوي پلوه د خلکو هڅونه ډېره اغېزناکه ده، چې په دې توگه د گرځندوی صنعت د پرمختيا په وسيله د هېواد هر اړخيزو پرمختگونو ته لاره هوارېږي.

### ۱-۱-۲- د توريزم فکري لامل

انسان له فکري لحاظه يو ډېر گرځندوی موجود دی، د هر ځای او خلکو په اړه چې څه واوري يا ووينې هلته د خپل فکر په وزرونو ورځي، په خپل ذهن کې يې راولي او کله ځان ور ولي او په اړه يې ډېر ذهني تصويرونه د فکر په نړۍ کې انځوروي. له همدې سببه يې هلته د فيزيکي ورتگ تلوسه هم په فکر کې گرځي را گرځي او د هر هغه ځای په اړه چې ډېر واوري، ورته وسايل شي او د امنيت د خونديتوب ډاډ ترلاسه کړي، نو کوښښ کوي چې د ځان

لپاره امکانات برابر کړي او هغه ځای ته یې چې زړه تللی وي پښې یې هم ورشي.

په کار ده چې د توریزم له فکري لامل څخه په مناسبه توګه- له بېلابېلو رسنیو، سپورټ، تورنمنټونو، نړیوالو سپورټي سیالیو، درسي بورسونو، ننداریتونونو، سوداګرۍ، کنفرانسونو، سیمینارونو، تاریخي آبداتو، طبیعي منظرو او داسې نورو امکاناتو په برابرولو او نړیوالو ته یې د رسنیو له لارې په انعکاس ورکولو او هغوی ته د امنیت په اړه ډاډ ورکولو سره- ګټه واخیستل شي.

## ۱-۱-۳- د توریزم علمي او استطلاعي لامل

انسانان تل دا خوښوي چې د نورو خلکو او ځایونو له حال او د ژوند کولو له طرز او پرمختګونو څخه خبر شي، په علم، معلوماتو او اطلاعاتو پسې سفر وکړي او خپلې سیمې ته نوي څه راوړي چې د هغوی علمي او معلوماتي کچه او د ژوند کولو سطحه پرې لوړه او خپل خلک سوکاله کړي. په اوس وخت کې رسنیو، خبري آژانسونو، استطلاعي او تحقیقاتي بنسټونو د انسانانو دغه تنده او تلوسه تر یو حده خړوب کړې، خو له بل لوري همدې رسنیو، د تحقیق اصولو او د معلوماتو او حقایقو د عیني کولو اصل بېرته سفر کولو او ګرځندوی ته لا زیاته اړتیا را منځته کړې او خلک یې له پخوا څخه لا زیات سفرونو او د هر ځای په خپلو سترګو لیدلو او په مستقیمه توګه د اول لاس معلوماتو ترلاسه کولو ته لېوال کړي دي چې د توریزم صنعت ته یې لا پراختیا ورکړې.

د رسنیو له لارې د افغانستان د بېلابېلو سیمو او مشاهیرو په اړه د علمي او استطلاعي اهمیت او ارزښت په جوتولو او انعکاس سره د کور دننه او بهرني سېلانیان را جذبېدلی شي چې دا د توریزم صنعت د پرمختیا او له دې لارې د هر اړخیزو ګټو او پرمختګونو لامل کېږي.

### ۱-۱-۴- د توریزم غریزوي لامل

خپله توریزم یوه ټولنیزه، فرهنګي او اقتصادي ښکارنده ده چې له مورني وطن څخه د خلکو وتلو او نوو ځایونو ته د مسافرت کولو درلودونکې ده.(۷:انټرنټ) په دغه مفهوم سره سفر کول د انسان یوه فطري غریزه جوړه شوې. همدارنګه د انسان خوښېږي چې له خپلې مېرمنې، بچیانو او دوستانو یا له خپلو ملګرو سره ښکلو، طبیعي او ښایسته ځایونو ته په سیاحت او سفر لاړ شي. د انسان له همدې غریزې څخه په ګټنه د رسنیو او تبلیغاتو له لارې باید کورني او بهرني سېلانیان خپل هېواد ته د سیاحت لپاره وهڅول شي او هغوی ته د خوندي او ښکلي چاپېریال ډاډ ورکړل شي.

### ۱-۱-۵- شهرت او حیرانتیا

شهرت او حیرانتیا د سېلانیانو د جذب سبب کېږي او د هغوی په زړونو کې طبیعي مینه راپاروي. د انسان دغه دروني مینه او حیرانتیا په بهر یا چاپېریال کې له ځینو مشهورو انسانانو یا شیانو او حیرانوونکو عجایبو سره اړیکه نیسي؛ چې په دې عنوان کې زموږ د بحث موضوع هماغه د انسان دروني مینې او حیرانتیا را پارولو څخه په استفادې د سېلانیانو را جذبول دي. رسنۍ هم مشهورو انسانانو، ځایونو، شیانو او د حیرانتیا وړ عجایبو ته په ډېره لېوالتیا سره کمپاین کوي او هغه تر خپل خبري پوښښ لاندې راولي او خلک هم د مشاهیرو او عجایبو په اړه خبرونو او معلوماتو ته ځانګړې لېوالتیا لري. شهرت او حیرانتیا د رسنیو په برخه کې خبري ارزښتونه هم ګڼل کېږي یعنې «هغه اشخاص، شیان او بنسټونه یا ځایونه چې شهرت ولري هغوی خبري ارزښت لري...رسنۍ عادي شیان تر خپل پوښښ لاندې نه راولي، بلکې مشاهیرو پسې روان وي او هغوی ورته ډېر خبري ارزښت لري.»(٦:ص.۱۲) همدارنګه عجیبه شیان او ځایونه چې خلک حیرانوي هغه رسنیو ته خبري ارزښت لري او خلک یې تعقیب او لیدلو ته لیوالتیا لري چې په دې برخه کې رسنۍ

اغېزناک رول لوبولی او سېلانیان د خپلو سیمو د عجایبو او حیرانوونکو شیانو په مینه کې زنګولی او جلبولی شي.

هغه ځایونه، انسانان، پېښې او ښکارندې چې نړیوال شهرت لري د هغو د لیدلو او هلته د سفر کولو لپاره خلک کوښښ کوي؛ یعنې شهرت د توریزم هڅوونکی لامل دی چې په افغانستان کې داسې ځایونه، انسانان او پېښې ډېرې دي چې هغه نړیوال شهرت لري او خلک حیرانوي، داسې شیان د خلکو طبیعي مینه را پاروي او لیدو ته یې لیوال کوي، لکه: پامیر د نړۍ بام، طاق ظفر، خیبر، میوند، توره بوړه، شمشاد، هندوکش، آمو، د کابل بالاحصار، زوړ ښار، باغ بابر، د بودا د ړنګو شوو مجسمو آثار، بند امیر، د غزني او هرات منارونه، تاریخي قلعې، مزار شریف، دشت لیلې، کندهار کې خرقه مبارکه او نور آثار، د جلال آباد او کابل د موزیمونو تاریخي آثار؛ لوړ او مشهور شخصیتونه لکه: مولانا جلال الدین بلخي، امام اعظم ابوحنیفه رح، ملاله پېغله، ناهید شهید، سید جمال الدین افغان، ابن سینا بلخي، فارابي، سنایي غزنوي، سلطان محمود غزنوي، میرویس نیکه، احمد شاه بابا، قاري برکت الله سلیم، ملا علي قاري، غوریان، لودیان، سوریان، هوتکیان، ابدالیان...او داسې نور ډېر اشخاص، پوهان، سلاطین، ځایونه او نړیوال لوبغاړي او ځوان استعدادونه مو په هېواد کې شته چې د هغوی له شهرت څخه په استفادې د خپل هېواد په لور د سېلانیانو سېلونه را مات کړو. چې په دې اړه رسنۍ ډېر اغېزناک رول لوبولی شي.

او همدارنګه د ځینو هغو د نړیوال شهرت ګټلو لپاره باید د حکومتونو، چارواکو او رسنیو له لارې کار وشي، چې د هغو په وسیله د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه سېلانیان را جذب شي. داسې نوي حیرانوونکی عجایب په ټولنه کې پیدا کړل شي او هغو ته درسنیو او نورو اداري او سیاسي ارګانونو له لوري نړیوال شهرت ورکړل شي، لکه دنړۍ تر ټولو لوړ انسان، تر ټولو ټیټ انسان، په یوه سیمه کې د شپږو غبرګونو زېږېدل، تر ټولو زړه قلعه، ښکلې سترګې،

ذکي انسان، لوړ غږ، ښه قاري، ښه نعت خوان، تر ټولو مترنم غږ یا طلایي حنجره، دیو ماشوم خارق العاده ذکاوت، د کال کتاب، د ورځې انځور، د کال انځور د پېړۍ انځور، تر ټولو قوي انسان، محلي لوبې، د حیواناتو په برخه کې عجایب، لکه د شپږو پښو زمرى، د درې سترګو اسپ، ځانګړي بازان، ځانګړي مرغان او داسې نور هغه عجایب چې د زمان مطابق ظهور کوي؛ که هغو ته د رسنیو له لارې نړیوال شهرت ورکړل شي، نو د سېلانیانو په را جذبولو کې خپل اغېزناک رول لوبوي چې په ځانګړې توګه تلویزیون او ټولنیزې رسنۍ په دې برخه کې ډېرې مهمې دندې او رسالت لري چې په ښه توګه سره د یوې منظمې ستراتېژۍ له مخې د خپلو مسلکي او معیاري خپرونو له لارې د ګرځندوی صنعت په وده او د ټولنې په پرمختګ کې اغېزناک او ګټور رول لوبولی شي.

**۱-۲- د توریزم بهرني لاملونه**

د توریزم بهرني لاملونه هغه دي چې له انسان څخه دباندې په چاپېریال کې وي او انسانان د سیاحت او ګرځېدو په لور هڅوي. په افغانستان کې د توریزم لپاره ډېر زیات بهرني یا چاپېریالي لاملونه شته چې کورني او بهرني سېلانیان د ځان په لور را جذبوي، دغه لاملونه په لاندې ډول په لنډ ډول پېژندل کېږي.

**۱-۲-۱- امنیت**

د سېلانیانو په راجذبولو کې امنیت یو ډېر مهم لامل دی، توریستان هغه ځای ته د سیاحت لپاره زړه ښه کوي چې امنیت یې خوندي وي. د توریزم په برخه کې د امنیت د اهمیت په اړه د شهرنو د چرګانو پلورلو کوڅې د زرګرۍ او قیمتي غمیو یو ۶۰ کلن هټیوال وویل: د سردار داود خان له وخت څخه را وروسته موږ اصلاً توریست نه لرو، ځکه د هېواد د امنیت په اړه توریستان ډاډ نه لري، دا کوم خارجیان چې دلته وو دا استعمارچیان وو چې د هېواد هر څه یې غلا کول او لوټل، په هېواد کې امنیت نه وو. نوموړي زیاته کړه چې اوس

چینایان په بازارونو کې ګرځي، خو هغوی توریستان نه دي، خرید نه کوي، په معدنونو پسې راغلي دي.(۸:مرکه) خو په همدې کوڅه کې د عتیقه توکو یو پلورونکي وویل چې: د جمهوریت په لومړیو کلونو کې چې امنیت ښه وو یوه اندازه سېلانیان لیدل کېدل او څه نا څه خرید به یې کاوه، خو وروسته چې انفجارونه شول او امنیت خراب شو بیا تورستان هم له دې هېواده والوتل، خو اوس د اسلامي امارت له راتګ او د امنیت له ښه کېدلو سره خال خال توریستان بیا هم لیدل کېږي څه نا څه یو شی اخلي چې دا د هېواد او خلکو په اقتصاد ښه اغېز کوي. نوموړي زیاته کړه چې اوس امنیت ښه شوی او چینایان زیات ګرځي راګرځي خو هغوی چندان خرید نه کوي، یواځې سیل کوي.(۱۰:مرکه) خو په اوس وخت کې د افغانستان د ښه امنیت په اړه سېلانیانو ته ډاډ ورکول او اغېزناک تبلیغات په کار دي.

له دې مرکو څخه څرګندېږي چې په افغانستان کې د اسلامي امارت له واکمنېدو سره د توریزم صنعت د پرمختیا لپاره د امنیت لامل ښه لور ته روان او خوندي شوی دی او کورني او بهرني سېلانیان په ډاډه زړه سره د هېواد ګوټ ګوټ ته شپه او ورځ تګ راتګ کولی شي، موږ په خپله له خپلې کورنۍ او کله له ځینو نیږدې دوستانو سره د هېواد یو شمېر ولایتونو ته په ډاډه زړه سفرونه کړي چې د امنیتي ځواکونو له لوري موږ سره ډېره ښه رویه شوې، خو په دوو وروستیو کلونو کې ځینو ځایونو ته د مېرمنو د نه پرېښودلو له امله ماشومانو ته یو ډول رواني نارامتیا پیدا کېدله چې هیله ده د توریزم پر وړاندې د دې ستونزې په حل کې مناسبې حل لارې پیدا کړل شي.

په سفرونو او سیاحت کې د ښه اقتصاد او امنیت شتون ډېر اړین دی چې الله متعال ﷻ یې هم په اړه فرمایي: ﴿لِإِيلَٰفِ قُرَيۡشٍ ١ إِۦلَٰفِهِمۡ رِحۡلَةَ ٱلشِّتَآءِ وَٱلصَّيۡفِ ٢ فَلۡيَعۡبُدُواْ رَبَّ هَٰذَا ٱلۡبَيۡتِ ٣ ٱلَّذِيٓ أَطۡعَمَهُم مِّن جُوعٖ وَءَامَنَهُم مِّنۡ خَوۡفِۭ ٤﴾(قریش:۱-۴)- له جهته د انس او الفت د قریشو یو له بل سره، له جهته د انس او الفت د دوی په سفر د

ژمي(کې یمن ته) او(په سفر د) د اوړي(کې شام ته هر کال)، نو ښايي چې بندګي وکړي دوی رب د دې کوټې(کعبې) ته هغه(رب) چې طعام خواړه یې ورکړي دي دوی ته په لوږې کې او امن یې ورکړی دی دوی ته له خوف وېرې څخه.[کابلی تفسیر].

په دې سورت کې د سیاحت او سفرونو د پرمختیا په برخه کې د لوړو انساني اخلاقو او ښې تغذیې د اهمیت تر څنګ د امنیت د خوندیتوب او ډاډ لپاره ډېر زیات تأکید شوی دی. که هر مسلمان او اسلامي نظام د ګرځندوی او د سېلانیانو د رواني او جسمي امنیت د خوندیتوب په برخه کې ځانګړې واقعي پاملرنه ولري او د رسنیو له لوري همدغسې ډاډمنه او خوندي فضا او د هغوی اړتیاوو ته پاملرنه منعکسه شي، هرو مرو د ګرځندوی صنعت په پراختیا او له دې لارې د ټولنې پرمختګ ته لاره هوارېږي.

## ۱-۲-۲- غوره اقلیم او طبیعي منظرې

د ګرځندویۍ صنعت په وده او د سېلانیانو په جذبولو کې د یوې سیمې ښه آب او هوا او د طبیعت ښکلا او ښایسته منظرې، غرونه، دښتې، شنې سیمې، سیندونه، کاریزونه، ځنګلونه، رنګارنګ حیوانات، مرغان، تفریحي پارکونه، نظافت، ښاري نظم او ډاډمن چاپېریال ډېرې اغېزې لري.

د یوې سیمې غوره طبیعي خصوصیتونو ته د توریزم د صنعت څېړونکو د طبیعي توان یا جاذبې نوم ایښی چې یو ځای نسبت نورو ځایونو ته طبیعي ځانګړتیاوې او ستراتیژیک موقعیت ولري هلته ډېر سېلانیان ور جذبېږي، لکه استوایي منطقې، ډېر لوړ ځایونه، ډېر ژور ځایونه او داسې نور عجایب چې هغه موقعیت نسبت نورو ته متمایز کړي د سېلانیانو د راجبولو لوړه توانایي لري.(۷:انټرنټ) چې الحمدلله په افغانستان کې دغسې طبیعي توان، غوره اقلیم، د څلورو فصلونو ښکلا، سیندونه، غرونه رغونه او طبیعي منظرې پرېمانه دي چې رسنۍ یې نړیوالو ته د ورپېژندلو او مشهورولو دنده پر غاړه لري، خو د

تفریحي پارکونو او نظافت په برخه کې د اړوندو ادارو له لوري لا زیاته دوامداره پاملرنه په کار ده.

## ۱-۲-۳- تاریخي آثار او عجایب

په هره اندازه چې په یو هېواد کې تاریخي آثار او د سترو تمدنونو اړوند ځایونه، ښارونه، عجایب، موزیمونه، ژوبڼونه او داسې نور تاریخي آبدات او عجیبه ځایونه زیات وي په هماغه اندازه زیات سېلانیان را جذبېږي.

افغانستان د تاریخي آثارو او عجایبو له کبله یو بډای هېواد دی او ډېر سېلانیان را جذبولی شي، خو په کار دی چې ښه کمپاین ورته وشي. د دې جغرافیې پخواني نومونه چې: په منځنیو پېړیو کې خراسان، په پخوانیو پېړیو کې آریانا او له هغې وړاندې پېړیو کې د باختر یا باختري په نوم یادېده (۹:ص.۷۳) او هغه تمدنونه چې په دې جغرافیه کې تېر شوي له خپلو اړوندو آثارو سره په ملي او نړیواله کچه معرفي او مشهور شي، په افغانستان کې د درې امپراتوریو د ماتې په اړه واقعي موزیمونه، له هغوی څخه پاتې شوي وران ویجاړ جنګي آثار، د هغوی د بمباریو او ظلمونو ځینې فیزیکي آثار او کورونه ساتل او د هغو تاریخچه او د ویجاړولو قصه، د دښمنانو پر وړاندې د مشهورو مورچلو ساتل او د هغو تاریخ لیکل، لکه د پغمان، هندوکش، شمشاد، جلرېز توري بوړې او داسې نور مورچلونه، په هغه سیمه چې د بمونو مور استعمال شوې هماغسې ساتل او هلته یو لوی موزیم جوړول، په متمایزو توریستیکي ځایونو کې د شوروي اتحاد او امریکایي اشغال پر وړاندې د بریالیتوب څلي جوړول، د خپلو پخوانیو تاریخي څلو او آبداتو مرمت او ساتل او دې ته ورته د توریزم صنعت د ودې په اړه نور اړین ګامونه اخیستل ددې سبب کېږي چې ګڼ شمېر سېلانیان به له خپلو پرېمانه پانګو او پانګونو سره د هېواد په لور را مات کړل شي، چې رسنۍ په دې برخه کې اغېزناک رول لوبولی شي.

### ۱-۲-۴- د خلکو له لوري غوره رويه او احترام

د هغه هېواد خلک چې د توريزم فرهنګ باندې سمبال او له مېلمنو سره د اکرام، حترام او مېلمه پالنې له دودونو سره سم رويه کوي، همدا په خپله د يو هېواد لپاره ډېره لويه معنوي پانګه او لوړ اعتماد دی چې مادي پانګې په خپله ځانته را جذبوي، د سېلانيانو زړونه ښکاروي او هغوی له ځان سره ډېرې خوږې خاطرې بهرنۍ نړۍ ته وړي او په دې توګه ډېر نور سېلانيان را جذبېږي. د ښهرنو د چرګانو پلورلو کوڅې د عتيقه توکو يو پلورونکي وويل چې: د سېلانيانو لپاره مناسب چاپېريال جوړول ډېر اړين دي، دلته موږ ډېر وخت وينو چې سېلانيان د ځينو سوالګرانو له لوري ډېر ځورول کېږي، پيسې او نور شيان ترې غواړي حتی له لاس او جامو څخه يې نيسي او ډېر يې په تنګ کړي.(۱۰:مرکه) چې دا د سېلانيانو لپاره ځوروونکی حالت وي چې بايد د چارواکو له لوري يې مخه ونيول شي او له هغوی څخه سوال و نه شي، بلکې په سوداګريز هنر، اکرام او احترام سره يو څه پرې وپلورل شي.

له سېلانيانو سره د ښې رويې او احترام په اړه اړينه ده چې هټيوالو، سوداګرو، ګرځنده پلورونکو، هوټليانو، رسټورانټونو، او عام ولس ته د رسنيو، منابرو، اتحاديو، چارواکو او مشرانو له لوري مناسب پيغامونه او پروګرامونه جوړ او خپاره شي؛ چې ټول هېوادوال مو د لوړو اخلاقو، مېلمه پالنې او احترام په غوره فرهنګ ښکلي اوسي.

### ۲- پر افغانستان د توريزم اغېزې

د توريزم صنعت د ودې، پراختيا او پرمختيا سره پر افغانستان باندې ډېرې مثبتې اغېزې ليدل کېږي چې په دې برخه کې لا زياته پاملرنه په بېلابېلو ډګرونو کې دغه لاسته راوړنې او اغېزې لا زياتولی شي. په لاندې عنوانونو کې پر افغانستان د توريزم اغېزې څېړل کېږي.

## ۲-۱- د توريزم اقتصادي اغېزې

له توريزم څخه يو مهم هدف يوې ټولنې ته له ټولې نړۍ څخه د اقتصادي گټو او پانگو را جذبول دي. په هره اندازه چې يو هېواد يا سيمه زيات سېلانيان را جذب کړی شي په هماغه اندازه زياتې اقتصادي گټې د ځان په لور را جذبولی شي، که موږ د هند او مصر هېوادونه په نظر کې ونيسو، نو له ټولې نړۍ څخه په خپلو تاريخي آثارو او عجايبو زيات سېلانيان د ځان په لور جذبوي، له دې لارې زيات عوايد تر لاسه کوي او اقتصادي کچه يې پرې لوړېږي.

د توريزم د اقتصادي اغېزو په اړه پوهندوی محمد رحيم خاکسار په يوه مقاله کې پر دې تأکيد کړی چې د توريزم پراختيا کولای شي چې د بېلابېلو هېوادونو په سياسي، اقتصادي او ټولنيز وضعيت کې مثبت بدلون رامنځته کړي او له دې لارې زيات عوايد او بوختياوې ترلاسه کړای شي. اوس مهال د نړۍ زياتره هېوادونه په دې بريالي شوي چې د توريزم له لارې خپل اقتصادي وضعيت ښه کړي او پر خپلو اقتصادي ستونزو لاسبرى ومومي.(۵:ص.۱۴۹)

## ۲-۲- د توريزم سياسي اغېزې

توريزم د ټولنې په سياسي ډگر کې د پام وړ اغېزې لري، هېوادونه سره نږدې کوي، کوم سياسيون چې مخکې يا د خپل سياسي موقف په جريان کې کوم هېواد ته په سياحت تللي وي، له هغې خاورې او خلکو سره طبيعي بشري خواخوږي پيدا کوي، هلته يې چې هر څومره اکرام او مېلمه پالنه شوې وي په هماغه تناسب له هغو خلکو او هېواده متأثر کېږي او يو سياسي مقام ته د رسېدو په صورت کې بيا د هغه هېواد او خلکو په اړه نرم او د همدردۍ دريځ نيسي. له ملي تلويزيون سره د يوې مرکې په ترڅ کې د سياسي چارو شنونکي محمد ياسين حبيب هم په سياسي ډگر باندې د توريزم په مثبت اغېز باندې تأکيد وکړ او د توريزم صنعت يې د اسلامي امارت د رسميت پېژندلو په برخه کې هم اغېزناک وباله او د لا ودې لپاره يې د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت او

رسنیو ته وړاندیز وکړ چې په دې برخه کې مناسب تبلیغات وکړي، سېلانیانو ته د امنیت او ښو امکاناتو ډاډ ورکړي، د هېواد په سیاحتي ځایونو کې مناسب هوټلونه او پارکونه جوړ شي او د تاریخي آبداتو په ساتنه او معرفي کې لازم اقدامات وشي، تر څو د نړۍ له گوټ گوټ څخه یوه زیاته اندازه سېلانیان را جلب شي.(۴:ملي تلویزیون)

د توریزم د سیاسي اغېزو په اړه پوهندوی محمد رحیم خاکسار په خپلې علمي-څېړنیزې مقالې کې پر دې تأکید کړی چې د توریزم پراختیا کولای شي چې د بېلابېلو هېوادونو په سیاسي وضعیت کې مثبت بدلون رامنځته کړي له همدې امله د نړۍ زیاتره هېوادونه د توریزم له سیاسي ښېگڼو او مزایاوو څخه خوند اخلي او خپلو سیاسي موخو ته ځانونه رسوي. اوس مهال توریزم په نړۍ کې زیاته پراختیا موندلې او د نړۍ زیاتره هېوادونه په دې بریالي شوي چې د توریزم له لارې خپل سیاسي وضعیت ښه کړي او پر خپلو سیاسي ستونزو لاسبرى ومومي.(۵:ص.۱۴۹) چې په دې برخه کې د اطلاعاتو، فرهنگ او گرځندوی وزارت او د هېواد رسنۍ مهم رسالت په غاړه لري چې داسې یوه ستراتېژي ولري چې له عمومي پالیسۍ سره یې په همغږۍ پلې او د توریزم صنعت له لارې د هېواد د سیاسي ثبات اهداف متحقق کړي.

## ۲-۳- د توریزم علمي- فرهنگي گټې او اغېزې

توریزم د ټولنې د علمي-فرهنگي برخو په وده او پرمختیا کې اغېزناک رول لري، ځکه د هېوادونو او ملتونو تر منځ تگ را تگ او پېژندگلوي زیاتېږي، یو د بل ژبې زده کوي، د تفاهم کچه لوړېږي، له علمي او فرهنگي لاسته راوړنو څخه ژر خبربدلی شي، د هغو ژباړه او انتقال کې له خپلو شرایطو سره سم ژر اقدام کېږي، د بشري ټولنې تر منځ گډ ارزښتونه، بازارونه، فکرونه او اهداف را منځته کېږي، گټې او تاوانونه یې سره نږدې کېږي او ورځ تر بلې د بشري ټولنې تر منځ علمي-فرهنگي مشترکات زیاتېږي چې په پایله کې یې د بشري

ټولنې علمي-فرهنګي کچه وده کوي او ټولنه د هر اړخیز پرمختګ په لور روانېږي.

هر هغه هېواد چې په دې برخه کې سرلارى وي او مناسب او پر وخت اقدامات، امکانات او سهولتونه را منځته کړي او مناسب پلان او ستراتېژۍ ورته ولري چې له هغې سره سم پر مخ ولاړ شي هغه به پر نورو باندې ډېرې علمي-فرهنګي اغېزې ولري او خپله به هم د نړۍ له علمي-فرهنګي پرمختګونو څخه مناسب او پر وخت استفاده کولای وشي چې د ټولنې په هر اړخیز پرمختګ به ښه اغېز ولري.

پوهندوى خاکسار لیکي چې: د نړۍ زیاتره هېوادونه د توریزم فرهنګي ښېګڼو او مزایاوو څخه خوند اخلي او له دې لارې زیات عواید او بوختیاوې ترلاسه کوي.(۵:ص.۱۴۹) چې په دې برخه کې هم رسنۍ مهمې دندې او رسالت لري چې په ښه توګه يې د يو منظم پلان په رڼا کې ترسره کول د هېواد په علمي-فرهنګي ودې او پر نورو ټولنو باندې د مثبتو اغېزو لامل کېږي.

## ۲-۴- د توریزم دعوتي اغېزې

د توریزم صنعت څخه که په پلاني او ستراتیژیکه توګه استفاده وشي، نو په بشري ټولنه سترې دعوتي اغېزې لرلی شي، که مسلمانان نورو هېوادونو ته په سیاحت ځي او یا له نورو هېوادونو څخه اسلامي هېوادونو ته خلک په سیاحت راځي او د مسلمانانو کړه وړه، نېک اخلاق، مېلمه پالنه، اکرام، شفقت، عدالت، امانتداري، صداقت، انصاف، حرام مال نه خوړول، په اخیستلو او خرڅولو کې غش نه کول، دروغ نه ویل، تهمت نه کول او داسې نورو دیني ارزښتونو مراعاتول؛ د دې سبب کېږي چې د نورو ادیانو پیروان یا بې دینه او مشرکین د مسلمانانو له نېکو اعمالو او لوړو ارزښتونو څخه متأثر شي او د اسلام مبارک دین ته يې زړه پرانیستل شي. همدارنګه د آذان آواز او د قرآن کریم تلاوت او د لمانځه حرکات او د جماعت لمونځ او لوړ اسلامي آداب او

ارزښتونه د دې سبب کېږي چې د اسلام مبارک دین ته په عملي توګه دعوت وشي او هغوی ته په مستقیمه او غیر مستقیمه توګه اسلامي دعوت ورسېږي او د اسلام مبارک دین په ټوله نړۍ کې خپور شي. پوهندوی خاکسار هم دغه مفکوره تأییدوي چې: توریزم د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي پراختیا تر څنګ د اسلام مبارک دین د خپراوي مهم لامل هم دی او د هرې ورځې په تېرېدو سره یې هر اړخیز ارزښت زیاتېږي.(۵:ص.۱۴۹) چې رسنۍ په دې برخه کې ډېر اغېزناک رسالت ترسره کولی شي، نړیوالو ته د اسلامي شریعت او افغاني فرهنګ لوړ ارزښتونه رسولای او له دې لارې هغوی د خپل هېواد په لور سیاحت ته را جذبولای شي.

## ۲-۵- د توریزم ټولنیزې اغېزې

د توریزم پرمختیا کولای شي چې د بېلابېلو هېوادونو په ټولنیز وضعیت کې مثبت بدلون رامنځته کړي؛ له همدې امله د نړۍ زیاتره هېوادونه د توریزم په برخه کې زیاته پانګونه کوي، د توریزم په وسیله بشري ټولنه یو د بل د ژوند له حاله ژر خبرېدلی شي د هغوی پرمختګونه او د ټولنیز ژوند سوکالۍ په خپلو سترګو ویني او په پایله کې یې د خپلې ټولنې ستونزې ښې درک کولی او د هغو حل لارې پیدا کولی شي، خپل هېواد ته هر اړخیز پرمختګونه او د نورو هېوادونو تجربې را انتقالولی شي.

اوس مهال توریزم په نړۍ کې زیاته پراختیا موندلې او د نړۍ زیاتره هېوادونه په دې بریالي شوي چې د توریزم له لارې خپل ټولنیز وضعیت ښه کړي او پر خپلو ټولنیزو ستونزو لاسبرى ومومي.(۵:ص.۱۴۹) چې په پایله کې یې ټولنیز ژوند په هره برخه کې پرمختګ مومي. رسنۍ د خپلو بېلابېلو اطلاعاتي، تحلیلي، هنري او ادبي معیاري پروګرامونو د خپرولو له لارې د ګرځندوی صنعت ته لا وده ورکولای او د ټولنیز پرمختګ د بهیر د لا چټکتیا سبب کېدلای شي.

### ۳- د توریزم صنعت د پرمختیا په اړه د رسنیو دندې

رسنۍ د توریزم صنعت د پرمختیا په اړه ډېرې مهمې دندې په غاړه لري، رسنۍ کولای شي چې د توریزم صنعت د پرمختیا لپاره منظم پلان او له هغې سره سم اغېزناک پروګرامونه ولري. د رسنیو له دندو څخه ده چې باید د ګرځندوی صنعت د پرمختیا په موخه د توریزم او سیاحت په اړه د انسان دروني او بېروني هڅونکي عوامل او ځانګړنې ښې درک او د هغو په تحریک سره په هېواد کې د کورنیو او بهرنیو سېلانیانو څپې را ماتې کړي. رسنۍ کولای شي په خپلو ارزښتونو کې د توریزم صنعت د پرمختیا ارزښت هم په پام کې وساتي، هر هغه تصویر، فلم، پیغام او پروګرام چې په هېواد کې د توریزم صنعت ته رشد ورکوي او د سېلانیانو په را جذبولو کې اغېزناک وي هغه ته لوړ خبري ارزښت ورکړل شي او دغسې مطالب تل د رسنیو له لوري تر زیات پوښښ لاندې راوستل شي. د خپل هېواد مشاهیر، عجایب، تاریخي آثار، ښکلې منظرې او ښکلاوې خپرې او په ځانګړې توګه د تلویزیوني چینلونو او ټولنیزو رسنیو له لارې په دې برخه کې زیاته پاملرنه وشي، ځکه چې هغوی په مستقیمه توګه د انسانانو سترګې او غوږونه د خپلو پیغامونو او پروګرامونو تر اغېز لاندې راوستلای شي.

**پایله**

د ګرځندوی صنعت څخه په ښه توګه د یو منظم پلان او ستراتېژۍ له مخې د اسلامي شریعت او افغاني فرهنګ په پام کې نیولو سره استفاده کول د ټولنې د هر اړخیز پرمختګ سبب کېږي، رسنۍ په دې برخه کې ډېر اغېزناک رول لوبولای شي چې په ښه توګه ترې استفاده کول او د ګرځندوی صنعت پرمختیا اړوند پیغامونو او پروګرامونو ته ارزښت ورکول د ګرځندویۍ صنعت ته لا وده او پرمختیا ورکوي. رسنۍ د ګرځندوی صنعت د دروني او بهرنیو عواملو د هڅولو، تبلیغ او تشهیر دندې لري چې د یو منظم پلان له مخې یې د خپلو پروګرامونو له لارې ترسره کړي، په ځانګړې توګه تلویزیون او ټولنیزې رسنۍ په

دغه برخه کې ډېرې اغېزناکې دي چې د ښې ګټې اخیستنې په صورت کې د توریزم صنعت لا زیاتې پرمختیا ته لاره هوارولای شي.

افغانستان د توریزم صنعت د پرمختیا لپاره پرېمانه هڅوونکي عوامل لري چې د ښې استفادې په صورت کې پر افغاني ټولنه هر اړخیزې مثبتې اغېزې لرلای شي، خو په ځانګړې توګه د هېواد د اقتصادي، سیاسي او علمي پرمختیا په برخه کې لوړ اغېز لري او د اسلام د مبارک دین په خپراوي کې هم خپلې مثبتې اغېزې څرګندوي.

**وړاندیزونه**

۱. امنیتي سکتور دې د سېلانیانو د امنیت په اړه کوټلي ګامونه واخلي او د اطلاعاتو، فرهنګ او ګرځندوی وزارت او رسنۍ دې سېلانیانو ته د امنیت او نورو سهولتونو د ډاډ په اړه پیغامونه او پروګرامونه خپاره کړي.

۲. ټولو رسنیو او د ټولنیزو رسنیو فعالانو ته وړاندیز کېږي چې د توریزم صنعت د یو ارزښت په توګه ومني او د دې صنعت هڅونکي دروني او بهرني عوامل ښه وپېژني، د خپل هېواد په لور د هغو په تحریک کې د مناسبې ستراتېژۍ له مخې منظمې خپرونې ولري او زیاته اندازه سېلانیان د خپل هېواد په لور را مات کړي.

۳. د اطلاعاتو، فرهنګ او ګرځندوی وزارت، ښار او کور جوړولو وزارت، ښاروالۍ او نورې اړوندې ادارې دې په همغږۍ سره د هېواد د تاریخي آبداتو، تاریخي ښارونو رغونه او ساتنه وکړي او د سېلانیانو لپاره دې مناسب سهولتونه، پارکونه، هوټلونه او په ځانګړې توګه د کورنیو لپاره دې ډاډمن چاپېریال رامنځته کړي.

۴. د اطلاعاتو، فرهنګ او ګرځندوی وزارت او ښاروالیو ته وړاندیز دی چې د تفریحي پارکونو جوړولو او نظافت په اړه لا زیاته دوامداره پاملرنه وکړي.

۵. ټولګټو وزارت ته وړاندیز کېږي چې لویې لارې په ښه توګه جوړې، دواړه طرفه یې شنې او ترافیکي خوندیتوب ته یې پاملرنه وکړي.

## مأخذونه


۱- قرآن کریم

۲- قران کریم ترجمه او تفسیر په پښتو ژبه کښې، د سعودي عرب پادشاه او د حرمینو شریفینو خادم شاه فهد بن عبدالعزیز آل سعود په امر چاپ او اهداء شوی، دویم ټوك، د حرمینو شریفینو د خادم پادشاه فهد د قران کریم د طباعت چاپ خانه: سعودي عربستان.

۳- البخاري، محمد بن إسماعيل أبو عبدالله. الجامع الصحيح المختصر، تحقيق: د. مصطفى ديب البغا أستاذ الحديث وعلومه في كلية الشريعة بجامعة دمشق، الطبعة الثالثة، الجزء الثالث، دار ابن كثير: اليمامة – بيروت، ١٤٠٧ = ١٩٨٧م.

۴- حبیب، محمد یاسین.«د هېواد د سیاسي ثبات لارې چارې» ملي تلویزیون، د ماسپښین دولس بجو خبري سرویس په ترڅ کې مرکه، دوشنبه، ۱۴۰۳/۸/۷هـ ل.

۵- خاکسار، محمد رحیم. «د توریزم سیاسي اغېزې» آریانا علمي-څېړنیزه مجله، د افغانستان د علومو اکاډمۍ د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست: پنځمه دوره، پرله پسې ۴۴۸-۴۴۹ ګڼه، ۱۴۰۲هـ ل کال، لومړۍ او دوهمه ګڼه، کابل.

٦- شکرخواه، یونس. خبر، چاپ نهم، وزارت فرهنگ و ارشاد اسلامی ایران- مرکز مطالعات و تحقیقات رسانه ها: تهران، ۱۳۸۵هـ ش.

۷- سایت پارس مدیر. «عوامل مؤثر بر توسعهٔ گردشگری» https://parsmodir.com/tourism/tourism-development.php تاریخ نشر: ۱۳۹۷/۷/۲۱هـ ش، [مراجعه:۱۴۰۳/۸/۹هـ.ش.].

۸- عثمانی، حاجی عثمان. «په توریزم کې د امنیت ارزښت» شهر نو کې د زرګرۍ هټیوال، ٦٠ کلن، مرکیال: محمد داود ناظم، کابل، چهارشنبه ۱۴۰۳/۸/۹هـ ل.

۹- کهزاد، احمد علی. «افغانستان؛ تاریخ قدیم الی آغاز دورۀ اسلام» مجموعۀ مقالات علامه احمد علی کهزاد منتخب از آریانا دائرۀ المعارف دورۀ اول (۱۳۲۸-۱۳٤۸)، مدون: ثریا پوپل، ریاست اطلاعات و ارتباط عامۀ اکادمی علوم افغانستان: دیزاین و اهتمام: محمد مجتبی همایون، ۱۳۹۷هـ ش.

۱۰- ولی زاده، عنایت الله. «د توریزم ارزښت او د توریستانو امنیت» شهر نو کې د عتیقه آثارو هټیوال، ۳۷ کلن، مرکیال: محمد داود ناظم، کابل، چهارشنبه ۱۴۰۳/۸/۹هـ ل.

څېړنوال مفتي محمد نبي "الميداني"

# په افغاني فرهنګ د غربي او پردي پالو رسنيو يرغل

**ملخص البحث**

إن معرفة الثقافة، وإشاعتها، وتطبيقها والتحقيق حولها لها أهمية كبيرة، هذا البحث يهدف إلى التوعية العامة حول حرب وسائل الإعلام الأجنبية ضد ثقافتنا. وأجرى دراسة هذالموضوع وفق المنهج التحليلي والتوصيفي. وجود الإعلام بدأ مع وجود البشرية، والإعلام على نوعين: المطبوع والإلكتروني، وفي هذا العصر النوع الإلكتروني هو الغالب، ويستعمل كوسيلة مهمة، ولها آثار مباشرة على الحياة الاجتماعية، وتتأثر بها. بما أن اليهود قابضون على أكثر وسائل الإعلام حول العالم، فهم مع حربهم الميدانية يحاربون ثقافتنا، وكانوا ينشرون المسلسلات المضلة، والفحشاء، والعري، والثقافة الأجنبية وغير ذلك من الأمور المردودة في القنوات الفضائية، وفي النهاية جرحوا ثقافتنا العزيزة، وصارت أفكار كثير من أفراد مجتمعنا أجنبية، في النهاية يحتوي هذا البحث على النتائج والاقتراحات.

**د څېړنې لنډيز**

د خپل فرهنګ پېژندل، ترويج، پرې عمل او په اړه يې څېړنه خورا زيات ارزښت لري. دا څېړنه د عامه پوهاوي په موخه، زموږ پر فرهنګ د پردي پالو غربي رسنيو د يرغل پر موضوع د تحليلي او توصيفي ميتود پر مټ څېړل شوې. د رسنيو پيل د بشريت له پيل سره تړلی دی، رسنۍ چاپي او برېښنايي

بنه لري چې په اوسني دور کې يې برېښنايي بڼه غالبه او د يوې مهمې وسيلې په توګه کارول کيږي چې د خلکو په ټولنيز ژوند مستقيمې اغېزې لري او ترې متأثره کيږي. دا چې د نړۍ په ګڼ شمېر رسنيو يهود قبضه لري، نو ځکه يې له فزيکي يرغل سره زموږ په فرهنګ هم يرغل کړی و چې په ډېری رسنيو کې يې بې لارې کوونکي سريالونه، بد اخلاقي، عياشي، نا مناسب لباس، پردی فرهنګ او ګڼې نورې ناخوالې خپرولې، په پايله کې يې زموږ معزز فرهنګ مجروح او د ټولنې د ډېرو وګړو ذهنيت يې پردی کړ. دا څېړنه په پايله او وړانديزونو پای ته رسېږي.

بسم الله الرحمن الرحيم

**سريزه**

الحمد لله رب العٰلمين، والصلوٰة والسلام على سيدالمرسلين، وعلى آله وأصحابه أجمعين، وبعد:

کله چې په ۲۰۰۱ ميلادي کال، نړيوالو اشغالګرو د امريکې په مشرۍ د افغانستان پر جغرافيه او وګړو يرغل وکړ، نو د خپلو مخالفينو د نفوذ د مخنيوي لپاره يې له مختلفو لارو کار واخيست، چې فزيکي جګړه کې يې له پرمختللو وسايلو او په فکري او فرهنګي ډګر کې يې د خپلو شومو فکري ملګرو په مټ، پر رسنيز ډګر کې د رسنيو او اطلاعاتو انفجار وکړ، لوېديځ سفارتونو او نورو نړيوالو مؤسساتو په سلګونو صوتي، انځوريزې او چاپي رسنۍ ايجاد کړې او د افغان ملت د فکري بدلون په موخه يې ميليونونه ډالر مصرف کړل.

د غربي ښکېلاک له محاربوي يرغل سره سم، په افغان اولس د فکري بريدونو پراخې کلتوري، مذهبي او ګڼې نورې بېلارې کوونکې څپې هم خپرې شوې، چې د ناولې ډيموکراسۍ تږو يې په خورا ورين تندي هرکلی وکړ. د دغو ککړو او ناولو غربي دودونو د رايجولو په موخه، غرب ته تر بل هرڅه

تبليغاتي لار اسانه او ګټوره وه، ځکه خو يې يو شمېر رسنۍ په پراخو ډالري مرستو د خپل افغاني وياړمن کلتور او با ننګه ارزښتونو په وړاندې معنوي زبېښاک ته چمتو کړې. هو! شل کلن وحشيانه او ظالمانه اشغال د انساني تلفاتو او مادي خساراتو تر څنګ، زموږ ملي کلتور او ارزښتونه د استخدام شويو رسنيو او کرايه شويو مېډيايي کاروباريانو په وسيله سخت زيانمن او متضرر کړل. بهرني اشغالګرو د خپل شل کلن ناولي وجود په دوران کې، د افغاني ثقافت او کلتور له منځه وړلو لپاره پرېمانه پانګونه وکړه، د سل هاوو راډيو ګانو، ټلويزيوني شبکو، اخبارونو، مجلو او د مدني ټولنو تر نامه لاندې د غربي کلتور د ترويج مرکزونه تأسيس کړل او همداراز يې د انټرنيټي پاڼو په جوړولو هڅه وکړه، تر څو افغاني ټولنه له خپل کلتور نه جدا او د غربي کلتور تقليد ته وهڅوي، ځکه د يوه ملت غلام کول يوازې په هغه صورت کې ممکن دي، چې له خپل ملي او اسلامي کلتور نه خالي او په ځای يې استعماري او استثماري کلتور ترويج.

د تېرو شلو کلونو په بهير کې ډېرې رامنځته شوې رسنۍ که څه هم ځانونه يې آزاد او خپلواک ګڼل، خو په حقيقت کې اکثريت د کفر خادمان او غلامان و او د مسلمانانو اذهان يې مشوش کول، يعنې د اسلام په اړه يې ورته شکونه پيدا کول او کوښښ يې کاوه چې مسلمانان له خپل افغاني او اسلامي فرهنګ څخه بېګانه کړي. دغه ډول رسنيو له شلو کالو را په دې خوا، په اسلامي ټولنو کې د امريکې او د هغوی د پلويانو لپاره ښه خدمت تر سره کړ او بيا يې په ډېره سپين سترګۍ سره ادعا کوله، چې ګواکې دوی آزاد او خپلواک دي او په اسلامي نړۍ کې د مسلمانانو رسنيزه آزادي تأمينوي، خو په حقيقت کې همدغسي رسنۍ د مسلمانانو ترمنځ د نفاق او بې اتفاقيو خپروونکې وې.

**بنسټيز ويونه:** افغان، غرب، فرهنګ، رسنۍ او يرغل.

## د څېړنې ارزښت

پرله پسې څو لسيزې مو په ګران هېواد کفري يرغلونه وشول چې په پايله کې يې دلته لسګونه کفري عناصر او د نفاق تخمونه وکرل؛ افغاني او اسلامي فرهنګ/ کلتور، اخلاق او عادات، اقتصادي او نور نظامونه يې زهرجن کړل، په ځانګړې ډول تېر شل کلن امريکايي يرغل بيا په دې برخه کې ډېر کار وکړ؛ لسګونه داسې رسنۍ يې رامنځته کړې چې شپه او ورځ به يې پر افغاني او اسلامي فرهنګ ملنډې وهلې او د نوي نسل په ذهن کې يې د پردي فرهنګ د ترويج هڅه کوله، دا چې مسلمان بيا هر افغان ته خپل فرهنګ او کلتور ډېر ارزښت لري؛ ځکه چې ديني صبغه لري نو ډېره اړينه ده چې په اړه يې څېړنې وشي څو هر وګړی خپل فرهنګ ته ژمن او خپل اولادونه له پرديو فرهنګونو څخه وژغوري.

## د څېړنې اهداف

۱- د خپل اسلامي فرهنګ پېژندنه.

۲- په افغاني او اسلامي فرهنګ د يرغلونو په اړه عامه پوهاوی.

۳- د خپل افغاني او اسلامي فرهنګ ساتنه.

## د څېړنې منهج او تګلاره

طبيعي خبره ده چې دغه بحث د تحليلي او توصيفي تګلارو پر مټ تر سره شوی دی چې په ترڅ کې يې کتابونو، کتابتونونو، مطبوعاتو او د معلوماتو نورو منابعو ته مراجعه شوې، په ځانګړې توګه د دې موضوع اړوند ورستيو څېړنو او مقالو ته زياته پاملرنه شوې.

## د څېړنې لامل

د تېر شل کلن امريکايي اشغال پرمهال په افغانستان کې د رسنيو د بې ساري ډېرښت په اړه ډېرې داسې ناويلې خبرې شته، چې له خلکو پټې ساتل

شوي دي، د پوځکیو په شان د دې ناڅاپي را ټوکېدلیو سلګونو نشراتي، سمعي او بصري رسنیو، ټول رازونه موندل او څېړل د دې څېړنې له لاملونو څخه دي، خو دلته به په لنډ ډول د دغو رسنیو اړوند ځینې ناویلي رازونه او خبرې راوسپړو او تر څېړنې لاندې به یې ونیسو.

**۱ـ د رسنۍ پېژندنه**

رسنیو ته په عربي ژبه "وسائل الإعلام" او په انګلیسي ژبه میډیا (MADIA) ویل کېږي. (۱۲: ۲۲۱۲مخ)

رسنۍ تر خلکو پورې د پیغام رسولو وسیلې ته وایي. د رسنۍ د تعریف په اړه دا هم ویلای شو چې رسنۍ پر یوه هېواد باندې د خپلو افکارو د غالبولو او په هغه هېواد کې د خپل سیاسي، کلتوري، اقتصادي او فرهنګي پالیسي تطبیقولو او د خپلو موخو د اغېزو ښندلو او له دې لارې د هغوی افکارو ته د بدلون ورکولو نوم دی. (۲۲۱۲:٦مخ).

قیس الدین سعدي د رسنۍ په اړه ویلي دي: رسنۍ د هغه علم یا هنر نوم دی، چې د هغه له لارې یو ځوک خبر، خیال او جذبه تر بل چا پورې رسولای شي. (۱: ١٤مخ)

پروفیسور مهدي حسن، د رسنۍ په اړه ویلي دي: تر نورو پورې خپل خیالات رسول، پر هغو باندې خپل مطلب واضح کول او د خبرو اترو کولو عمل ته رسنۍ وایي، د دې لپاره دا اړینه نه ده چې انسان باید یوازې الفاظ استعمال کړي، انځورګر خپل خیالونه د رنګونو په واسطه څرګند کړي، عکاس تر نورو پورې د خپل نظر د رسولو لپاره له کامرې څخه کار اخلي او یو هنرمند د خپلو جذباتو د څرګندولو لپاره د خپل مخ د اغېزو په واسطه خپل نظر تر نورو پورې رسوي. (۸: ١٤مخ)

نو لنډه دا چې: رسنۍ هغه عامه وسیله ده چې له سرچینې څخه مخاطب ته په علني بڼه پیغام ورسوي. (۱۲: ۲۰).

### ۲- د رسنیو ډولونه

رسنۍ په دوه ډوله دي: نن سبا دوه ډوله رسنۍ کارول کېږي: چاپي رسنۍ او برېښنايي رسنۍ؛ چاپي رسنۍ لکه: ورځپاڼه، مجله، جريده او داسې نور او برېښنايي رسنۍ لکه: راډيو، ټلويزيون، انټرنټ او نورې ټولنيزې رسنۍ چې خواله رسنۍ هم ورته ويل کيږي لکه: فېسبوک، يوټيوب، وټس آپ، ټيليګرام او داسې نور.

### ۳ـ د رسنۍ مخينه

د رسنيو پيل د بشريت له پيل سره سم رامنځته شوی دی، څنګه چې انسان فطرتا يو اجتماعي موجود دی او تل له نورو انسانانو سره په اړيکه کې وي او غواړي چې خپل خيالونه، نظرونه او فکرونه د نورو سره شريک کړي، نو د دې کار لپاره به انسانانو په لومړيو زمانو کې د خپلو موخو د څرګندولو لپاره له انځورونو څخه کار اخيسته، کله به يې چې غوښتل نورو ته د يو څه په اړه وينا وکړي، نو د هغه شي انځور به يې رسماوه او خپل نظر به يې له دې لارې ورته څرګنداوه، په دې اړه پروفيسور مهدي حسن ليکلي دي:

پخوا د  کلمو تر ليکلو د مخه انسانانو د بېلا بېلو شيانو انځورونه کښل زده کړل، په دې شيانو کې به ونې، رودونه، غرونه، سپوږمۍ، لمر، ځنګلونه، درنده ځاروي او پرندې شاملې وې، ځکه د پخواني انساني مذهبونو په اثارو کې د بېلا بېلو ځارويو، الوتونکو، ونو، ګلانو، سپوږمۍ او لمر انځورونه شامل دي، د پخوانيو مذهبونو دې اثارو دا ثابته کړې ده چې انسانانو د کلمو تر ليکلو د مخه هغه څه چې د دوی په ضميرونو کې وو، د انځورونو په مرسته څرګندول او خپلې ستونزې به يې حلولې. (۸: ۱٤مخ)

تر انځورونو وروسته د پخوا زمانو خلکو دې ته اړتيا پيدا کړه چې په څه ډول سره دوی خپل غم، خوشحالي، مينه، محبت او کرکې څرګندې کړي، د دې کار لپاره دوی کلمو ته اړتيا درلوده، تر څو د تورو په مرسته خپل فکرونه او نظرونه تر نورو پورې ورسوي، کرار کرار دوی د خپلو موخو د څرګندولو لپاره

توري او کلمې په کار واچولې او په دې ډول انساني ټولنې هم پرمختګ پيل کړ، د کلمو کارول د انسانانو تر منځ اړيکه نوره هم ټينګه او پياوړې کړه، ځکه دې کار تر انځور کښلو ډېرې اسانتياوې درلودې.

تر انځور کښلو او کلمو استعمالولو وروسته په چين کې د لومړي ځل لپاره کاغذ رامنځته شو، کاغذ د پيغام په رسولو کې يو انقلاب رامنځته کړ، دا د پيغام رسولو لپاره غوره وسيله وه، ځکه د کاغذ په مرسته انسانانو کولای شول چې خپل پيغامونه تر نوي نسل پورې ورسوي او هغه څه چې دوی پخوا د انځور له لارې نورو ته ورښودل هغه په ډېرې اسانۍ سره پر کاغذ باندې د کلمو په مرسته وليکي.

د کاغذ په رامنځته کېدو سره چاپ خونې هم رامنځته شوې، په څوارلسمې پېړۍ کې کله چې د ليکلو ټايپ رامنځته شو، نو هغه رسنۍ ته نور پر مختګ هم ورکړ او کله چې په ١٤٧١ ميلاديکال کې د انګليسي ژبې لومړی کتاب (**History of story**) خپور شو. (٤: ١١مخ). نو د دې کتاب په خپرېدو سره د رسنۍ لمن نوره هم پراخه شوه، د نولسمې پېړۍ په پای کې د مواصلاتي رسنيو لمن الوتکو اورګاډيو، ټليفون او بېړۍ نوره هم پراخه کړه او په شلمې پېړۍ کې راډيو او ټلويزيون رامنځته شول او اوس په يويشتمه پېړۍ کې مصنوعي سيارې، کمپيوټر، انټرنټ او داسې نورې پرمختللې رسنۍ رامنځته شوې چې د خپلې خوښې افکار د نړۍ هر وګړي ته رسوي او تر تأثير لاندې يې راولي.

**۴- په اوسني دور کې د رسنيو ارزښت**

۵. تفاوت‌های منطقه‌ای و قومی: سیاست‌های تمرکزگرا و توزیع ناعادلانه منابع باعث شده تا برخی مناطق و اقوام به خدمات بهتر، پروژه‌های توسعه‌ای و فرصت‌های شغلی بیشتری دسترسی نداشته باشند. این تفاوت‌های منطقه‌ای موجب محرومیت طولانی‌مدت برخی از ولایات و اقلیت‌ها شده است. زیرا در نظام سیاسی افغانستان، بخش بزرگی از تصمیم‌گیری‌ها و تخصیص منابع در پایتخت (کابل) متمرکز بوده است. این تمرکزگرایی باعث شده که مناطق مرکزی و حاشیه‌ای، مخصوصاً مناطقی که از لحاظ قومی اقلیت محسوب می‌شوند، در حاشیه توسعهٔ باقی بمانند و در نتیجه: در این

مناطق خدمات اساسی مانند بهداشت، تعلیم و تربیه و زیرساخت‌ها ضعیف‌تر باقی مانده و فرصت‌های شغلی کمتر مهیا گردد و سرمایه‌گذاری بیشتر به شهرهای بزرگ یا مناطقی با نفوذ سیاسی بالاتر اختصاص یابد.

این عوامل سبب گردیده تا نابرابری اقتصادی پیامدهای گسترده را در کشور بوجود آورده که هر کدام را بررسی میکنیم:

**افزایش فقر و کاهش استندردهای زندگی:** نابرابری های اقتصادی بالا موجب کاهش توانایی خانواده های کم‌درآمد برای تأمین نیازهای اساسی مانند مسکن، تغذیه و آموزش درکشور گردیده و مستقیماً بر سطح زندگی افراد تأثیر گذشته است. نابرابری اقتصادی باعث افزایش فقر و کاهش استندردهای زندگی شده و سبب پیامدهای مختلفی گردیده است، که از جمله: دسترسی محدود به مسکن مناسب ، سوءتغذیه و مشکلات صحی، کاهش کیفیت آموزش، افزایش استرس و مشکلات روانی و تشدید شکاف طبقاتی. به صورت کل این پیامد ها باعث شده که خانواده‌های کم‌درآمد در مناطق نامناسب با زیرساخت‌های ضعیف ساکن گردند که نتیجه نگرانی‌های مالی و مشکلات مالی آنها سبب شده تا کودکان این خانواده‌ها از تحصیل محروم و یا مجبور به ترک تحصیل شوند و در نهایت افزایش مشکلات اقتصادی منجر به افسردگی، اضطراب و کاهش سلامت روان افراد شده است. پس گفته میتوانیم که با افزایش نابرابری، امکان پیشرفت اقتصادی برای اقشار کم‌درآمد سخت‌تر شده و چرخه فقر ادامه پیدا می‌کند.

**تضعیف رشد اقتصادی:** نابرابری اقتصادی یکی از عوامل مهمی است که می‌تواند رشد اقتصادی را تضعیف کند، نابرابری اقتصادی باعث کاهش تقاضای مصرف‌کننده و در نتیجه کاهش رشد اقتصادی گردیده است. نابرابری باعث شده تا تمرکز ثروت در دست اقلیت باشد وسرمایه‌گذاری‌های مولد کاهش یابد و در نتیجه شگوفایی اقتصادی را به کندی مواجه نموده است.

باید یاد آور شد که تضعیف رشد اقتصادی و تأثیرات آن در هر کشور از چندین طریق رخ می‌دهد:

کاهش تقاضای کل: درجوامعی که نابرابری اقتصادی بالاست، بخش بزرگی از ثروت در دست گروه کوچکی از افراد متمرکز می‌شود. افراد ثروتمند نسبت به افراد کم‌درآمد، سهم کمتری از درآمد خود را مصرف می‌کنند و بیشتر آن را پس‌انداز یا سرمایه‌گذاری می‌کنند. در نتیجه، مصرف کل کاهش یافته و تقاضای مؤثر برای کالاها و خدمات کم می‌شود که می‌تواند به کاهش تولید و رشد اقتصادی منجر شود.

کاهش سرمایه انسانی: نابرابری اقتصادی می‌تواند به کاهش دسترسی افراد کم‌درآمد به آموزش و صحت منجر شود. عدم دسترسی به آموزش مناسب و مراقبت‌های صحی باعث کاهش بهره‌وری نیروی کار و کاهش نوآوری و خلاقیت در جامعه می‌شود که در نهایت به کند شدن رشد اقتصادی می‌انجامد.

بی‌ثباتی اجتماعی و سیاسی: افزایش نابرابری اقتصادی می‌تواند به بی‌ثباتی اجتماعی، اعتراضات مردمی و افزایش جرایم منجر شود. در چنین شرایطی، دولت‌ها مجبور به افزایش هزینه‌های امنیتی و اجتماعی می‌شوند که می‌تواند منابع لازم برای سرمایه‌گذاری در زیرساخت‌ها و پروژه‌های توسعه‌ای را کاهش دهد. بی‌ثباتی سیاسی نیز می‌تواند باعث کاهش سرمایه‌گذاری داخلی و خارجی شود و رشد اقتصادی را متوقف کند.

کاهش انگیزه برای سرمایه‌گذاری و کارآفرینی: در جوامعی که نابرابری اقتصادی شدید است، دسترسی به فرصت‌های اقتصادی ناعادلانه توزیع می‌شود. این امرباعث کاهش انگیزه برای کارآفرینی و سرمایه‌گذاری در میان طبقات پایین و متوسط جامعه می‌شود، چرا که افراد احساس می‌کنند حتی با تلاش زیاد نیز نمی‌توانند پیشرفت کنند. در نتیجه، نوآوری کاهش یافته و رشد اقتصادی آسیب می‌بینند. پس دیده میشود که نابرابری های اقتصادی از

راه های مختلف باعث کاهش رشد اقتصادی شده و تاثیرات سوء براقتصاد یک جامعه به جا میگذارد.

**افزایش مهاجرتها:** نابرابری‌اقتصادی و عدم دسترسی به فرصت‌های برابر می‌تواند انگیزه‌ای برای مهاجرت افراد به مناطق دیگر باشد. مهاجرت داخلی به شهرهای بزرگ‌تر به دنبال فرصت‌های اقتصادی، و یا مهاجرت بین‌المللی به کشورهایی با امکانات بیشتر، از جمله پیامدهای این نابرابری‌ها است. این مهاجرت‌ها می‌تواند مشکلاتی مانند فشار بر زیرساخت‌ها و فرهنگ‌های محلی را نیز به همراه داشته باشد و منجر به افزایش تضادهای اجتماعی شود.

دیده میشود که نابرابری اقتصادی ریشه عمیق در کشور ما دارد، بنابراین چگونه میتوان نابرابری اقتصادی را کاهش داد. برای از بین بردن یا کاهش نابرابری‌های اقتصادی، می‌توان از راهکارهای مختلفی استفاده کرد که در سه سطح سیاست‌گذاری کلان، بازار کار و حمایت‌های اجتماعی قرار می‌گیرند، برخی از مهم‌ترین راه کارها عبارتند از:

**سیاست‌های مالیاتی**: یکی از راهکارها جهت کاهش نابرابری اقتصادی سیاست های مالیاتی میباشد. سیاست های مالیاتی می‌توانند به عنوان ابزار مؤثری برای کاهش نابرابری اقتصادی مورد استفاده قرار گیرند. زیرا افزایش علاقه به سیاست‌های مالیاتی به‌عنوان ابزار ضروری درکنارسایر ابزارها - برای رسیدگی به نابرابری و حمایت از رشد فراگیر برای یک کشور ضروری میباشد. در ادامه برخی از سیاست‌های مالیاتی مؤثر برای کاهش نابرابری اقتصادی را بررسی مینمایم:

۱. مالیات تصاعدی بردرآمد: مالیات بر درآمد باید به‌صورت تصاعدی (Progressive Taxation)باشد، به این معنا که هرچه درآمد افراد بیشتر باشد، نرخ مالیاتی آنها نیز افزایش یابد. این سیاست باعث می‌شود که افراد

با درآمد بالا سهم بیشتری از درآمد خود را به مالیات اختصاص دهند و منابع مالی بیشتری برای حمایت از اقشار کم‌درآمد فراهم شود.

۲. مالیات بر ثروت و دارایی: یکی از مشکلات نابرابری اقتصادی این است که ثروت در دست گروهی کوچک متمرکز می‌شود. اعمال مالیات بر دارایی‌ها مانند املاک لوکس، ارث، و سود سرمایه می‌تواند به توزیع مجدد ثروت کمک کند. بدین منظورکار مؤثر که صورت گیرد: مالیات بر املاک و مستغلات لوکس برای کاهش احتکار دارایی و توزیع بهتر مسکن، مالیات بر ارث برای جلوگیری از تمرکز بیش از حد ثروت در نسل‌های آینده، مالیات بر سود سرمایه (Capital Gains Tax) برای کاهش نابرابری بین سرمایه داران و نیروی کار میباشد.

۳. کاهش مالیات برای اقشار کم‌درآمد: کاهش مالیات بر درآمد و مصرف برای گروه‌های کم‌درآمد می‌تواند به افزایش قدرت خرید آنها کمک کند. این کار از طریق افزایش معافیت‌های مالیاتی یا ارائه اعتبار مالیاتی برای افراد با درآمد کم انجام می‌شود.

٤. مالیات بر شرکت‌های بزرگ و انحصارات: شرکت‌های بزرگ معمولاً از(loophole[1]) لوپ هول های مالیاتی استفاده کرده و مالیات کمتری پرداخت می‌کنند. افزایش مالیات برشرکت‌های انحصارگر و صنایع بزرگ می‌تواند به توزیع بهتر درآمدها کمک کند. در این صورت دولت از فرار مالیاتی شرکت ها جلوگیری کرده میتواند، ضمناً دراین بخش میتوان به وضع مالیات برسودهای غیرمتعارف شرکت‌ها(Windfall Tax) نیز اشاره کرد.

[1] - لوپ‌هول‌های مالیاتی (Tax Loopholes) به خلأهای قانونی یا نقاط ضعف در قوانین مالیاتی گفته می‌شود که به افراد یا شرکت‌ها اجازه می‌دهد به‌طور قانونی از پرداخت مالیات اجتناب کنند یا میزان مالیات پرداختی خود را کاهش دهند. این روش‌ها معمولاً در نتیجهٔ پیچیدگی قوانین مالیاتی و امکان تفسیرهای مختلف از آن‌ها به وجود می‌آیند. مثلاً کاهش مالیات از طریق استهلاک (Depreciation Loopholes) شرکت‌ها می‌توانند دارایی‌های خود را به‌گونه‌ای مستهلک کنند که هزینه‌های بیشتری را به صورت کسر مالیاتی ثبت کرده و مالیات کمتری پرداخت کنند.

۵. مالیات بر مصرف کالاهای لوکس و مضر: وضع مالیات مترقی برکالاهای لوکس و کالاهای تجملی می‌تواند به توزیع عادلانه‌تر درآمدها کمک کند. همچنان، مالیات برکالاهای مضر مانند سیگار و الکل نیز نه تنها درآمد مالیاتی را افزایش می‌دهد بلکه هزینه‌های اجتماعی ناشی از مصرف این کالاها را نیز کاهش می‌دهد.
٦. استفاده از درآمدهای مالیاتی برای خدمات اجتماعی: افزایش درآمدهای مالیاتی باید همراه با افزایش مصارف عمومی در زمینه‌هایی مانند آموزش، صحت، بیمه‌های اجتماعی و مسکن باشد. این امر باعث می‌شود که اقشار ضعیف‌تر جامعه بتوانند از فرصت‌های برابر برای پیشرفت برخوردار شوند،(۲۰:ص.۱۰).

بهبود بازارکارو دستمزدها نیز یکی از راهکارهای کاهش نابرابری اقتصادی است، که در این بخش به (افزایش حداقل دستمزد) یعنی تعیین دستمزدی که هزینه‌های زندگی را پوشش دهد. اطمینان از فرصت‌های برابر برای همه طبقات اجتماعی اشاره کرد.
**توسعه آموزش ومهارت‌آموزی**: یکی دیگری ازراهکارهای است که در آن(آموزش رایگان و باکیفیت)و(برنامه‌های مهارت‌آموزی) در نظر گرفته میشود یعنی دسترسی همه افراد به آموزش مناسب، به‌ویژه در مناطق محروم ضمناً آموزش مهارت‌های لازم برای ورود به بازار کار و کسب درآمد پایدار میتواند در کاهش نابرابری ها تاثیر بگذارد.

راهکار دیگرحمایت‌های اجتماعی و رفاه عمومی است که توسط برنامه‌های تأمین اجتماعی یعنی پرداخت بیمه بیکاری، بازنشستگی و کمک‌های نقدی به اقشار کم‌درآمد. (دسترسی به خدمات صحی رایگان) کاهش هزینه‌های درمانی برای اقشار ضعیف و (یارانه‌های هدفمند) ارائه کمک‌های مالی به طبقات آسیب‌پذیر برای کاهش شگاف درآمدی، صورت گرفته میتواند.

رشد اقتصادی فراگیر و پایدار راهکار دیگری است که نابرابری را کاهش میدهد، این راهکار توسط سرمایه‌گذاری در زیرساخت‌ها، حمایت از کسب وکارهای کوچک ومتوسط وتقویت فناوری ونوآوری صورت میگیرد. دراین راهکارفرصت‌های شغلی بیشتر جهت بهبود وضعیت اقتصادی مناطق که دارای مشکلات زیاد اند، ایجاد میگردد. برای تقویه آن ارائه وام‌های کم‌بهره و تسهیلات برای کارآفرینان واستفاده از فناوری برای کاهش هزینه‌های تولید وافزایش دسترسی به فرصت‌های اقتصادی زمینه ساز میباشد.

به صورت کل علاقه به نقش سیستم های مالیاتی در رسیدگی به نابرابری در سال های اخیر افزایش یافته است. این علاقه ناشی از نگرانی در مورد درآمد بالا و نابرابری ثروت در چندین کشور بوده است. سیستم‌های مالیاتی به‌طور مستقیم و غیرمستقیم بر نابرابری تأثیر می‌گذارند و از جمله ابزارهای سیاست کلیدی هستند که دولت‌ها می‌توانند در کنار سایر ابزارهای سیاستی برای کاهش نابرابری‌ها و حمایت از رشد فراگیرتر استفاده کنند. توزیع عادلانه بار مالیاتی نیز یکی از ملاحظات کلیدی برای کشورها است، زیرا بسیاری از آنها به دنبال برآوردن نیازهای رو به رشد درآمد عمومی هستند.

باید گفت که سیاست‌های مالیاتی یک دولت در عین حال که شگاف نابرابری درآمد را کاهش می‌دهد، می‌تواند شگاف بین افراد ثروتمند و کم‌درآمد را افزایش دهد. هر یک از این دو حالت، بسته به نوع مالیات، پایه‌های مالیاتی و نرخ‌های مالیاتی می‌تواند رخ دهد. در شرایطی که اقتصاد یک کشورهمزمان درگیر موجی از تورم و رکود باشد، دنباله‌روی یک نوع مالیات می‌تواند بار تورم و رکود را همچنان شدت بخشد. ضمناً مالیات‌گیری‌های مضاعف می‌تواند روند نابرابری را کاملاً شدت بخشد. ازسوی دیگر، این موضوع که پایه‌های مالیاتی به درستی شناسایی شود نیز در این قسمت بسیار مهم است. به صورت کل دراستفاده از سیستم مالیاتی

باید انگیزه های کار، پس انداز و سرمایه گذاری و پیامدهای نهایی برای رشد اقتصادی کشور نیز در نظر گرفته شود.

## نتیجه‌گیری

نابرابری اقتصادی، ازطریق کاهش تقاضا، تضعیف سرمایه انسانی، افزایش بی‌ثباتی وکاهش انگیزه برای سرمایه‌گذاری، می‌تواند رشد اقتصادی را تحت تاثیر قرار دهد. به همین دلیل، بسیاری از سیاست‌گذاران به دنبال راه‌هایی برای کاهش نابرابری از طریق اصلاحات مالیاتی، افزایش دسترسی به آموزش و صحت، و حمایت از کسب‌وکارهای کوچک و متوسط هستند تا رشد اقتصادی پایدار وعادلانه‌تری را تضمین کنند.

نابرابری اقتصادی در افغانستان یکی از چالش‌های اساسی است که به صورت گسترده در جنبه‌های مختلف زندگی مردم تأثیر گذاشته است.فرضیه را که مطرح نموده بودیم: ((نابرابری اقتصادی در افغانستان ناشی از ترکیبی عوامل ساختاری، سیاسی، قومی و منطقه‌ای است و این نابرابری پیامدهای منفی بر ثبات اجتماعی و رشد اقتصادی دارد)). به اثبات میرسد، زیرا مطالعهٔ ما نشان داد که عوامل چون توزیع ناعادلانه ثروت و منابع، فسادگسترده، فقر و بیکاری، جنگ و ناامنی، کاهش سرمایه‌گذاری در بخش آموزش و تفاوت‌های منطقه‌ای و قومی از جمله عواملی اند که سبب بوجود آمدن نابرابری اقتصادی گردیده و این نابرابری پیامد های گسترده چون افزایش فقر وکاهش استندردهای زنده گی، تضعیف رشد اقتصادی و غیره را در قبال داشته است. ضمناً نابرابری اقتصادی شدید درکشور باعث افزایش نرخ جرم و جنایت نیز میشود. زیرا افرادی که تلاش روز افزون برای برخورداری از حداقل های زندگی میکند در مقابل افرادی قرار دارند که به دلیل داشتن ثروت های کلان از حداکثر امکانات برخورداراند. دراین شرایط، انگیزه کار و تلاش از بین می رود و جرایم اجتماعی بیشتر می شود. در چنین حالت روند توسعه اقتصادی هم به کُندی مواجه میشود.

از طرف دیگر، این تفاوت در توان مالی باعث تفاوت در برخورداری از امکانات آموزشی، درمانی و صحی هم شده که همۀ آن ها باعث تنش و تشنج در جامعه گردیده و به تدریج یکپارچگی را در کشور تحت تاثیر قرار داده است. بنابراین برای کاهش نابرابری ها دولت باید راهکارهای مناسب را روی دست گیرد، که در این قسمت  سیاست‌های مالیاتی می‌توانند نقش مهمی در کاهش نابرابری اقتصادی ایفا کنند، مشروط بر اینکه به طور هوشمندانه طراحی و اجرا شوند. مالیات تصاعدی، مالیات بر ثروت، کاهش مالیات برای اقشار کم‌درآمد، و سرمایه‌گذاری در خدمات عمومی از جمله راهکارهای اصلی در این زمینه میباشد. اجرای این سیاست‌ها نه تنها به کاهش نابرابری کمک می‌کند بلکه می‌تواند رشد اقتصادی پایدارتر و جامعه‌ای با ثبات‌تر ایجاد کند.

ترکیب سیاست‌های مالیاتی و دیگر راهکارهای مناسب می‌تواند به کاهش نابرابری اقتصادی و ایجاد جامعه‌ای عادلانه‌تر کمک کند. دولت‌ها باید با افزایش سرمایه‌گذاری در بخش‌های اجتماعی، اصلاح سیستم مالیاتی و افزایش شفافیت مالی، فرصت‌های برابر را برای تمام اقشار جامعه فراهم نماید. در نهایت، کاهش نابرابری اقتصادی نیازمند اصلاحات بنیادین و یک سیاست اقتصادی جامع است که بتواند ثروت و فرصت‌های اقتصادی را به طورعادلانه‌تری در میان تمام اقشار جامعه توزیع کند.

راهکارهای پیشنهادی برای کاهش نابرابری اقتصادی

برای کاهش نابرابری اقتصادی در افغانستان، اقدامات زیر می‌توانند مؤثر باشند:

۱. مبارزه با فساد و ایجاد شفافیت در تخصیص منابع و فرصت‌های اقتصادی.

۲. سرمایه‌گذاری در آموزش و توسعه انسانی برای بهبود مهارت‌های نیروی کار.

۳. افزایش اشتغال‌زایی از طریق حمایت از کسب‌وکارهای کوچک و متوسط.
٤. بهبود امنیت و ایجاد ثبات سیاسی برای جذب سرمایه‌گذاری‌های داخلی و خارجی.

**ماخذ**

١ـ افروغ، عماد. فضا و نابرابری اجتماعی، تهران، انتشارات دانشگاه تربیت مدرس، ١٣٧٧.
٢ـ اداره ملی احصائیه و معلومات. شاخص های کلیدی احصائیوی، سال ١٤٠٠
٣ـ تقی زاده، محمود. برنامه ریزی اجتماعی و اقتصادی- ویژه جهان سوم، تهران، انتشارات شمس، ١٣٦٩.
۴ـ قدسی، سوده. روش آلکایر و فوستر برای اندازه گیری فقر چندبعدی، مجله اقتصادی، شماره های ١١ و ١٢، ١٣٩٣ .
۵ـ ویژه، محمد رضا. مفهوم اصل برابری در حقوق عمومی نوین، مجله اقتصادی، دانشگاه نانت- فرانسه، شماره ٢، ١٣٨٣.
٦ـ یاسوری، مجید. نابرابری، علل، چگونگی و پیامدهای آن، مجله اقتصادی و سیاسی ، تهران، شماره ٢٦٥-٢٦٦. ١٣٨٩
٧ـ خیرمحمد مقدسی. چگونه می‌توان نابرابری اقتصادی را کاهش داد، تاریخ نشر ٢٣ دلو ١٣٩٧، تاریخ برداشت ١٤٠٣/١١/٥

http://www.dailyafghanistan.com/national_detail.php?post_id=١٤٦٨٣٣

٨ـ ریحانه مسافر. ضریب جینی چیست، تاریخ انتشار : مهر ٢٣, ١۴٠٢
https://maktabtv.com/blog/gini-index/

٩ـ فاطمه امین پور. کارل هاینریش مارکسKarl Heinrich Marx ، تاریخ نشر ١٣٩٣، تاریخ برداشت ١٤٠٣/٢/١٢

http://pajoohe.ir-کارل-هاینریش-مارکس/Karl-Heinrich-Marx__a-٤٢٢٥٧.aspx

١٠ . نابرابری اقتصادی چیست ؟ تاریخ انتشار ٢٥ مهر ١۴٠٣، تاریخ برداشت٣,١,١٤٠٤

- https://٤١٦٦٤٩١٢.khabarban.com

١١. https://parsi.euronews.com/٢٠٢٣/٠٤/١٩/united-nations-number-of-poor-people-in-afghanistan

١٢. World Inequality Database (WID.world) – with major processing by Our World in Data.٢٠٢٥.

- https://ourworldindata.org/grapher/palma-ratio-s٩٠s٤٠-

١٣.https://www.developmentaid.org/news-stream/post/١٠٦٣٨٤/international-aid-flows-to-afghanistan?utm_source , Share By Ion Ilasco Aug ٢٤, ٢٠٢١

١٤. Chen, S., & Ravallion, M. *China's (Uneven) Progress Against Poverty*. ٢٠٠٧.

١٥. Chancel, L., Piketty, T., Saez, E., & Zucman, G. *World Inequality Report* ٢٠٢٢.

١٦. Cobham, Alex & Sumner, Andy. *"Is it all about the tails? The Palma measure of income inequality."* Center for Global Development Working. ٢٠١٣.

١٧. Cowell, F. A. *Measuring Inequality* (٣rd Ed.). Oxford University Press.٢٠١١.

١٨. Piketty, T., & Saez, E. *Income Inequality in the United States, ١٩١٣–١٩٩٨*. Quarterly Journal of Economics. https://doi.org/١٠,١١٦٢/٢٠٠٣.

۱۹. Parsa, Mirwais: Inequality in Afghanistan: Drivers and Welfare Consequences, ۲۰۱۸, Available at:- https://www.researchgate.net/publication/۳٤۳۲۱۱۷٤۱

۲۰- Taxation and Inequality, OECD REPORT TO G۲۰ FINANCE MINISTERS AND CENTRAL BANK GOVERNORS, July ۲۰۲٤, Brazil

څېړندوی شجاع الله امان

# د افغانستان په اقتصادي پرمختګ او سیمه ییز اتصال کې د تاپي پروژې اهمیت

# The importance of the TAPI project in Afghanistan's economic development and regional connectivity

***Assistant prof: Shujaullah Aman***

**Abstract**:

The Turkmenistan-Afghanistan-Pakistan-India (TAPI) pipeline project is a major infrastructure initiative with the potential to transform Afghanistan's economic situation. This research paper examines the multifaceted impact of the TAPI project on Afghanistan's economy and its broader implications for regional geopolitics. Through a comprehensive analysis of economic data, geopolitical factors, and comparative case studies, this study explores the project's potential benefits, including transit fees, job creation, and energy security. It also addresses the challenges facing the project, such as security concerns and political instability. The research finds that while TAPI offers substantial economic opportunities for Afghanistan, its success is contingent upon overcoming significant obstacles. The paper concludes by offering recommendations for maximizing the project's benefits and ensuring its successful implementation, emphasizing the need for regional

cooperation, capacity building, and sound economic management. This study used descriptive and analytical research methods, with the necessary information obtained from books, research articles, and internet sites. In addition to the importance of the study, the research questions and hypotheses were also identified.

**لنډيز**

د ترکمنستان، افغانستان، پاکستان او هند (تاپي) پایپ لاین پروژه د افغانستان د اقتصادي وضعیت د بدلولو په وړتیا سره د زېربنا په برخه کې یو خورا مهم نوښت او پرمختګ دی، دا څېړنیزه مقاله د افغانستان په اقتصاد باندې د تاپي پروژې څو اړخیزې اغېزې او د سیمه ییز جیوپولیټیک اهمیت له مخې د هغې پراخې اغېزې ارزوي. د اقتصادي معلوماتو، جیوپولیټیکي عواملو او د پرتلیزو قضیو د مطالعاتو جامع تحلیل له لارې د پروژې احتمالي ګټې سپړي، د بېلګې په ډول د ټرانزیټ فیس، د کار پیدا کول او د انرژۍ امنیت؛ همدا راز هغه ننګونې هم په ګوته کوي چې پروژه ورسره مخ ده، لکه سیاسي بې ثباتي.

دغه څېړنه دا هم روښانوي چې تاپي د افغانستان لپاره د پام وړ اقتصادي فرصتونه وړاندې کوي، د هغې بریالیتوب د پام وړ خنډونو په لرې کولو پورې هم تړاو لري، مقاله د پروژې د ګټو اعظمي کولو او د هغې د بریالي پلي کولو ډاډ ترلاسه کولو لپاره د سپارښتنو په وړاندې کولو پای ته رسېږي، د سیمه ییزې همکارۍ، ظرفیت لوړولو او په سالم اقتصادي مدیریتي اړتیا ټینګار کوي.

په یادې څېړنه کې له توصیفي او تحلیلي مېتود څخه کار اخیستل شوی چې د ضرورت وړ معلومات یې له کتابونو، څېړنیزو مقالو او انټرنیټي سایټونو څخه ترلاسه شوي دي.

د څېړنې د اهمیت تر څنګ د څېړنې پوښتنې او فرضیه هم په ګوته شوې ده.

**سریزه**

د انرژۍ د نړیوال سیاست او اقتصادي پرمختګ په ډګر کې لږو پروژو د ترکمنستان، افغانستان، پاکستان او هند (تاپي) پایپ لاین پروژې په څېر دومره پاملرنه او هیله ترلاسه کړې ده، دا هیله ښنونکی نوښت چې په ۱۹۹۰ لسیزه کې رامنځ ته شو، موخه یې د ترکمنستان له سرچینو بډایه ساحو څخه د افغانستان له لارې د پاکستان او هند د انرژۍ اړمنو بازارونو ته د طبیعي ګاز لېږدول دي. د افغانستان لپاره یو هېواد چې له اوږدې مودې راهیسې په شخړو او اقتصادي مبارزه کې ښکېل دی؛ تاپي یوازې له پایپ لاین څخه ډېر استازیتوب کوي، دا د اقتصادي بیارغونې او سیمه ییز ادغام لپاره د احتمالي ژوندلیک سمبول دی.

د تاپي پروژه چې ۱۸۱۴ کیلومتره اوږدوالی لري؛ په کال کې د ۳۳ میلیارد متر مکعبه طبیعي ګاز رسولو لپاره ډیزاین شوې چې افغانستان به یې د خپل کورني کارونې لپاره ۵ میلیارد متر مکعبه ترلاسه کړي، دا لویه پروژه که په بریالیتوب پلې شي،؛ کولای شي په سیمه او اقتصادي ډګر کې د افغانستان نقش بیا تعریف کړي او افغانستان له مرکزي او سویلي آسیا سره د نښلونکې انرژۍ په یوه مهم دهلیز بدل کړي.

د افغانستان د اقتصاد لپاره د تاپي اهمیت له مبالغې ډکه نه شي کېدای، په ۲۰۲۰ کال کې د ۱۹,۸۱ میلیارد ډالرو ناخالص کورني تولید او د سړي سر عاید ۵۰۹ ډالرو (نړیوال بانک، ۲۰۲۰ز) سره افغانستان د نړۍ یو له غریبو هېوادونو څخه شمېرل کېږي، تېرو څو لسیزو جګړو د دې هېواد زېربنا ویجاړه کړې، اقتصادي وده یې ټکنۍ کړې او هېواد یې په پراخه کچه په بهرنیو مرستو پورې تړلی پرېښی، په دې شرایطو کې تاپي د هیله مندۍ څراغ په توګه راڅرګندېږي چې نه یوازې د پام وړ ټرانزیټ فیسونه به ور نه په لاس

راشي؛ بلکې د کارموندنې، انرژۍ امنیت او د بهرنۍ مستقیمې پانګونې زیاتوالي ژمنه هم کوي؛ خو د دې ګټو د ترلاسه کولو لاره له ننګونو ډکه ده، اوسمهال افغانستان له سیاسي بې ثباتۍ، مالي محدودیتونو او تخنیکي خنډونو او د پروژې پلي کولو ته د پام وړ ګواښونه لري، سربېره پردې د تاپي جیوپولیټیکې اغېزې د افغانستان له پولو هاخوا پراخې دي چې د سیمه ییزو قدرتونو او نړیوالو ګټو تر منځ پېچلي تحرکات په کې هم شامل دي.

**د څېړنې اهمیت**

د افغانستان د اقتصادي ودې او پراختیا او د سیمه ییز ادغام په اړه پوهاوی رامنځ ته کول چې دې سره به د پالیسۍ جوړونکو لپاره د پایلو پر بنسټ د اقتصادي ودې او پرمختیا لپاره له ګټور تصمیم نیونې فرصت برابر شي او افغانستان د مرکزي او سوېلي اسیا هېوادونو د نښلېدو ټکي په ډول راپېژني او په دې برخه کې د فرصتونو پېژندل او د ننګونو په نښه کول به په اوږد مهال کې اقتصادي پرمختیا ته لار هواره کړي.

**د څېړنې پوښتنې**

د دې څېړنیزې مقالې موخه د افغانستان په اقتصاد کې د تاپي پروژې د جامع نقش تحلیل وړاندې کول دي او دا هڅه په کې شوې چې لاندې مهمو پوښتنو ته ځواب ووایي:

۱. د افغانستان لپاره د تاپي احتمالي اقتصادي ګټې څه دي او د هېواد د اوسني اقتصادي وضعیت په شرایطو کې څومره مهمې دي؟

۲. د پروژې د بشپړې پلې کېدنې په وړاندې کومې لویې ننګونې او خطرونه شتون لري؟

۳. تاپي د سیمې په پراخه جیوپولیټیک برخه کې څنګه ځای لري او د سیمه ییزې همکارۍ او شخړو لپاره یې اغېزې څه دي؟

۴. د افغانستان د اقتصاد لپاره د ټاپي د ګټو د اعظمي کولو او د هغې د بریالي بشپړېدو ډاډ ترلاسه کولو لپاره باید کومې ستراتیژۍ او پالیسۍ غوره شي؟

د دغو پوښتنو د حل لپاره له بېلابېلو علمي سرچینو څخه کار اخیستل شوی، لکه د نړیوالو سازمانونو اقتصادي معلومات، د موضوع اړوند لیکنې، د پرتلیزو پروژو د قضیو مطالعې او د متخصصینو نظرونه.

**د څېړنې فرضیه**

**۱.** د ټاپي پروژې بریالی تطبیق به د افغانستان اقتصادي وده د پام وړ لوړه کړي او په مرکزي او جنوبي آسیا کې به سیمه ییز اتصال زیات کړي.

۲. د ټاپي پروژه به د افغانستان ناخالص کورنی تولید سلنه به د ټرانزیټ فیسونو او اړوندو اقتصادي فعالیتونو له لارې زیاته کړي.

۳. د ټاپي پروژې پلي کول به په افغانستان کې لږ تر لږه ۵۰،۰۰۰ نوې دندې رامنځ ته کړي.

**د څېړنې موخه**

د دې څېړنې موخه دا ده چې د افغانستان د اقتصادي پرمختیا او سیمه ییز ادغام په اړه پوهاوی رامنځ ته کړي او دا هڅه کوي چې د پالیسۍ جوړونکو، پانګوالو او هغو پوهانو لپاره ارزښتناک بصیرت چمتو کړي چې په مرکزي او سوېلي آسیا کې د انرژۍ زېربنا او اقتصادي پرمختیا په برخه کې لېوالتیا لري، لکه څنګه چې موږ دې پېچلې موضوع ته ګورو، دا روښانه کېږي چې د ټاپي پروژه یوازې د انرژۍ نوښت نه دی؛ بلکې دا د سیمه ییزې همکارۍ ازموینه ده، د تاریخي شخړو د له منځه وړلو لپاره یوه ننګونه ده او د نړۍ په هغو سیمو کې چې بې ثباتي یې تجربه کړې ده؛ د اقتصادي بدلونونو راوړولو او ثبات لپاره یو احتمالي فرصت وړاندې کوي.

**شالید**

د ترکمنستان، افغانستان، پاکستان او هند (ټاپي) د پایپ لاین پروژه چې ډېری وختونه د "سولې پایپ لاین" په نوم یادېږي، د طبیعي ګازو د پایپ لاین یوه بین المللي پروژه ده چې نږدې درې لسیزو راهیسې د پراختیا په حال کې ده، د دې مفهوم او تکامل د مرکزي او سوېلي آسیا بدلېدونکي جیوپولیټیک موقعیت او همدارنګه د سیمې د انرژۍ مخ په زیاتېدونکې غوښتنې منعکسوي.

**منشاء او ابتدايي پرمختګ**

د ۱۹۹۰ لسیزې مفکوره: د یوې بین المللي پایپ لاین مفکوره چې د ترکمنستان د ګازو ساحې له سوېلي آسیا بازارونو سره وصل کړي، د لومړي ځل لپاره د ۱۹۹۰ لسیزې په لومړیو کې د شوروي اتحاد له ړنګېدو او د طبیعي ګازو د زېرمو له پلوه د یوه خپلواک دولت په توګه د ترکمنستان له را څرګندېدو وروسته رامنځ ته شوه، په دې اړه لومړنۍ خبرې اترې په ۱۹۹۵ ز کې، ترکمنستان او پاکستان د پایپ لاین پروژې لپاره د تفاهم یادښت لاسلیک کړ. افغانستان په ۱۹۹۷ ز کې د خپل مهم جغرافیایي موقعیت په درک سره په دې بحثونو کې شامل شو.

په افغانستان کې د اسلامي امارت په لومړۍ دوره کې هم په دې اړه خبرو اترو دوام درلود، د اسلامي امارت ځینو استازو د ۱۹۹۰ لسیزې په وروستیو کې په اسلام آباد کې په غونډو کې ګډون وکړ. (دعوت ۲۴ میډیا، عبدالوافي نایبزی: ۲۰۲۴)

له ۲۰۰۱ ز وروسته چې په افغانستان کې د بیارغونې لپاره نړیواله هڅه شروع شوه، په ۲۰۰۱ ز د افغانستان د ثبات او پراختیا لپاره د پراخو هڅو د یوې برخې په توګه دې پروژې نوې علاقه پیدا کړه.

## مهمې لاسته راوړنې

په ۲۰۰۲ز کې افغانستان، پاکستان او ترکمنستان د پروژې د بیا ژوندي کولو لپاره یو نوی تړون لاسلیک کړ. په ۲۰۰۸ز کې هند په رسمي ډول له دې پروژې سره یوځای شو او دا یې په تاپي بدله کړه. په ۲۰۱۰ز کې څلورو هېوادونو د ترکمنستان په عشق آباد کې د گازو د پایپ لاین د چوکاټ تړون Gas Pipeline Framework Agreement (GPFA) لاسلیک کړ.

په ۲۰۱۲ز کې د تاپي پایپ لاین د پروژې د تطبیق لپاره د ترکمنستان دولتي محدود المسؤلیت شرکت Turkmenistan Pipeline Company Limited(TPCL) د پروژې د پلي کولو لپاره شامل شو.

په ۲۰۱۵ز کې ترکمنستان د پایپ لاین پروژې چارې د خپلې برخې د جوړولو کار پیل کړ. په ۲۰۱۸ز کې په هرات ولایت کې د یادې پروژې چارو د افغانستان برخې د بنسټ ایښودلو مراسم ترسره شول. په ۲۰۲۱ز کې له څنډ سره سره گډونوالو هېوادونو له تاپي پروژې سره خپله ژمنه بیا تأیید کړه.

## تخنیکي مشخصات

د تاپي پروژې د پایپ لاین اوږدوالی شاوخوا ۱۸۱۴ کیلومتره ډیزاین شوی دی او د دې پروژې ظرفیت په اړه داسې ویل کېږي چې په کال کې ۳۳ میلیارد متره مکعب (bcm) طبیعي گاز انتقال کړي. دغه پروژه د ترکمنستان د گالکینیش گازو له ساحې څخه پیلېږي، دا به له هرات، کندهار (افغانستان)، کوېټې، ملتان (پاکستان) څخه تېرېږي او د هند په فاضلکا کې به پای ته رسېږي.

د گازو د وېش په برخه کې د ۳۳ میلیارد متر مکعب له کلني ظرفیت څخه هند او پاکستان هر یو به ۱۴ میلیارد متر مکعب ترلاسه کړي او افغانستان به ۵ میلیارد متر مکعب د کورني استعمال لپاره ترلاسه کړي. د پروژې اټکل شوی لگښت (د ۲۰۲۰ ز پورې) ۹،٦ میلیارد ډالر پورې رسېږي، که څه هم دا

شمېره د وخت په تېرېدو د ساحې بدلونونه او خنډونو له امله تغيير کوي. (باختراطلاعاتي اژانس: ۲۰۲۵ ز)

**د ګډونوالو هېوادونو نقشونه**

ترکمنستان: د سرچينې هېواد په توګه ترکمنستان به طبيعي ګاز له خپلې ګالکينيش ساحې څخه چې د نړۍ په کچه د طبيعي ګازو دويمه لويه ساحه ده؛ عرضه کړي. ترکمنستان TAPI ته د خپلو صادراتي لارو د تنوع او د خپل لومړني ګاز پېرودونکي هېواد چين باندې د تکيې کمولو لپاره د يوې مهمې پروژې په توګه ګوري.

افغانستان: د يو ټرانزيټي هېواد په توګه، افغانستان به د ټرانزيټ فيس او ګازو ته د کورنۍ تقاضا د پوره کولو لپاره ګاز ته له لاسرسي څخه ګټه پورته کړي. دې پروژې ته د اقتصادي پرمختيا او سيمه ييز ادغام لپاره د يو مهم فرصت په توګه ليدل کېږي.

پاکستان: د يو ټرانزيټي او وروستي کاروونکي هېواد په توګه، موخه لري چې د ټاپي له لارې خپل د انرژۍ جدي کمښت پوره کړي. دا پروژه د پاکستان د انرژۍ سرچينو تنوع کولو هڅو سره سمون لري.

هند: د ترمينل هېواد او د يو لوی وروستي کاروونکي په توګه، هند TAPI ته د خپلې مخ په زياتېدونکې انرژۍ غوښتنې پوره کولو او د وارداتي سرچينو تنوع کولو لپاره د يوې وسيلې په توګه ګوري.

**اداري چوکاټ**

د ټاپي پايپ لاين شرکت :(TPCL) په ۲۰۱۴ ز کې تأسيس شوی، TPCL د پايپ لاين جوړولو، مالکيت او چلولو مسؤليت لري. ترکمن ګاز (د ترکمنستان ملي ګاز شرکت) اکثريت ونډه لري او نور درې ملي ګاز شرکتونه مساوي اقليت ونډه په کې لري.

د آسیا پراختیایي بانک :(ADB) د آسیا پراختیایي بانک د راکړې ورکړې سلاکار په توګه مهم نقش لوبولی دی، د TPCL په جوړولو کې یې مرسته کړې او د پروژې پراختیا لپاره یې ملاتړ کړی دی.

**اوسنی حالت**

تر ۲۰۲۳ ز پورې دا پروژه په افغانستان کې د امنیتي اندېښنو، مالي ننګونو او جیوپولیټیکو پېچلتیاو له امله له ګڼو خنډونو او ځنډونو سره مخ شوې ده. په داسې حال کې چې په ترکمنستان او افغانستان کې د پایپ لاین د جوړولو کار پیل شوی، د پایپ لاین د پام وړ برخې لا هم پاتې دي. ګڼونوال هېوادونه دې پروژې له پلي کولو سره ژمنتیا څرګندوي چې د بشپړېدو لپاره یې د ۲۰۲۴ -۲۰۲۵ ز موخه ټاکل شوې.

تاپي د ګازو د پایپ لاین کار چې له اوږدې مودې راهیسې ځنډېدلی و؛ اوسمهال مخ پر وړاندې روان دی او افغانستان په هرات ولایت کې د پایپ لاین درې کیلومتره نور هم بشپړ کړی دی . دا پراختیا د اسلامي امارت په مشرۍ د حکومت په چوکاټ کې د پراخې مرحلې جوړونې ستراتیژۍ یوه برخه ده چې موخه یې د دې پروژې د خوندي او مؤثره پلي کولو لپاره د افغانستان وړتیا ښودل دي. د هرات والي شیخ مولانا اسلام جار او د تاپي پروژې اجرایوي رئیس محمدمراد امانوف ترمنځ د یوې غونډې په ترځ کې د پروژې په اوسني حالت او د سیمه ییز اقتصادي ادغام لپاره د هغې اهمیت په اړه بحثونه وکړل، امانوف دا تایید کړه چې د ګازو د پایپ لاین غځولو کار په چټکۍ سره روان دی چې درې کیلومتره یې لا دمخه په افغانستان کې بشپړ شوی دی، د هرات والي د هر اړخیز ملاتړ ژمنه وکړه او د خپلې ادارې د هوسا پرمختګ د ډاډمنولو په ژمنې یې ټینګار وکړ.

د افغانستان د کانونو او پټرولیم وزارت ویاند همایون افغان وویل: "اوس مهال د تاپي پروژه له پلان سره سم پرمختګ کوي، تر اوسه د پایپ لاین ۲,۹

کیلومتره جوړ او ویلډ شوی او نږدې ۳,۴ کیلومتره لاره چمتو شوې ده. د ملکیتونو د استملاک هڅې هم روانې دي.(DARYO: ۲۰۲۵)

شکل-۱ د ګازو پایپ لاین



## د افغانستان اقتصادي شرایط او د تاپي پروژه

د افغانستان اقتصاد د لسیزو جګړو، سیاسي بې ثباتۍ او نړیوالو مداخلو له امله ډېر وخت زیانمن شوی، د دې لپاره چې تاپي په شان سیمه ییزې لویې پروژې نه یوازې د اقتصادي پرمختیا لپاره لار هواروي؛ بلکې د سیمه ییز ادغام په برخه کې ستر نقش لوبوي او په دې شرایطو پوهېدل د هېواد په اقتصاد د تاپي پروژې احتمالي اغېزې ارزول اړینې دي. د تاپي پروژې په پلي کول به په لاندې مهمو اقتصادي شاخصونو مستقیم اغېز لري چې د ناخالص کورني تولید کچه به لوړه شي او د سړي سر ناخالص کورني تولیدات به لوړ شي؛ همدارنګه د بېکارۍ کچه به راټیټه شي.

## د افغانستان لپاره د تاپي پروژې احتمالي اقتصادي ګټې

د تاپي پایپ لاین پروژه د افغانستان لپاره څو مهمې احتمالي اقتصادي ګټې وړاندې کوي چې کولای شي د اقتصادي مسیر په بدلولو کې مرسته وکړي. دا ګټې په مختلفو سکټورونو کې شاملې دي او کولای شي د هېواد په پرمختګ سمدستي او اوږدمهاله اغېزې ولري.

**د ټرانزیټ فیس**

افغانستان به د دې پروژې له لارې هر کال کابو ۵۰۰میلیون ډالره د ترانزیت فیس ترلاسه کړي او کله چې د ټاپي پروژه بشپړه شوه؛ نو تر لسو کلونو به ۵۰۰ میلیونه مترمکعبه گاز او تر شلو کلونو به یو میلیارډ مترمکعب گاز ترلاسه کوي. د لومړنیو څېړنو او شمېرو له مخې د ټاپي گازو پایپ‌لاین به هر کال ۳۳ میلیارده مترمکعب گاز لېږدوي.(دافغانستان بانک:۱۴۰۰ ل)

د دې فیس تر څنگ له ۵۰۰ متر مکعب گازو څخه استفادې حق ترلاسه کړي او ورسره به د برېښنا یو بله پروژه هم پلې شي چې له ترکمنستانه پاکستان ته د ۵۰۰ کیلو واټو برېښنا لېږد دی او د نوري فایبر مزی به هم ورسره د افغانستان له لارې انتقالېږي چې په ټوله کې به افغانستان لاندې گټې ترلاسه کړي:

- د ۴۰۰-۵۰۰ میلیونه ډالرو په اندازه اټکل شوی کلنی عاید.
- په ملي بودیجې مثبته اغېزه، دا پروژه کولای شي د افغانستان کلنۍ بودیجې ته د پام وړ زیاتوالی ورکړي او د کسر په کمېدو کې به اغېزمنه مرسته وکړي.
- همېشني عاید ترلاسه کول، د بې ثباته مرستو جریان برعکس، د ټرانزیټ فیس کولای شي د عاید یوه باثباته او وړاندوینې وړ سرچینه چمتو کړي.
- د رغونې مرحله کې ۱۲۰۰۰ اټکل شوې مستقیمې دندو رامنځ ته کېدل، په عملیاتي مرحله کې نږدې ۱۰۰۰ دایمي دندې به رامنځ ته شي او همدارنگه به په نامستقیم ډول په اړوندو خدماتو او صنعتونو کې زرگونه اضافي دندې ایجاد شي.( News Central Aisa: ۲۰۲۵ز)

- د مهارتونو پراختیا، د پایپ لاین جوړولو او ساتنې کې د تخنیکي مهارتونو ترلاسه کولو لپاره د ځایي کاري ځواک لپاره فرصت رامنځ ته کېږي.
- د اوسپنې پټلۍ جوړول د تورغونډۍ په بندر کې.
- د کورني استعمال لپاره په کال کې ۵ میلیارد متر مکعب طبیعي ګاز ته لاسرسی.
- د انرژۍ په برخه کې موجوده تقاضا ته مناسب ځواب ویل او د انرژۍ د کمښت له منځه وړل.
- د صنعتي پراختیا ملاتړ، د باور وړ انرژۍ عرضه کولای شي تولید او نور صنعتونو ته هم وده ورکولای شي.
- د انرژۍ وارداتو کمول، په بالقوه توګه د بهرنیو اسعارو زېرمې خوندي کول او له دې مدرکه چې څومره واردات کېږي؛ په هغې کې به د پام وړ کموالی راشي.
- بهرنۍ مستقیمې پانګونې (Foreign Direct Investment (FDI ته فرصت برابرېدل او د پانګوالو د باور زیاتوالی د دې پروژې بریالی تطبیق کولای شي د لویو پروژو د اداره کولو لپاره د افغانستان وړتیا وښیي.
- د زېربناو پراختیا، د پایپ لاین زېربنا په برخه کې به لازمه پراختیا رامنځ ته شي، د پایپ لاین له ۱۸۱۴ کیلومتره څخه چې ۷۷۴ کیلومتره یې د افغانستان له لارې تېرېږي؛ اړوندې زېربنا لکه سړکونه، مخابراتي شبکې، اوسپنې پټلۍ او دې ته ورته زېربناوې به پراختیا ومومي.
- د څو اړخیزو دهلیزونو لپاره وړتیا، د پایپ لاین لاره د فایبر آپټیک کیبلونو یا ټرانسپورټي زېربنا لپاره هم کارول کېدای شي.

## سیمه ییز اقتصادي ادغام

افغانستان له شپږو هېوادونو ایران، پاکستان، ترکمنستان، ازبکستان، تاجکستان او چین سره ګډه پوله لري. له منځنی، جنوبي اسیا او منځني ختیځ سره جغرافیایي نژدېوالی، افغانستان د سیمه ییزې سوداګرۍ او ټرانسپورټي شبکو په څلورلارې تبدیلولای شي. په تاریخي لحاظ د افغانستان ستراتیژیک موقعیت دغه هېواد له پېړیو راهیسې د سیمې د سوداګریزو کاروانونو، نظامي فتوحاتو او کلتوري تبادلو لپاره تاریخي لاره ګرځولې ده.

د افغانستان جغرافیایي اهمیت له خپلو پولو هاخوا پراخېږي او زیاتېږي؛ ځکه چې د منځنۍ اسیا، جنوبي اسیا او منځني ختیځ تر منځ د پول په توګه کار کوي. دغه هېواد د سیمه ییز ارتباط نوښتونو کې مهم نقش لوبوي چې موخه یې د سوداګرۍ، ټرانسپورټ او د انرژۍ د همکارۍ وده ده. د سیمې سترې اقتصادي پروژې لکه تاپي پایپ لاین او (CASA-۱۰۰۰ Central Asia – South Asia (د منځنۍ اسیا، جنوبي اسیا د برېښنا د لېږد او سوداګرۍ پروژه) د هغو نوښتونو بېلګې دي چې غواړي د سیمه ییز اتصال او اقتصادي ادغام د ودې لپاره د افغانستان له ستراتیژیک موقعیت څخه ګټه پورته کړي.

## د حکومت عواید

پورته یادونه وشوه چې د تاپي پروژې پلي کولو سره به د افغانستان حکومت د ټرانزیټ فیس له مدرکه د کال شاوخوا ۵۰۰ میلیونه ډالر ترلاسه کړي او له دې علاوه به له ګاز او برېښنا څخه هم استفاده وکړي چې په ټوله کې به د ملي عوایدو په کچه کې زیاتوالی راشي چې په لاندې ډول ورنه یادونه کولای شو:

الف) د مالیې عواید: له هغو شرکتونو څخه چې په ساختماني او عملیاتي چارو کې ښکېل دي؛ د مالیې له مدرکه عواید به ترلاسه شي.

ب) ګمرکي محصول: په وارد شوو موادو او تجهیزاتو د ګمرکي محصول په عوایدو کې به زیاتوالی راشي.

ج) د عایداتو مالیه: له نوو رامنځ ته شوو دندو او کاروبارونو څخه به د مالیاتو له درکه عواید لوړ شي.

## د ټکنالوژۍ لېږد

لکه څرنګه چې په نننې عصر کې نړۍ د ټکنالوژۍ په برخه کې چټک ګامونه اخلي؛ نو د ټاپي په څېر د لویو پروژو په پلي کولو سره نه یوازې دا چې له عصري ټکنالوژۍ څخه استفاده کېږي؛ بلکې د نوو ټکنالوژیکي وسایلو او پوهې لېږد د هېوادونو تر منځ صورت نیسي چې د یادې پروژې په پلي کولو سره به افغانستان ته لاندې ګټې په برخه شي:

- له عصري پایپ لاین ټکنالوژیو سره مخېدل او په دې برخه کې د نوو پوهو او مهارتونو زده کړه.
- د انرژۍ سکټور مدیریت کې روزنه او د ظرفیت لوړول.
- په نورو صنعتونو کې د نوو ټکنالوژیکي تجهیزاتو خپرېدو اغېزې.
- د سرې د تولید لپاره د طبیعي ګازو کارول.
- د کرنیزو محصولاتو پروسس او زېرمې کولو اسانتیاو لپاره انرژۍ ته لاسرسی زیاتېدل.

## د چاپېریال ګټې

لکه څرنګه چې افغانستان یو غرنی هېواد دی او په ټولو برخو کې یې د ژمي موسم سوړ وي؛ نو د کورونو، دفترونو او ورته برخو لپاره له ډېرو سکرو یا لرګیو څخه استفاده کېږي چې له یوې خوا هوا ککړوي او له بلې خوا د ځنګلونو د تخریب لوی لامل دی؛ نو د ټاپي پروژې له ګازو څخه استفاده به نه یوازې دغه برخه کې مرسته وکړي؛ بلکې د چاپېریال په ساتلو کې به مثبته پایله ولري لکه:

- د تودوخې او پخلي لپاره د لرګیو او ډېرو سکرو په کارولو کې کمښت.

- د ځنګلونو د وهلو په کچه کې احتمالي کمښت.
- د اوسنۍ انرژۍ د سرچینو په پرتله د کاربن اخراج کمول.

که چېرې د ټاپي پروژه په بریالیتوب سره پلې شي؛ نو د افغانستان د اقتصاد لپاره د لوبې بدلونکی ظرفیت لري. دا کولی شي هېواد ته د عاید یوه همېشنۍ سرچینه چمتو کړي، دندې رامنځ ته کړي، د انرژۍ امنیت به ښه کړي او پراخه اقتصادي پرمختیا به وهڅوي. په هرصورت، محتاطانه پلان جوړونه، شفاف مدیریت او همېشنۍ سیاسي اراده اړینه ده چې له دې احتمالي ګټو څخه په بشپړه توګه ګټه پورته کړي او ډاډ ترلاسه کړي چې دوی د افغان اتباعو په ژوند کې د پام وړ پرمختګونو ته ژمن دي.

**ننګونې او خطرونه**

ټاپي پروژه د خپلو بالقوه ګټو سره سره له بعضو ننګونو سره هم مخ ده چې د پروژې د پلي کولو پر وړاندې خنډ او ځنډ رامنځ ته کوي، که څه هم د ټاپي پروژه د افغانستان لپاره د پام وړ بالقوه ګټې وړاندې کوي؛ خو دا له ګڼ شمېر ننګونو او خطرونو سره هم مخ ده چې کولای شي د هغې پلي کول او اوږدمهاله بریالیتوب اغېزمن کړي. دا ننګونې امنیتي، سیاسي، اقتصادي، تخنیکي او چاپېریالي برخو ته غځېدلې دي.

**امنیتي ننګونې**

په افغانستان کې په تېرو څو لسیزو کې بېلابېلو شخړو جریان درلود، په ځانګړې توګه په هغو سیمو کې چې پایپ لاین د تېریدو پلان په کې وجود لري، دا چې اوس مهال ټیکاو رامنځ ته شوی؛ خو له بده مرغه بیا په سیمه ییزه کچه امنیتي وضعیت مخ پر خرابېدو دی او په ګاونډیو هېوادونو کې وخت ناوخت امنیتي پېښې رامنځ ته کېږي چې دا په خپل وار سره د دې پروژې پر پلي کولو خپل اغېز لري؛ نو لازمه ده چې د دې پروژې د بریالي پلي کولو لپاره په امنیتي برخه کې د امنیتي مسؤلینو له خوا رغنده ګامونه واخیستل شي او د زېربناو د ساتنې په برخه کې په ټول افغانستان کې د پایپ لاین،

کارګرانو او اړوندو تأسیساتو خوندیتوب ډاډمن کړي، همدارنګه د پایپ لاین د تخریب خطر پر وړاندې هم پام ولري، دا ځکه چې ځینې مخربې وسله والې ډلې چې غواړي دا پروژه له خنډ او ځند سره مخ کړي؛ یو ډول تهدید دی، له بلې خوا لوړ امنیتي لګښتونه هم د امنیتي ننګونو له جملې څخه شمېرل کېږي.

## سیاسي بې ثباتي

په نننۍ نړۍ کې که څه هم بین المللي عواملو د حکومتونو ځانګړی نقش په ځانګړې توګه د اقتصادي فعالیتونو په برخه کې له خطر سره مخ کړی، د هېوادونو اقتصادي جوړښت، په ځانګړې توګه د مخ پر ودې هېوادونه لا هم د کورنیو منفي عواملو پر وړاندې زیان منونکی دی. دا عوامل د هېوادونو اقتصادي امنیت اغېزمن کولو سره د تولید ټول عوامل او ساحې تحریفوي او د تولید پروسه له خپل طبیعي حالته لرې کوي. سیاسي بې ثباتي، د خورا مهم داخلي مګر (نااقتصادي) فکتور په توګه د تولید په عواملو د اغېزې کولو لپاره د اقتصادي امنیت مفهوم سره تر ټولو نږدې او معنی لرونکی تعامل لري. دا چې په افغانستان کې سیاسي حالات په تېرو لسیزو کې ډېر ثبات نه لاره او د نظامونو ادلون بدلون ډېر ژر ژر رامنځ ته کېده، په ټوله کې په اقتصادي فعالیتونو خپل اغېز درلود چې ورسره د لویو پروژو د تطبیق لړۍ له خنډ او ځنډ سره مخ شوې ده، لکه کمزورې حکومتولي چې کولای شي د پروژې په پلي کولو او مدیریت اغېزه وکړي. په حکومتونو کې بدلونونه کولای شي په پالیسیو یا پروژو ته ژمنتیا کې بدلون راولي. همدارنګه سیمه ییز کړکېچونه د ګډونوالو هېوادونو تر منځ جیوپولیټیکي مسئلې کولای شي د پروژو پرمختګ اغېزمن کړي.

نړیوالې اړیکې له ګاونډیو هېوادونو یا نړیوالو قدرتونو سره د افغانستان په اړیکو کې بدلون کولای شي د پروژو پلي کول مثبت یا منفي اغېز ولري.

## اقتصادي ننګونې

سره له دې چې ټاپي پروژه د افغانستان لپاره خورا حیاتي پروژه ده چې دې سره به نه یوازې عواید ترلاسه شي؛ بلکې د بېکارۍ په له منځه وړلو او د اقتصادي فعالیتونو په پراختیا کې به ورڅخه استفاده وشي؛ خو د دې ګټو تر څنګ ځینې ننګونې هم شتون لري چې په لاندې ډول ورته نغوته شوې:

- د پروژې د تمویل په برخه کې د ټولې پروژې لپاره د اټکل شوې بودجې برابرول د هېوادونو او اړوند بنسټونو له خوا مهمه ننګونه ده.
- په افغانستان کې د لوړ خطر چاپېریال ممکن احتمالي پانګه اچوونکي په اندېښنه کې واچوي یا د پانګې لګښت زیات کړي.
- په ننګوونکي چاپېریال کې پېچلې پروژې ډېرې وختونه د پام وړ لګښتونو زیاتوالي سره مخېږي.
- د ټرانزیټ فیسونو او نورو پروژوي اړوند عوایدو شفاف او ګټور کارول ډاډمنول.

## تخنیکي او لوژستیکي ننګونې

- پایپ لاین باید له ننګونو ډکو برخو څخه تېر شي، لکه غرونو او لرې پرتو سیمو څخه.
- د زېربناو نشتوالی لکه د سړکونو ضعیفې شبکې او برېښنا ته محدود لاسرسی.
- په افغانستان کې ممکن د ټاپي پروژې لپاره اړین متخصص ځواک محدودیت وجود ولري.
- په ځینو سیمو کې سخته هوا کولای شي د ساختماني او ساتنې مهالوېش اغېزمن کړي.

## د چاپېریال خطرونه

- ایکولوژیکي اغېزې د پایپ لاین جوړول کولای شي سیمه ییز ایکوسیستمونه او حیاتي تنوع ګډوډه کړي.

- د اوبو سرچینې، پروژه ممکن په وچو سیمو کې د اوبو په سرچینو اغېزه وکړي.
- د اقلیم بدلون، اوږدمهاله چاپېریالي بدلونونه کولای شي د پایپ لاین لارې او د ساتنې په اړتیاو اغېزه وکړي.
- د چاپېریال اطاعت، ډاډ ترلاسه کول چې پروژه د نړیوال چاپېریال له معیارونو سره سمون لري.
- د پروژې په مسیر کې د زراعتي ځمکو له منځه تلل او استملاک.

د ټاپي پروژې بریالیتوب چې افغانستان ته اقتصادي ګټې رسوي، د دې څو اړخیزو ننګونو په اغېزمنه توګه حلولو پورې اړه لري. که څه هم احتمالي ګټې د پام وړ دي، خطرونه هم په مساوي ډول د پام وړ دي او له ټولو ښکېلو اړخونو څخه به محتاط مدیریت او تلپاتې ژمنې ته اړتیا ولري.

**جیوپولیټیکي اغېزې**

د ټاپي پایپ لاین پروژه د پام وړ جیوپولیټیکي اغېزې لري چې د هغې له اقتصادي اغېزو هاخوا پراخېږي. دا وړتیا لري چې سیمه ییز تحرکات بیا تنظیم کړي، په نړیوالو اړیکو اغېزه وکړي او د مرکزي او سوېلي آسیا ستراتیژیک موقعیت ته نوی رنګ ورکړي. د سیمه ییزې همکارۍ او ادغام له لارې د ترکمنستان، افغانستان، پاکستان او هند ترمنځ همکاري لا زیاته کړي او په بالقوه توګه سیمه ییزې اړیکې ښې کړي. دا پروژه متقابلې اقتصادي ګټې رامنځ ته کوي چې کولای شي د سیمې د ثبات لامل شي او په بریالیتوب د پروژې پلي کول کولای شي د نورو سیمه ییزو زېربنایي نوښتونو لپاره لاره هواره کړي، له بلې خوا د ټاپي پروژې دوه نور ښکېل هېوادونه هند او پاکستان په اړیکو هم مثبت اغېز وکړي او په ټوله کې ټول ګډونوال هېوادونه د پایپ لاین په امنیت کې ونډه ولري چې دا د امنیتي همکارۍ د زیاتوالي لامل کېږي.

## له ګاونډیانو سره د افغانستان اړیکې

دا چې افغانستان د خپل ستراتیژیک موقعیت له مخې د اسیا په زړه کې پروت هېواد دی او د سوېلي او مرکزي اسیا هېوادونو لپاره د څلورلارې حیثیت لري او د ټاپي پروژه به د افغانستان له ګاونډیو هېوادونو سره د اړیکو په برخه کې یو نوی باب پرانیزي، له ترکمنستان سره ښې اړیکې به وده وکړي او د ګډو اقتصادي ګټو له امله دوه اړخیزې اړیکې به پیاوړې شي. له پاکستان سره د همکارۍ اړتیا کولای شي د افغانستان او پاکستان ترمنځ ښې اړیکې رامنځ ته کړي او دا پروژه کولای شي له هند سره د افغانستان ستراتیژیکه ملګرتیا ټینګه کړي، همداراز دا پروژه کولای شي د سیمه ییزو سازمانونو لکه سارک او شانګهای همکارۍ سازمان تړاو زیات کړي، ممکن د انرژۍ په همکارۍ هم مرکزیت او نوي سیمه ییز سازمانونه رامنځ ته کړي. د ټاپي جیوپولیټیکي اغېزې پېچلې او لرې پرتې دي. په داسې حال کې چې دا پروژه د سیمه ییزې همکارۍ او اقتصادي پرمختیا لپاره د پام وړ فرصتونه وړاندې کوي، دا د مختلفو ملي ګټو د توازن او موجوده سیمه ییزو کړکېچونو د حل کولو په برخه کې ننګونې هم وړاندې کوي. د افغانستان لپاره ټاپي د سیمه ییزې انرژۍ سیاست او اقتصادي همکارۍ کې د یو مهم لوبغاړي په توګه د احتمالي بدلون استازیتوب کوي. د ټاپي بریالیتوب کولای شي د افغانستان ستراتیژیک اهمیت د پام وړ لوړ کړي او د ډیپلوماټیک او اقتصادي ښکېلتیا لپاره نوي وسایل چمتو کړي. په هرصورت، د دې احتمالي ګټو درک کول به محتاطي ډیپلوماسۍ، تلپاتې نړیوال ملاتړ او د سیمې دننه او د نړیوالو قدرتونو ترمنځ د سیالۍ ګټو اداره کولو وړتیا ته اړتیا لري.

لکه څنګه چې پروژه پرمختګ کوي، د هغې جیوپولیټیکي اغېزې به احتمالاً پراختیا ومومي چې له ټولو ښکېلو خواو څخه همېشنۍ تحلیل او تطبیقي ستراتیژیو ته اړتیا لري. د سیمه ییز جیوپولیټیک په اړه د TAPI وروستۍ اغېزه به نه یوازې د هغې په بریالي پلي کېدو پورې اړه ولري؛ بلکې

په دې پورې هم اړه لري چې افغانستان او نور ښکېل اړخونه د پروژې شاوخوا د ګټو او اړیکو پېچلي جال کې څومره په اغېزمنه توګه حرکت کوي.

**پایله**

د ټاپي پروژه د افغانستان د اقتصادي پراختیا او سیمه ییز ادغام لپاره د یوه مهم فرصت استازیتوب کوي. په داسې حال کې چې له ننګونې سره سره د عوایدو لوړول، د کارموندنې او انرژۍ امنیت په برخه کې احتمالي ګټې خورا مهمې دي. د پروژې بریالیتوب کولای شي په مرکزي او سوېلي آسیا کې د راتلونکې سیمه ییزې همکارۍ او اقتصادي پراختیا نوښتونو لپاره د یوې نمونې په توګه کار وکړي. دټاپي پروژه نه یوازې افغانستان بلکې د سیمې ټول هېوادونه له اقتصادي ګټو برخمنوي. هوټلونه او بازارونه به جوړ شي، ډېر ځایي وګړي به د نل لیکې د ساتنې په موخه په دندو وګومارل شي او ډېر زیات خلک به په بېلابېلو دندو کې بوخت شي.

د افغانستان حکومت د دې ډول برنامو پر تطبیق او پیل کېدو سره هڅه کوي چې د اقتصادي ودې او پرمختګ لپاره لاره هواره کړي. د دې ډول لویو اقتصادي پروژو پلي کېدل له یوه اړخه د کار زمینې برابروي او له بل لوري د اسعاري عوایدو د راتګ لاملېږي چې په دې توګه تر یوه حده د هېواد اسعاري اړتیاوې پوره کېږي او د مبادلې د نرخ له ثبات او په هېواد کې په ښه ډول د پولي سیاست د تطبیق په برخه کې مرسته کوي.

**وړاندیزونه**

د ټاپي د بریالیتوب او د افغانستان لپاره د هغې د ګټو د اعظمي کولو لپاره لاندې چارې باید ترسره شي:

۱. په افغانستان کې د سیاسي ثبات او امنیت ډاډمن کول.

۲. د سیمه ییزې همکارۍ او ډیپلوماتیکو اړیکو پیاوړتیا په برخه کې بهرنیو چارو وزارت باید رغنده ګامونه واخلي.

۳. د پایپ لاین مدیریت او ساتنې لپاره د سیمه ییز ظرفیت پراختیا په برخه کې د سیمې هېوادونو سره په همغږۍ د اوبو او انرژۍ وزارت او همکارې اداري باید لاس په کار شي.
۴. د عوایدو شفاف مدیریت سیستمونه پلي کولو په برخه کې د مالیې وزارت باید رغنده ګامونه واخلي.
۵. د ټرانزیټ فیسونو هاخوا اقتصاد متنوع کول.
د مناسبو اغېزمنو ارزونو له لارې د چاپېریال اندېښنو ته رسیدګي کول.

**ماخذونه**


۱ـ ریاست الوزرا اقتصادي معاونیت،(افغانستان ته د تاپي پروژې ګټې او اوسنی کاري پرمختګ)، لاسرسی: https://dpmea.gov.af/ps/ArticlePashto، مراجعه:۲۵/۱۱/۱۴۰۳

۲ـ دافغانستان بانک، (د تاپي پروژه؛ اقتصادي ګټې او فرصتونه)، لاسرسی: https://dab.gov.af/index.php/ps/ ، مراجعه: ۱٤۰۳/۱۲/۱۲

۳ـ دعوت مېډیا۲۴، (تاپي پروژه؛ بیا پرانیسته، د پلي کېدا تازه هیلې)، لاسرسی: https://dawatmedia۲٤.com/?p=۱٦۹۹۱۱ ، مراجعه: ۱٤۰٤/۰۱/۰۲

۴ـ باختر اطلاعاتي اژانس،(د تاپي پروژې پر وروستیو پرمختګونو او د چارو پر چټکتیا خبرې وشوې)، لاسرسی: https://www.bakhtarnews.af/ ، مراجعه: ۱٤۰٤/۰۱/۱٥

۵ـ ریاست الوزرا اقتصادي معاونیت، (په ۱۴۰۲ لمریز کال کې د کورني ناخالص تولید ارزښت ته کتنه)، لاسرسی: https://dpmea.gov.af/ps/PASHTOA٪۲۰RTICLES٪۲۰agriculture ، مراجعه: ۱٤۰۳/۱۲/۱۷

٦- Asian Development Bank. (۲۰۱۸). TAPI Pipeline: A new era of energy cooperation, available

at:https://www.adb.org/news/features/tapi-pipeline-new-era-energy-cooperation, access date: ۱۱/۱۲/۱٤۰۳

۷- Bhutta, Z. (۲۰۲۱). TAPI gas pipeline project: Challenges and prospects. The Express Tribune, available at: https://tribune.com.pk/story/۲۲۷۹٦۸٥/tapi-gas-pipeline-project-challenges-and-prospects, access date: ۲۰/۱۲/۱٤۰۳

۸- Dadabaev, T. (۲۰۱۹). Connectivity and energy security in Asia: The TAPI pipeline project. Journal of Eurasian Studies, ۱۰(۲), ۱۱۰-۱۲۱, available at: https://doi.org/۱۰,۱۱۷۷/۱۸۷۹۳٦٦٥۱۹۸٤۲۸۸٦, access date: ۳۰/۱۲/۱٤۰۳

۹- Haidari, M. A. (۲۰۱۷). The TAPI Pipeline and Stability in Afghanistan. The Diplomat, available at: https://thediplomat.com/۲۰۱۷/۱۲/the-tapi-pipeline-and-stability-in-afghanistan/, access date: ۱۲/۰۱/۱٤۰٤

۱۰- Khatinoglu, D. (۲۰۲۱). TAPI pipeline project: Status, challenges, and prospects. Atlantic Council, available at: https://www.atlanticcouncil.org/blogs/iransource/tapi-pipeline-project-status-challenges-and-prospects/,access date: ۱۷/۰۱/۱٤۰٤

۱۱- Sahai, D. (۲۰۱۸). TAPI: A Pipeline of Peace and Prosperity. Indian Council of World Affairs, available at: https://www.icwa.in/pdfs/IB/۲۰۱٤/TAPIAPipelineIB۲۰۱۸.pdf, access date: ۲٥/۰۱/۱٤۰٤

١٢- News Central Aisa, (TAPI Update – Afghanistan lays ٦ kilometers of the pipeline, Kazakhstan negotiates the joining to the project), available at: https://www.newscentralasia.net/٢٠٢٥/٠١/٢٨/tapi-update-afghanistan-lays-٦-kilometers-of-the-pipeline-kazakhstan-negotiates-the-joining-to-the-project/ , access date: ١/٠١/١٤٠٤
١٣- DARYO, (Three kilometers completed: Afghanistan pushes forward with TAPI Pipeline), available at: https://daryo.uz/en/٢٠٢٥/٠١/١٥/three-kilometers-completed-afghanistan-pushes-forward-with-tapi-pipeline , access date: ١/٠١/١٤٠٤

څېړندوی شېر حسن کمالزی

# د محمود طرزي د ژوند تاريخي اړخونه او د افغاني ټولنې په پرمختيا کې يې ونډه

# Mahmud Tarzi: Historical Aspects of His Life and Role in the Development of Afghan Society

***Assistant professor Shir Hasan Kamalzai***

**Abstract**

This is an analytical study and examines the life, activities, and influence of Mahmud Tarzi efforts within the broader context of modern Afghan history. The introduction highlights the significance of the topic, outlines the objectives, and provides a brief overview of Mahmood Tarzi's life. This study shows that Tarzi played a pivotal role in the encouraging of knowledge, the publication, educational reforms, unity, and cultural development. It explores the political conditions, social structure, and traditional system of his time, and explains how Tarzi strove to disseminate new knowledge and implement reforms in Afghan society. His educational and cultural initiatives contributed significantly to public awareness and national progress through the promotion of

modern sciences, the expansion of journalism, and the strengthening of national identity in Afghanistan.

Tarzi’s political activities are analyzed in the context of national reforms, the mainstreaming of unity, and combating against foreign influence. Furthermore, his writings are shown to be valuable for enhancing public consciousness, studying modern Afghan history, and elevating national awareness among Afghans. The section on his later life and legacy examines his final years and the enduring impact of his contributions on the Afghan nation.

As conclusion remarks, Tarzi’s personality and endeavors remain of lasting significance for Afghanistan’s national, cultural, and educational development. His legacy continues to offer important lessons in learning, critical thinking, and the encouraging of national consciousness for contemporary Afghans.

**لنډيز**

دا تحليلي څېړنه د محمود طرزي د ژوند، فعاليتونو او د معاصر افغان تاريخ په شاليد کې د هغه د اغېزو په اړه ده. د ليکنې په پيل کې د موضوع اهميت، موخه او د طرزي لنډه پېژندنه وړاندې شوې. څېړنه څرګندوي چې طرزي د علم، مطبوعاتو، تعليمي اصلاحاتو، ملي يووالي او فرهنګي ودې په برخو کې مهم نقش درلود. د هغه مهال سياسي وضعيت، ټولنيز جوړښت او دوديز نظام څېړل شوی او څرنګوالی يې څرګند شوی چې طرزي څنګه د نوې پوهې او اصلاحاتو د خپرېدو لپاره هڅې وکړې. د هغه تعليمي او فرهنګي هڅې د معاصر علومو د زده کړې، د ژورنالېزم د پراختيا او د ملي هويت د ودې له لارې د افغان ملت په پوهاوي او پرمختګ کې مهم رول درلود.

د طرزي سياسي فعاليتونه د ملي اصلاحاتو، ملي يووالي او د بهرنيو نفوذونو پر وړاندې د مقاومت په برخه کې تحليل شوي. همدارنګه د هغه ليکنې د ټولنې د پوهاوي، د معاصر افغان تاريخ د مطالعې او د ملي شعور د

لوړولو لپاره ارزښتناکې دي. په پایله کې، د طرزي شخصیت او هڅې د افغان ملت د ملي، فرهنګي او تعلیمي پرمختګ لپاره د تل پاتې ارزښت لرونکي دي، او د نن ورځې افغانانو لپاره د زده کړې، فکر کولو او ملي شعور د لوړولو مهم درسونه وړاندې کوي.

**سریزه**

تاریخ د یوې ټولنې د ژوند، پرمختګ او کړنو په اړه دقیق معلومات وړاندې کوي. د ملتونو د ودې او پرمختګ لپاره د هغو شخصیتونو مطالعه چې د خپل وخت ستونزې یې درک کړې وي، د نوې پوهې د رامنځته کولو او د ټولنیزو اصلاحاتو د هڅونې لپاره مهمه سرچینه ده. د افغان ملت په معاصر تاریخ کې ګڼ شخصیتونه شته چې د خپل وخت د علم، فرهنګ او سیاست په برخو کې یې د پام وړ کارونه کړي او د ملي شعور د لوړولو او د ټولنې د ویښتابه لپاره یې نه ستړې کېدونکې هڅې کړې دي.

**د څېړنې د موضوع اهمیت**

په هر ملت کې د پوهاوي او علم ارزښت د پرمختګ او شاتګ په اندازه کې خورا مهم دی. هغه ټولنې چې د علم، فرهنګ او سیاسي شعور له لارې خپل وګړي ځواکمنوي، کولای شي د داخلي ستونزو او بهرنیو فشارونو پر وړاندې مقاومت وکړي او ملي هویت وساتي. د معاصر افغانستان په تاریخ کې د داسې شخصیتونو مطالعه د نن ورځې افغانانو لپاره د زده کړې، فکر کولو او د ملي ودې لپاره مهم درسونه لري.

**د څېړنې موخه**

دا تحلیلي څېړنه هڅه کوي چې د محمود طرزي ژوند او فعالیتونه د تاریخي، فرهنګي او سیاسي اړخونو له نظره وڅېړي. موخه یې دا ده چې د هغه تعلیمي، فرهنګي او سیاسي هڅې، د ټولنې په پوهاوي اغیز، او د افغان ملت د ملي شعور په ودې کې د هغه رول تحلیل شي. دغه مطالعه د لوستونکو

لپاره د معاصر افغان تاريخ د پوهېدلو او د ملي شخصيتونو د ارزښت درک کولو فرصت برابروي.

**د څېړنې پوښتنې**

۱. محمود طرزي د افغاني ټولنې په پرمختيا کې څنګه او څه ونډه لرله؟
۲. د معاصرو پوهو په دودولو او د افغاني هويت په ساتلو کې هڅې څنګه وې؟
۳. د مطبوعاتو په برخه کې هڅې څومره او څنګه وې؟

**د څېړنې میتود**

په دغه څېړنه کې له تاريخي- تشريحي میتود څخه کار اخيستل شوی او د څېړنې ډول يې کتابتوني دی.

**اصل متن**

**د محمود طرزي لنډه پېژندنه**

ښاغلی محمود طرزي د سردار غلام محمد خان طرزي زوی چې د ۱۲۸۲هـ. ق ربيع الاول په لومړی(/ ۱۲۴۴هـ. ش سنبلې لومړی/ ۱۸۶۵م کال د اگسټ پر ۲۳مه) نېټه په غزني کې زيږيدلی دی. (فرهادي، ۱۳۵۵، ۷مخ) د محمود طرزي کوچنيوالی د امير شېر علي خان د سلطنت له وخت سره برابر و. کله چې عبدالرحمن خان قدرت ته ورسېده بيا هم د محمود طرزي پلار د هغه له مقربانو څخه شو او کله به يې خپل زوی محمود طرزی هم له ځان سره دربار ته بېولو او د پاچا د پام جلبولو او نوازش جوګه به شو، تر دې چې په ۱٦ کلنۍ عمر کې يې د لښکر د يوې وړې ډلې رهبري ور وسپارله (ناظم، ۱۳۹٦، ۵۸مخ). هغه د خپل وخت د علم، سياست او فرهنګ په برخه کې يو فعال شخصيت و، چې د ژورنالېزم بنسټ يې کېښود، د تعليمي او ټولنيزو اصلاحاتو لپاره يې هلې ځلې وکړې او د افغان ملت د ملي شعور او هويت لوړولو ته يې ځانګړې پاملرنه کړې ده. طرزي د مطبوعاتو، ليکنو او مقالو له لارې د نوې پوهې، عدالت او ملي يووالي د ارزښتونو د خپرولو لپاره مهم نقش

درلود. د هغه هڅې نن هم د افغانانو د ملي او علمي ودې لپاره ارزښتناک درسونه لري.

**د هغه وخت سیاسي وضعیت:** د محمود طرزي د زوکړې پر مهال افغانستان د سیاسي، ټولنیزو او اداري بدلونونو په پړاو کې و (احمدزی، ۱۳۸۵، ٦٢مخ). چې دغو بدلونونو هغه جلاوطنۍ ته اړ کړل خو د امیر حبیب الله د حکومت پر مهال هغه بېرته وطن ته راستون شو او د امیر امان‌الله خان د اصلاحاتو له کبله هېواد د نویو قانوني جوړښتونو، مدرن تعلیم او اداري اصلاحاتو پر لور روان و، خو لا هم د سیاسي ثبات او ملي یووالي لپاره ستر خنډونه موجود وو. د هېواد په سیاسي فضا کې د قبیلوي واکونو، ځايي مشرتابه او د بهرنیو قدرتونو نفوذ موجود و، چې د هېواد د ملي او ټولنیز پرمختګ مخه یې نیوله.

طرزي په دې شرایطو کې د اصلاحاتو د پلوي شخصیت په توګه راڅرګند شو او د خپل ژوند په اوږدو کې یې هڅه وکړه چې د علم، پوهاوي او مطبوعاتو له لارې د هېواد د ملي شعور او سیاسي پوهې د پراختیا لپاره اساسي ګامونه پورته کړي. د هغه فعالیتونه د افغانستان په معاصر تاریخ کې د سیاسي شعور د ودې، د اصلاحاتو د خپرېدو او د ملي یووالي د تقویت یوه بنسټیزه سرچینه ګڼل کېږي (ممدوح، ۱۳۹۰، ۱۱۲مخ).

**ټولنیز جوړښت او دودیز نظام**

هغه وخت افغانستان د قبیلوي دودونو او دودیزو قوانینو تر اغیز لاندې و. ټولنه په قبايلي تړاوونو او د ځايي مشرتابه په چوکاټ کې اداره کېده، چې له امله یې د عدالت، تعلیم او د افرادو حقونه محدود وو رحماني، ۱۳۸۹، ٦١مخ). د دولت اداره په مرکزي توګه و، خو په ولسوالیو کې د ځايي واکمنانو اغېز ډېر و. د دې ټولنیز جوړښت له کبله، د نوې پوهې، معاصر علومو او ټولنیزو اصلاحاتو خپرول ستونزمن کار و.

محمود طرزي د دې دوديزو محدوديتونو پر وړاندې د فکر، ليکنو او مطبوعاتو له لارې مبارزه وکړه. هغه هڅه کوله چې د تعليم ارزښت عام کړي، د ملي شعور د ودې لپاره خلک پوهاوي ته ورسوي، او د عدالت، د قانون پر وړاندې برابرۍ او د مدرنو اصولو د پلي کولو لپاره ټولنه چمتو کړي(احمدزی، ۱۳۸۵، ٦٥مخ). د هغه ليکنې او د ژورنالېزم په برخه کې يې فعاليتونه د ټولنې د پوهاوي د لوړولو او د قبيلوي محدوديتونو د کمولو لپاره اغيزناکه وسيله وه.

طرزي په خپلو فعاليتونو کې هڅه کوله چې د افغانستان ټولنيز، سياسي او فرهنګي جوړښت د نوې پوهې او مدرنو اصلاحاتو له مخې سم کړي. هغه پوهېده چې د ملي شعور لوړول، د معاصرو علومو خپرول او د مطبوعاتو د رول پراختيا د ملت د پرمختګ لپاره ضروري دي.

په دې توګه د محمود طرزي تاريخي شاليد د هغه د ژوند، فکر او ليکنو د پوهېدلو لپاره يو بنسټيز چوکاټ برابروي. د هغه هڅې د افغان ملت د معاصر تاريخ د تحليل، د ټولنې په پوهاوي او د اصلاحاتو د هڅونې لپاره مهم سند ګڼل کېږي. د تاريخي او ټولنيزو شرايطو تحليل موږ ته دا وړتيا راکوي چې د طرزي شخصيت، ارزښت او د هغه د فکر اغېز په علمي ډول وپېژنو.

**د تعليمي او فرهنګي هڅو ارزونه**

**د معاصرو علومو زده کړې:** محمود طرزي د خپل وخت د تعليم اهميت په ژوره توګه درک کړ. هغه په داسې دوره کې ژوند کاوه چې افغانستان د مدرنو علومو او عصري تعليم په لور حرکت پيل کړی و، خو د تعليم عامول د ټولنې په ډېرو برخو کې د محدوديتونو له کبله ستونزمن و (رحماني، ۱۳۸۹، ۷۱مخ). طرزي باور درلود چې د ملت پرمختګ د تعليم له لارې ممکن دی او د نوې پوهې خپرول د ټولنې د پوهاوي د لوړولو لپاره ضروري دي.

هغه هڅه کوله چې معاصر علومو ته د ځوانانو لاسرسی زيات کړي، ښوونکو ته د مسلکي زده کړو زمينه برابره کړي، او د ښوونې او روزنې

نصابونه له ټولنیزو اړتیاوو سره سم عیار کړي. د طرزي د هڅو یوه مهمه پایله دا وه چې د افغانستان ځوان نسل د عصري تعلیم له ارزښتونو سره بلد شو او د علمي فکر د ودې لومړني ګامونه یې پورته کړل.

**د ژورنالیزم او مطبوعاتو رول**

طرزي د مطبوعاتو د پراختیا له لارې د فرهنګي او ټولنیزو بدلونونو لپاره بنسټیز کار وکړ. ((طرزي د مطبوعاتو له لارې د ټولنې د پوهاوي، اصلاحاتو او ملي شعور د لوړولو لپاره مهم رول ولوباوه. هغه پوهیده چې ژورنالیزم د علم، عدالت او اصلاحاتو د خپرولو اغیزمن وسیله ده)) (نورزی، ۱۳۹۲، ۸۹مخ). هغه د لیکنو، مقالې او ژورنالونو په خپرولو سره د ملت د پوهاوي لوړولو، د عدالت د ارزښتونو عامولو او د اصلاحاتو د خپرېدو لپاره مهمې هڅې وکړې. د مطبوعاتو له لارې هغه وکولی شو چې له خلکو سره خپل فکري نظریات شریک کړي، د نوي تعلیمي نصاب اهمیت بیان کړي او د ټولنې د پرمختګ لپاره علمي مباحثې پیل کړي (ممدوح، ۱۳۹۰، ۱۰۷مخ).

د مطبوعاتو له لارې طرزي د عامو خلکو ذهنونه د نوي فکر، عدالت، ملي یووالي او مدرن اصولو په لور هڅول. هغه پوهېده چې لیکنه او ژورنالیزم د ټولنیزو اصلاحاتو د رسولو اغیزمنه وسیله ده، ځکه خلک د چاپ او مقالو له لارې د ټولنې د اړتیاوو او پرمختګ اړوند معلومات ترلاسه کولی شي.

**د ملي هویت او فرهنګي ودې هڅې**

طرزي یوازې د معاصرو علومو د زده کړې او مطبوعاتو د پراختیا پلوي نه و، بلکې د افغانانو د ملي هویت ساتلو او فرهنګي ودې لپاره یې هم هڅې وکړې. هغه په خپلو لیکنو کې د ملي شعور، د ژبې، عنعناتو او تاریخ اهمیت تشریح کړ او خلکو ته یې د خپل کلتور او ملي ارزښتونو د ساتنې پیغام ورکړ هغه وښوده چې د ملت پرمختګ یوازې د علم، عدالت او فرهنګي ودې له لارې ممکن دی (احمدزی، ۱۳۸۵، ۵۸مخ).

طرزي باور درلود چې یوازې هغه ملتونه پرمختګ کوي چې خپل فرهنګ، عنعنات او ملي ارزښتونه وساتي، او د نورو ملتونو د نفوذ پر وړاندې د خپلواکۍ او ملي هویت د ساتنې لپاره قوي شعور ولري. د هغه لیکنې او مقالې د افغانانو د فرهنګي او ملي پوهاوي د لوړولو لپاره یوه ژوره سرچینه پاتې شوې ده.

په دې توګه د محمود طرزي د تعلیمي او فرهنګي هڅو ارزونه موږ ته ښیي چې هغه څنګه د علم، مطبوعاتو او فرهنګي فعالیتونو له لارې د افغان ملت د ودې او پرمختګ لپاره مهم رول لوبولی دی. د هغه فعالیتونه نه یوازې د هغه وخت لپاره اغیزناک وو، بلکې د نن ورځې افغانانو لپاره هم د زده کړې، فکر کولو او ملي شعور د لوړولو لپاره ارزښتناک درسونه وړاندې کوي.

**سیاسي فعالیتونه او ملي اصلاحات**

**د اصلاحاتو طرحې او ملاتړ:** محمود طرزي د خپل وخت د سیاسي اصلاحاتو یو ژور پلوی و. هغه په داسې دوره کې د افغان ملت د عصري اصلاحاتو ملاتړ کاوه (ممدوح، ۱۳۹۰، ۱۱۲مخ). د امیر امان‌الله خان تر حکومت لاندې هېواد د نویو اداري، تعلیمي او قضایي اصلاحاتو په پړاو کې و. طرزي باور درلود چې د ملت پرمختګ یوازې د پوهاوي، تعلیم او عدالت د خپرولو له لارې ممکن دی او د دې موخې لپاره یې د اصلاحاتو د پراختیا ملاتړ وکړ.

هغه د اصلاحاتو په عملي کولو کې هڅه وکړه چې د قبیلوي دودونو، ځایي واکمنانو او سیاسي فساد پر وړاندې د قانوني او اداري اصلاحاتو ضرورت خلکو ته واضح کړي. د طرزي لیکنې، مقالې او ژورنالیزم د اصلاحاتو د ارزښت د تشریح یوه مهمه وسیله وه، ځکه خلک د چاپ او مطبوعاتو له لارې د نویو قوانینو او اصلاحاتي پلانونو په اړه معلومات ترلاسه کولای شول.

**د ملي یووالي لپاره مبارزې:** طرزي د ملي یووالي د رامنځته کولو لپاره ژوره هڅه وکړه. هغه پوهیده چې د افغانستان د پراخو او مختلفو قبیلو او سیمو

ترمنځ یووالی رامنځته کول د ملي هویت د ساتنې او د بهرنیو نفوذونو پر وړاندې د مقاومت لپاره حیاتي اهمیت لري. طرزي د لیکنو او مقالو له لارې د ملي یووالي ارزښت بیان کړ، د قبیلوي تفرقو او ځایي اختلافاتو د کمولو لپاره یې د خلکو فکري پوهاوي ته وده ورکړه (شفیع، ۱۳۸۷، ۸۰مخ).

هغه په خپلو لیکنو کې د عدالت، مساوات او ملي فکري همغږۍ اهمیت روښانه کړ. د ملي یووالي د رامنځته کولو هڅې یې د هغه وخت د ټولنې د ثبات او پرمختګ لپاره اړین بنسټونه جوړ کړل. د هغه فعالیتونه د افغانانو د ملي شعور د ویښتابه یوه ژوره سرچینه پاتې شوې ده.

**د بهرنیو نفوذونو پر وړاندې دریځ:** طرزي د بهرنیو قدرتونو د نفوذ او د سیاسي مداخلو پر وړاندې هم خپل واضح دریځ درلود. هغه پوهېده چې د افغانستان خپلواکۍ او ملي هویت د پرمختګ لپاره د بهرنیو فشارونو مخنیوی اړین دی. په دې چوکاټ کې یې هڅه وکړه چې د مطبوعاتو او علمي لیکنو له لارې د خلکو شعور لوړ کړي، د ملي خپلواکۍ ارزښت څرګند کړي، او د بهرنیو اغېزو په وړاندې د افغان ملت مقاومت تضمین کړي (احمدزی، ۱۳۸۵).

طرزي په خپلو سیاسي فعالیتونو کې د عدالت، قانون، ملي وحدت او خپلواکۍ پر ارزښتونو ټینګار کاوه. د هغه لیکنې، مقالي او ژورنالیزم د هغه وخت د سیاسي فضا په شکل ورکولو کې مهم رول درلود او د معاصر افغان تاریخ د پوهېدلو لپاره ارزښتناک سند ګڼل کېږي.

په دې توګه د محمود طرزي سیاسي فعالیتونه او ملي اصلاحات د هغه د شخصیت، فکر او هدف د پراخولو په برخه کې یوه بنسټیزه څېړنیزه موضوع ده. هغه د اصلاحاتو، ملي یووالي او خپلواکۍ د ارزښتونو له لارې د افغان ملت د پرمختګ لپاره یو ستر رول لوبولی دی.

## د ليکنو تاريخي او تحليلي اهميت

**د ټولنې په پوهاوي اغېز:** سید محمود طرزي د خپل وخت د معاصرې افغاني ټولنې په پوهاوي کې د پام وړ رول درلود. د هغه لیکنې، مقالې او ژورنالونه د علم، عدالت، ملي شعور او مدرن اصولو د خپرولو لپاره اغېزمنه وسیله وه (احمدزی، ۱۳۸۵، ٦٧مخ). طرزي د مطبوعاتو له لارې خلکو ته د تعلیمي، فرهنگي او سیاسي اصلاحاتو اهمیت څرگند کړ او د ټولنې د فکري ودې لپاره یې هڅې وکړې.

هغه باور درلود چې یوازې د علم او پوهاوي له لارې د ټولنې ستونزې حل کېدای شي. د هغه لیکنې د قبیلوي محدودیتونو، ناسمو دودونو او د بهرنیو اغېزو پر وړاندې د خلکو شعور لوړ کړ. د ټولنې په مختلفو قشرونو کې د طرزي لیکنې د پوهاوي، د ملي ارزښتونو د ساتنې او د اصلاحاتو د اړتیا په اړه مهم بدلونونه راوستل.

**د معاصر افغان تاريخ د مطالعې لپاره ارزښت:** د طرزي لیکنې د افغان ملت د معاصر تاریخ د څېړنې لپاره زیات ارزښت لري. هغه په خپلو لیکنو کې د خپل وخت ټولنیز، سیاسي او فرهنگي وضعیت په دقیق ډول انعکاس کړی دی چې دا د معاصر افغان تاریخ د پوهېدلو لپاره یوه مهمه علمي سرچینه گڼل کېږي (ممدوح، ۱۳۹۰، ۱۲۰مخ).

د طرزي مقالې نه یوازې د تاریخ د ثبتولو لپاره مهمې دي، بلکې د تحلیل لپاره یې هم ژوره زمینه برابره کړې. د هغه لیکنې موږ ته دا وړتیا راکوي چې د هغه وخت د ټولنیزو ستونزو، اصلاحاتو، ملي شعور او د بهرنیو اغېزو په اړه دقیق علم ترلاسه کړو. د دې تحلیل له لارې د افغانستان معاصر تاریخ د شخصیتونو، مبارزو او فکري حرکتونو درک ممکن کیږي او د افغان ملت د ملي هویت د ودې لپاره مهم درسونه وړاندې کوي(رحماني، ۱۳۸۹، ۷۴مخ).

په پایله کې د محمود طرزي لیکنې نه یوازې د هغه وخت د ټولنې د پوهاوي د لوړولو لپاره مهم رول درلود، بلکې د افغانستان معاصر تاریخ د

څېړنې لپاره يوه بنسټيزه، تحليلي او علمي سرچينه هم ده. د هغه ليکنې د اصلاحاتو، ملي يووالي او د ملت د ودې په برخه کې د فکري لاربنود حيثيت لري.

**د ژوند پای او ميراث**

محمود طرزي د خپل ژوند په وروستيو کلونو کې د افغانستان د علم، فرهنګ او سياست په ډګر کې فعال پاتې شو (شفيع، ۱۳۸۷، ۸۴مخ). که څه هم د وخت د سياسي او ټولنيزو ستونزو له امله ځينې محدوديتونه موجود وو، خو هغه د خپل علمي، مطبوعاتي او اصلاحاتي فعاليتونو له لارې د ملت د پوهاوي د لوړولو هڅې نه دې پرېښې. په دې دوره کې يې ليکنې، مقالې او ژورنالونه د نوې پوهې، ملي شعور او فرهنګي ارزښتونو د پراختيا لپاره خورا مهم رول درلود.

طرزي په خپلو وروستيو کلونو کې د تعليمي نصابونو د اصلاح، د مطبوعاتو د فعاليت د پراختيا او د ملي يووالي د ملاتړ لپاره ځانګړې توجه وکړه. د هغه ليکنې او ژورنالونه د عامو خلکو ترمنځ د پوهاوي کچه لوړه کړه، او د نوي فکر، عدالت او ملي هويت د ارزښتونو د خپرېدو لپاره يې بنسټيزه لاربنونه وړاندې کړه.

محمود طرزي د افغان ملت لپاره د پام وړ ميراث پرېښود. هغه يوازې د مطبوعاتو، تعليم او فرهنګي اصلاحاتو په برخه کې خپل اغېز نه دی محدود کړی، بلکې د ملي شعور، عدالت، ملي يووالي او د افغان ملت د خپلواکۍ په ساتنه کې يې هم مهم رول لوبولی دی (ممدوح، ۱۳۹۰، ۱۲۲مخ).

د طرزي ليکنې او ژورناليزم د ټولنې په پوهاوي، د نوي فکر د خپرېدو او د ملت د فرهنګي او ملي هويت په ساتنه کې بنسټيز اغيز لري. د هغه هڅې د افغانانو د علمي او فرهنګي ودې لپاره يوه ژوره سرچينه ده، چې نن هم د تعليم، مطبوعاتو او ټولنيزو اصلاحاتو په برخه کې الهام بخښونکې دي.

په دې توګه، د محمود طرزي ژوند پای نه یوازې د هغه د علمي او فرهنګي هڅو د تکمیل او ارزونې لپاره مهم دی، بلکې د افغان ملت لپاره د تاریخ یوه ژوندۍ سرچینه او د الهام وړ میراث ګڼل کېږي. د هغه فعالیتونه د افغانانو د ملي شعور، عدالت او تعلیمي پرمختګ لپاره د تل پاتې ارزښت وړ دي. محمود طرزی له وطن څخه لرې د ترکیې هېواد په استانبول ښار کې د چهار شنبې ورځ د ۱۳۵۲هـ.ق کال د شعبان پر ۳ چې د ۱۳۱۲هـ.ش کال د عقرب له ۳۰ او د ۱۹۳۳م کال د نومبر له ۲۲ سره سمون خوري له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې او هماغلته خاورو ته وسپارل شو.

له محمود طرزي څخه ځینې اثار هم په میراث پاتې دي چې زموږ د فرهنګ په بډاینه کې د لوی اهمیت وړ دي.

**لیکنې او تألیفات:**

- سیاحت در سه قطعه روی زمین
- از هر دهن سخنی و از هر چمن سمنی
- جغرافیای منظوم افغانستان
- جغرافیه ادب در فن یا محمودنامه در نظم
- مختصر جغرافیای عمومی (د سراج الاخبار افغانیه ۴کال ۲۴مه ګڼه)
- روضهٔ حکم

**ژباړې:**

- سیاحت به دورادور زمین در ۸۰ روز (د ژول ورن اثر، له ترکي څخه دري ته ژباړه)
- جزیرهٔ پنهان
- بیست هزار فرسخ سیاحت زیر بحر
- سیاحت در جو هوا
- فاجعه‌های پاریس
- جنګ روس و جاپان (در پنج جلد)

- اخلاقيات

همدارنگه پر پورته مستقلو اثارو سربېره په لسگونو مقالې او ليکنې هم لري چې ډېره برخه يې په سراج الاخبار افغانيه کې خپرې شوې دي.

**پايله**

محمود طرزي د خپل وخت يو ژور فکر لرونکی، اصلاح طلب او ملي شخصيت و. هغه د علم، مطبوعاتو، تعليم او فرهنگي فعاليتونو له لارې د افغان ملت د ودې او پرمختگ لپاره نه ستړې کېدونکې هڅې وکړې (احمدزی، ۱۳۸۵). د هغه شخصيت د علمي ژمنتيا، ملي فکري شعور او اصلاحاتي نظرياتو سره تړلی و. طرزي باور درلود چې د ملت پرمختگ يوازې د پوهاوي، عدالت او تعليم له لارې ممکن دی، او د همدې باور له مخې يې ټولنيزې، تعليمي او سياسي هڅې پيل کړې. د طرزي هڅې يوازې د هغه وخت لپاره اغيزمنې نه وې، بلکې د معاصر افغانستان د تاريخ د پوهېدو لپاره يوه بنسټيزه سرچينه پاتې شوې ده. د هغه فعاليتونه د ټولنې په پوهاوي، د ملي هويت په ساتنه، او د نوې پوهې د خپرولو په برخه کې ارزښتناکې اغېزې لري.

د محمود طرزي ژوند او هڅې د نن ورځې افغانانو لپاره هم مهم درسونه لري. لومړی، د تعليم او پوهاوي اهميت: هغه وښودله چې د ملت پرمختگ د زده کړې، علم او فرهنگي ودې سره نېغ په نېغه تړلی دی. دويم، د ملي يووالي او عدالت ساتنه: طرزي د قبيلوي تفرقه، سياسي فساد او بهرنيو اغېزو پر وړاندې د ملت د خپلواکۍ او يووالي لپاره مبارزه وکړه. درېيم، د مطبوعاتو او ليکنو ځواک: هغه د ژورناليزم له لارې د خلکو ذهنونه د نوي فکر او اصلاحاتو په لور بيدار کړل.

په پای کې د محمود طرزي شخصيت، فکر او هڅې د افغان ملت د ملي، تعليمي او فرهنگي ودې لپاره د تل پاتې ارزښت لرونکي دي. د هغه ژوند موږ ته ښيي چې د علم، عدالت، ملي شعور او مدرن اصولو د خپرولو له لارې يو

ملت کولای شي خپلې ستونزې حل کړي او د خپلواکۍ او پرمختګ لپاره پیاوړی بنسټ جوړ کړي.

**وړاندیزونه**

۱. د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ټولنیزو علومو مرکز ته مې وړاندیز دی چې د محمود طرزي د فکر او آثارو د لا ښې څېړنې لپاره پروژې ډیزاین او څېړونکي پرې کار وکړي.

۲. د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت ته مې وړاندیز دی چې د محمود طرزي هغه آثار چې نه پیدا کېږي او یا تر اوسه نه دي چاپ شوي هغه چاپ او تر لوستونکو ور ورسوي.

**مأخذونه**


۱ـ احمدزی، عبدالغفار. (۱۳۸۵). محمود طرزي او معاصر افغانستان. کابل: د تاریخ څېړنیز مرکز.

۲ـ رحماني، حبیب الله. (۱۳۸۹). معاصر افغان ټولنه او فرهنګي اصلاحات. کابل: د ټولنیزو علومو خپرونې.

۳ـ شفیع، محمد. (۱۳۸۷). د افغان تاریخ معاصر شخصیتونه. کابل: کابل پوهنتون خپرونې.

۴ـ فرهادي، روان. (۱۳۵۵). «ورقي چند بر سرگذشت محمود طرزي». مقالات محمود طرزی در سراج الاخبار افغانیه ۹۷- ۱۲۹۰ش. سریزه. ۷-۳۱مخونه. کابل: مؤسسه انتشارات بیهقي.

۵ـ ممدوح، نعمت‌الله. (۱۳۹۰). د معاصر افغانستان سیاسي او فرهنګي شخصیتونه. کابل: پوهنتون خپرونې.

٦ـ ناظم، محمد داود. (۱۳۹٦). «محمود طرزي او د هغه ژورنالستیکې هلې ځلې». آریانا مجله. پرله پسې ۴۲٦مه ګڼه، د کال ۳مه ګڼه. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.

۷ـ نورزی، احمد. (۱۳۹۲). د ژورنالېزم پرمختګ او ملی شعور په افغانستان کې. کابل: د مطبوعاتو څېړنيز مرکز.

څېړندوی وجیه الله ظهیر

# د لومړۍ او دویمې نړیوالې جګړې پر مهال د افغانستان د بې طرفۍ د سیاست څرنګوالی او پایلې

# The nature and outcomes of Afghanistan's neutrality policy during the first and second world wars.

***Researcher Wajihullah Zaheer***

**Abstract**

Afghanistan's commitment to neutrality during both World War I and World War II was the result of a series of deliberations and Jirgas convened at the time. This period witnessed a division within the Afghan populace: one faction advocating for participation in the war and the other staunchly endorsing a policy of nonalignment.

During World War I, the leadership of Afghanistan rested with Amir Habibullah Khan, while World War II saw Mohammad Zahir Shah presiding over the nation.

Notably, during World War I, Amir Habibullah Khan received a diplomatic mission from the Ottoman Empire, which petitioned Afghanistan's alliance in support of Germany. Simultaneously, the British authorities exhorted Amir to adopt a stance of strict neutrality throughout the conflict.

Similarly, during World War II, British diplomats beseeched Mohammad Zahir Shah to uphold a policy of

nonalignment, even as Germany vigorously sought Afghan support for its cause

**لنډيز**

لومړۍ او دويمې نړيوالې جګړې پر مهال د افغانستان د بې طرفۍ سياست، له ډېرو مشورو او آن تر جرګو دايرېدلو وروسته نيول شوی. په دغو دواړو جګړو کې د جنګ او هم د بې طرفۍ پلويانو شتون درلود. دواړو ډلو مختلف نظريات او هم بېلا بېل دليلونه درلودل.

دغه دواړې جګړې هغه مهال پېښې شوې چې په لومړۍ کې امير حبيب الله او په دويمه کې پاچا محمد ظاهر په افغانستان کې د چارو واګې په لاس کې درلودې. امير حبيب الله ته د ترکيې عثماني خليفه په دې نيت يو هيأت را واستوه چې ګواکې امير جګړې ته وهڅوي او انګرېزانو ترې غوښتل چې بې طرفه پاتې شي. په دويمې جګړه کې هم بيا ورته موضوع وه، هغه داسې چې د افغانستان له پاچا، محمد ظاهر څخه انګرېزانو وغوښتل چې په جګړه کې خپله بې طرفي حفظ کړي او المانيانو پرې فشار راوړ چې ترڅنګ يې ودرېږي.

**سريزه**

لومړۍ او دويمه نړيواله جګړه هغه تباه کوونکي جنګونه دي چې د نړۍ پر مخ يې ډېر انسانان تباه کړي، فقر او نيستي يې رامنځته کړې او د دخيلو هېوادونو اقتصادونه يې له رکود او کمزورۍ سره مخامخ کړي. د دغو دوو جګړو د رامنځته کېدو سببونه که څه هم متفاوت دي، خو مرګ ژوبله او د لکونو انسانانو قتلېدل بيا هغه څه و چې دې دواړو جګړو د ډالۍ په ډول نړۍ ته وړاندې کړل.

لومړۍ نړيواله جګړه چې د ۱۹۱۴ز.کال د اګست په لومړۍ نېټه پيل شوې وه د ۱۹۱۸ز.کال د جنورۍ دمياشتې تر ۱۱ مې نېټې پورې يې دوام درلود او دويمه نړيواله جګړه بيا د ۱۹۳۹ز.کال څخه پيل تر ۱۹۴۵ز.کال پورې يې دوام درلود.

په دغو دواړو جګړو کې افغانستان د یو بې طرفه هېواد په توګه پاتې شو، دلیل یې دا و چې د وخت حاکمانو ښه نه ګڼله چې افغانستان په دغسې تباه کوونکو جګړو کې ښکېل کړي چې پرته له زیان او وژنو څخه یې بله پایله نه درلوده. که څه هم یو لړ سیاسي شنوونکي، پوهان او څېړونکي د افغانستان بې طرفي هغه مهال د افغانستان په زیان بولي، خو په ټوله کې بې طرفي د نورو څېړونکو په نظر د افغانستان په ګټه وه او دا دلیل نیسي چې جنګ تباهي زېږوي او افغانستان هغه مهال له یوې سترې تباهۍ څخه ساتل شوی.

په دې څېړنه کې د دواړو نړیوالو جګړو پر مهال د افغانستان بهرنی سیاست او له جګړو وروسته د بې طرفۍ د سیاست پایلې(زیانونه - ګټې) څېړل شوي او دا په ډاګه شوې چې دغه سیاست او پالیسي په رښتیني مانا د افغانستان په ګټه وه او که په زیان؟ همدغه سرلیکونه او پوښتنې ته په کې ځواب ویل شوی او کوښښ شوی چې د دې موضوع د څېړلو لپاره له غوره او معتبرو منابعو څخه ګټه واخیستل شي.

**د څېړنې مبرمیت**

د څېړنې مبرمیت په دې کې دی چې د یادې موضوع د څېړلو په تړاو تر دې دمه کومه واحده لیکنه چې په دواړو جګړو کې یې د افغانستان دبې طرفۍ بهرنی سیاست څېړلی وي، نه ده تر سترګو شوې، په همدې اساس مې غوره وګڼله چې په اړه یې څېړنه ترسره کړم.

**د څېړنې موخه**

د دې څېړنې موخه دا ده چې دا په کې وڅېړل او زبات شي چې د لومړۍ او دویمې نړیوالې جګړې پر مهال د افغانستان د بې طرفۍ(ناپېلیتوب) بهرنی سیاست د ولس، وخت او شرایطو غوښتنه وه او که د وخت د حاکمانو هیله.

**د څېړنې مېتود**

د دې څېړنې د پوره کېدو لپاره له تشریحي، توصیفي، تاریخي او تحلیلي مېتودونو څخه ګټه اخیستل شوې.

**د څېړنې پوښتنه**

د لومړۍ او دویمې نړیوالې جګړې پر مهال د افغانستان ناپېیلی بهرنی سیاست د افغانستان په ګټه و او که په زیان؟

**۱ - لومړۍ نړیواله جګړه**

د دغې سترې جګړې عمده لامل د اروپا د استعماري هېوادونو حرص او د مستعمرو پر سر سیالۍ وې، خو په ظاهره کې په سربستان کې د اتریش د شهزاده او شهزادګۍ وژل کېدل هغه څه وو چې په پایله کې یې د ۱۹۱۴ز.کال د جولای په ۲۸ مه نېټه اتریش په سربستان برید وکړ. وروسته المان د اتریش - مجارستان په طرفدارۍ روسیې ته چې د سربستان طرفداري یې کوله د ۱۹۱۴ز.کال د اګست په لومړۍ نېټه د جګړې اعلان وکړ. له همدې نېټې څخه لومړۍ نړیواله جګړه پیل او د ۱۹۱۸ز.کال د جنورۍ تر ۱۱ مې نېټې پورې یې دوام وکړ او د پاریس د سولې کنفرانس چې د امریکا جمهور رئیس (ویلسن) په کې ګډون کړی و، پای ته ورسېد. په دې جنګ کې متحدین(اتریش، مجارستان، المان، ترکیه، بلغاریا) او متفقین(انګلستان، فرانسه، روسیه، امریکا، ایټالیا، جاپان، رومانیا، سربستان، بلژیک، یونان او پرتګال) وو.(۴: ۱٦۱مخ)

په دې جګړه کې ډېر هېوادونه په مستقیم او غیر مستقیم ډول دخیل وو، خو یو تعداد هېوادونه لکه د افغانستان په څېر په دې جنګ کې بې طرفه پاتې شول. د لومړۍ نړیوالې جګړې اصلي لوري المان او اتریش وو چې د روس او انګلستان په مقابل کې یې قرار درلود.

دغو هېوادونو خپل څنګ کې په لسګونو نور هېوادونه درلودل. عثماني ترکیه د المان په خوا کې ودرېده او دغه راز انګلستان د هند وچه له ځان سره درلوده.کله چې جګړه ونښته په افغانستان کې امیر حبیب الله حاکم و.(۸: ۲۷۲مخ)

### ۲ - د لومړۍ نړیوالې جګړې پر مهال د افغانستان بې طرفي

له لومړۍ نړیوالې جګړې کم وخت وتلی و، چې المان او انګلستان جنګ کې د افغانستان د ننوتلو کوښښونه پیل کړل. د ۱۹۱۵ز.کال د اګست دمیاشتې په ۱۴ مه نېټه د المان او ترکیې استازو، ورپسې ناراضه هندي مسلمانانو افغانستان ته مخه کړه، ترڅو امیر دې ته مجبوره کړي چې په جګړه کې د المان په لوري ودرېږي. د ترکي استازو په ترکیب کې (کاظم بیګ) چې د عثماني خلیفه (پنځم سلطان محمد) استازی و او د الماني هیأت په ترکیب کې (اسکار فن نیدرمایر) او (اتوفن هنتیک) دوه استازي او (ویلهلم دوم) د المان سفیر شامل وو.

همدارنګه یو تعداد د هندي مبارزینو له ډلې چې رهبري یې (راجا مهندرا پراتاب) او (مولوي برکت الله) کوله، وروسته یادو استازو سره ملګري شول. ورته مهال کې د برتانوي هند استازو هم کابل ته تګ راتګ پیل کړ، تر څو په دې وتوانیږي چې امیر دې ته مجبورکړي چې د دوی په لوري ودرېږي او یا له جنګ څخه لاس په سر شي او بې طرفه پاتې شي.(۵: ۳۴مخ)

په کابل کې له امیر سره د یادو استازو مذاکرات دومره وځنډېدل چې میاشتې پرې واوختې، تر دې پورې چې د امیر په دربار کې هم خلک په دوه ډلو ووېشل شول او یاده موضوع د اختلاف سبب شوه. یوې ډلې ملي ګرایانو(محمود طرزي کورنۍ) امیر دې ته هڅوه چې د عثماني خلافت او المان په ګټه د انګرېزانو پر ضد جګړې ته داخل شي. محمود طرزي په دربار کې ډېر نفوذ درلود او همدارنګه یې د «سراج الأخبار» جریده په واک کې وه.

دغه راز یوه بله ډله د امیر حلقه وه چې په دربار کې یې شتون درلود او نه یې غوښتل چې امیر د انګرېزانو پر ضد جګړې ته مخه کړي. دغې ډلې له یو لوري د انګرېزانو پر ضد د جنګ توان په ځان کې نه لیده او له بل لوري یې فکر کوه، که چېرې امیر د انګرېزانو پر ضد په جګړې لاس پورې کړي، نو د انګرېزانو هغه دوامداره مرسته به په امیر قطع شي.

بالاخره امير دې ته مجبوره شو چې د يوې عنعنوي جرګې په ترڅ کې چې سپين ږيرو او دولتي چارواکو په کې ګډون کړی و او شمېر يې ۵۴۰ تنو ته رسېده، د ۱۹۱۵ز.کال د اکتوبرپه مياشت کې وروسته له مشورو او خبرو اترو اعلان وکړي چې افغانستان په ياد جنګ کې بې طرفه دی.

دغه تصميم او پرېکړې د المان او ترکيې استازي خفه او د انګرېزانو استازي خوشحاله کړل. کله چې د انګرېزانو پاچا له دغې پرېکړې خبر شو، له امير څخه يې منته وکړه او دا يې په ځان ومنله چې د کال دوه ميليونه او ۴۰۰ زره هندي کالدارې له افغانستان سره همکاري کوي او له دې نه پرته به د امير دربار ته په کال کې ٦۰ مليونه هندی کالداري ورکوي .(۸: ۲۷۲مخ)

د لومړۍ نړيوالې جګړې په لومړيو کې انګلستان په ترکيې بريد وکړ، دې کار په هند کې چې د انګرېزانو مستعمره و، ډېره اغېزه وکړه. په هند کې د انګرېزانو پر ضد هغه وخت عکس العمل شديد شو، کله چې شيخ الهند(محمود الحسن) پښتنو قبايلو ته لاس را وغځوه. دې کار انګرېزان په تشويش کې واچول، ځکه چې پښتنو قبايلو او ديني علماوو له (امير حبيب الله) څخه غوښتنه کوله چې د ديني لارښود په توګه دې د انګرېزانو پر ضد جهاد اعلان کړي. امير دا مسأله په دربار کې مطرح کړه. خلک په دوو ډلو ووېشل شول، يوې ډلې د جګړې پلوي کوله او بلې ډلې د امير په خوښه د بې طرفۍ خوا ونيوله. انګرېزانو هم امير دې ته هڅوه چې بې طرفه پاتې شي، ځکه چې ترکيه متحدينو سره يو ځای شوې وه او افغانستان ته يې يو هيأت را واستوه او هڅه يې کوله چې امير د انګرېزانو پر ضد جګړه کې برخه واخلي، خو امير هغه په ماهرانه ډول غافل وساتل او په خپلې پوهې او تدبير سره يې وکولی شول چې افغانستان په دې جګړه کې بې طرفه پاتې شي.(٦: ۱۵۱-۱۵۲ مخونه)

له هغې وروسته چې عثماني ترکانو په دغه جګړه کې ګډون وکړ، هڅه يې وکړه ترڅو په هند او منځنۍ اسيا کې د روسيې او انګرېزانو پر وړاندې د

مسلمانانو احساسات را وپاروي، نو د همدې موخې لپاره د افغانستان په ګډون د ترکانو پلاوي، نورو اسلامي هېوادونو ته ولاړل چې د ترکيې په پلوي توب په دغه جګړه کې برخه واخلي.

کله چې ترکي پلاوی افغانستان ته راورسېد، د افغانانو له لوري په ښه توګه بدرګه شو، دا ځکه چې ترکانو ته د اسلامي ورونو خطاب کېده او له بل لوري د اسلامي خلافت په مرکز يادېده او پر همدې بنسټ له هغوی څخه ملاتړ کېده. دغه پلاوی چې د ترکانو، المانيانو او د هند د دوه ازادي غوښتونکو(موهندرا پرتاب او برکت الله خان) په ګډون اتيا غړي درلودل، کابل ته راغلل او دوه ځلې يې له امير حبيب الله خان سره وليدل.

دغه پلاوي له امير څخه وغوښتل، تر څو د انګرېزانو او د هغو د متحدينو پر وړاندې د جهاد اعلان وکړي او له هغو سره يو ځای شي. سره له دې چې د افغانستان د عالمانو او د امير د کورنۍ د غړو په ګډون امان الله خان، نصر الله خان، عنايت الله خان، محمود طرزي او يو شمېر نورو کسانو له المان او د هغو له متحدينو سره د يو ځای کېدو غوښتنه کوله، خو يو شمېر انګرېز پلوه کسان چې د وخت د صدراعظم(عبدالقدوس خان) شاوخوا راټول وو، د دغه ملاتړ مخالفت کاوه. امير چې کله د دوی سلا مشورو ته غوږ کېښود، ويې منله چې د ۱۹۱٦ز.کال په ۲۹ مه نېټه، په دغې جګړه کې د افغانستان د بې طرفۍ اعلان وکړي چې بيا هماغسې وشول او پلاوی يې له مثبت ځواب پرته او په تش لاس بېرته خپل هېواد ته ستون کړ.(۷: ۲۳۳- ۴۳۴مخونه)

اډاميک د امير د پرېکړې او د بې طرفۍ په اړه بيا متفاوت نظر لري، هغه ليکي چې د افغانستان د بې طرفۍ اعلاميه څه ناڅه دوه اونۍ مخکې د ۱۹۱۴ز.کال د اکتوبر پر ۲۱ مه په سراج الأخبار کې خپره شوې وه، کومه کې چې په غوڅ ډول روښانه شوې وه چې افغانستان به له هېڅ کوم جګړه وال سره نه همکاري کوي او نه به يې هم پر ملا تړوي. همدارنګه نه به د هغوی پر

خاوره د تيري خيال په مغز کې لري، هغه هم په دې شرط چې د هېواد گټې به يې خوندي وي او هېڅ خطر به ورته نه پېښېږي.(۱: ۴۹مخ)

امير په بهرنيو چارو کې د برتانيې غلامي نه خوښوله او د پولې هغه غاړه پښتنو او د افغانستان د خلکو په گډو واکونو باندې يې پوخ يقين درلود. همدغه سبب و چې د اکثريت رايو له اخيستلو څخه وروسته يې دا پرېکړه وکړه چې د افغانستان گټه په دې کې ده چې لږ تر لږه په دې وخت کې بې طرفه پاتې شي.

امير دا هم نه غوښتل او نه يې مناسبه گڼله چې د برتانيې له مصروفيت څخه دې گټه پورته کړي او هغه غوښتنې دې وکړي چې د نه منلو په صورت کې د هغه شان ته زيان ورسوي. د يوې باوري سرچينې په قول، برتانيې په کابل کې د خپل استوگن (حافظ سيف الله خان) په ذريعه امير ته دا باور ورکړی و، که هغه بې طرفه پاتې شي او ملگرتيا وپالي، نو هغوی به د جنگ په ختمېدو سره د افغانستان پوره خپلواکي ومني.

د امير لپاره بې طرفي ساتل څه اسانه کار نه و. له کورني فشارونو سربېره دا حقيقت هم و چې مرکزي ځواکونو په جدي توگه هڅه کوله چې امير ځان ته را وکاږي. هغوی ته معلومات وو چې په نيمه وچه کې د بريتانوي حاکميت د کمزوري کولو لپاره د افغانانو نفوذ نه کار اخيستلی شو او د هغوی د وس نه يې گټه اخيستل غوښتل.(۵: ۳۳- ۳۴ مخونه)

کله چې په ۱۹۱۴ز.کال لومړۍ نړيوال جنگ ونښت، امير حبيب الله لاس تړلی د انگرېزانو د دوستۍ او ملگرتيا په هيله کېناست او په دغه حال کې يې يوه ورځ په يو لوی دربار کې چې د بهرنيو چارو وزارت د «استور» په قصر کې چې د ۱۳۳۲هـ ق.کال د رمضان المبارک د مياشتې وروسته د کمکي اختر په ورځو کې يې د انگلستان د فوق العاده استازي په مخکې وويل:« خط وايسرا صاحب هند به نام لاردهاردنگ در خصوص اخبار کيفيت حرب عمومی اروپا و داخل بودن دولت معظمه بريتانيه در اين حرب به حضور مارسيده،

وضمناً به طور اشعار دوستانه نوشته اند که: چون دولت عالی افغانستان از زمان اعلیحضرت ضیأ الملت والدین مرحوم با دولت معظمه بریتانیا عهد دوستی و پیمان مودت داشته و دارد و در مهمات و عظمات امور خارجه پرسیدن رای و استشاره دولت بریتانیا از جمله مواد عهدنامه قرارداد شده و تجدید هم شده است. از آنرو بیطرفی دولت علیه افغانستان را در این حرب حاضره مناسب تر و موافقتر دانسته، به اشعار دوستانه و اظهار مخالصت کارانه ابتدا ورزیده است. بعد از آن امیر اضافه کرد که: هدف و مفهوم از تحریرات دوستانه جناب وایسرا نوشتم که: واقعا دولت علیه ما با دولت بهیه شما تا به وقتیکه به شرف و حیثیت و استقلال و حریت آن هیچ تعرضی از هیچ طرف به وقوع نیامده باشد و شرایط معهود خلل پذیرنشده باشد، کما کان بر عهد و پیمان دوستی خود پایدار و استوار است و کذالک تا به هنگامیکه بر منافع حاکمیت و حقوق ملکیه او از هیچ طرف هیچ تجاوزی به وقوع نیامده باشد، از مسلک بیطرفی انحراف نخواهد ورزید».(۳: ۱۴۸مخ)

همدغې مسألې ته بیا افغان مؤرخ ابراهیم عطایي داسې اشاره کوي: د بریتانیې پاچا امیر ته لیک را واستوه او په هغه لیک کې د افغانستان په بې طرفۍ ټینګار شوی و. امیر د یاد لیک ځواب وځنډاوه، تر څو د ۱۹۱۵ز.کال د سپټمبر په ۱۲ مه نېټه د برتانوي هند د بهرنیو چارو سکرتر ترې ګیله وکړه او مکتوبي یې امیر ته ولیکل چې دا کار د دوستۍ شیوه نه ده.

وروسته له دې امیر سمدستي په کابل کې د انګرېزانو استازی(سیف الله) ته وویل چې ته د یو مسلمان او افغان په توګه چې دلته څه وینې هغه باید په ربښتیني ډول هند ته ولیکي. دلته لوی بحران دی او زه هغه آرامول غواړم او هغوی باید په دې قانع کړې چې زه د انګرېز یو ربښتینی دوست یم او د افغانستان بې طرفي به تر هغه وخته چې زموږ داخلي ګټې د خطر سره مخامخ نه شي، ساتو به یې.

بالاخره د ۱۹۱٦ز.کال د جنورۍ په ۱٦ مه امیر د بریتانیا د پاچا او د هند د ویسرای لیکونو ته ځواب واستوه او په هغه کې یې د هغه د مستمرې د زیاتوالي په باب ولیکل چې دا د افغانستان د خپلواکۍ او عزت لپاره یو تحقیر دی. بې طرفي باید په داخلي اقداماتو غښتلې شي او دا کار ډېرې پیسې غواړي.

امیر د بریتاینا له پاچا څخه تشکر وکړ او څرگنده یې کړه چې تر هغه وخته چې افغانستان ته کوم خطر مخامخ نه وي د افغانستان رفیع او خداداد دولت به خپلې بې طرفۍ ته دوام ورکوي او هغې دوستۍ ته چې تاسې یاده کړې، تل به د قدر په سترگه گوري.

د جنگ په پای کې امیر هیله درلوده چې د سولې په کنفرانس کې به افغانستان ته هم دعوت ورکړی، خو ولې لندن امیر ته په ځواب کې ولیکل چې د سولې په کنفرانس کې هغه هېوادونه گډون کولی شي چې په جگړه کې یې گډون کړی وي. په دې توگه د امیر لاس په یخو اوبو ووینځل شو او د افغانستان په دننه کې هم ورته عکس العملونه پیدا شول.(۴: ۱٦۲مخ)

### ۳ – له جگړې وروسته د بې طرفۍ د سیاست پایلې

لومړۍ نړیواله جگړه کې د افغانستان بې طرفي هغه موضوع ده چې پورته پرې یو څه بحث وشو. دې کې شک نشته چې بې طرفۍ یو څه گټې او هم زیانونه درلودل. په دې جگړه کې د افغانستان یوه گټه دا وه چې له ورانۍ، وېجاړۍ او بربادۍ څخه وژغورل شو. ځکه جگړه سره وحشت ملگرى او بربادي زېږوي. بله گټه یې په اقتصادي ډگر کې وه، هغه داسې چې هغه مهال اکثره هېوادونه د جگړو له امله اقتصادي ستونزو سره مخامخ شول او اقتصادي ستونزې بیا هغه څه دي چې ټولنې او هېوادونه له بد سرنوشت سره مخامخ کوي، خو افغانستان بیا د بې طرفۍ د سیاست له مخې وکولی شول چې د اقتصادي خطرونو څخه ځان مصئون کړي او پرېنږدي چې له اقتصادي رکود سره مخامخ شي.

دغه راز دبې طرفۍ د سیاست له امله افغانستان د امیر حبیب الله خان په مشرۍ وکولی شول چې له انګرېزانو څخه په کال کې دوه میلیونه او ۴۰۰ زره هندي کالدارې ملي خزانې ته او د خپل دربار لپاره ٦۰ ملیونه هندي کالدارې په لاس راوړي، چې دغه عاید په ټوله کې هغه مهال ډېر څه و.(۷: ۲۳۴مخ)

دغه راز د بې طرفۍ سیاست که له یو لوري د افغانستان په ګټه و، خو له بل لوري بیا د ځینو څېړونکو او مؤرخینو په قول له زیانونو او تشو څخه خالي هم نه و. د څېړونکو په قول لومړۍ نړیوالې جګړې کې ممکن و چې د برتانیې پوځي ځواکونه له ماتې سره مخامخ شي، هغه داسې که چېرې افغانستان په جګړه کې بې طرفه نه وی پاتې شوی او د المان او عثماني ترکیې سره ولاړ وی، په داسې حال کې افغانستان کولی شوی چې د قبایلو د سیمو بېلا بېل وګړي د انګرېزانو پر وړاندې قیام ته وهڅوي، په دې حالت کې بیا انګلستان مجبور و چې خپل هغه نظامیان چې له هند څخه یې بین النهرین ته استولي وو، بېرته هند ته را وغواړي او ترځنګ یې په دې هم مکلف وو چې نور نظامي ځواکونه له اروپا څخه را وغواړي او د قبایلو جنګ ته یې واستوي.

دغسې یوه حالت کولی شول چې د جګړې لوری بدل کړي ، خو کله چې افغانستان په جنګ کې د بې طرفۍ سیاست غوره کړ، انګرېزانو د آرام ساه ووېسته، د اروپا جبهې یې غښتلې کړې او پایله کې یې المان ته ماتې ورکړه.

بل زیان د بې طرفۍ د سیاست داو چې امیر د انګرېزانو پر وړاندې د خوش باورۍ ښکار و، امیر سره انګرېزانو ژمنه کړې وه که چېرې په جګړه کې بې طرفه پاتې شي، نو له جګړې وروسته به یې خپلواکي په رسمیت ومني، خو کله چې جنګ پای ته ورسېد، نه یواځې دا چې خپلواکي یې په رسمیت ونه منل شوه، بلکې د پاریس د سولې په کنفرانس کې افغانستان ګډون ونه شو کړی، ځکه چې د انګرېزانو استدلال امیر ته دا و چې دې کنفرانس کې

هغه هېوادونه ګډون کولی شي، چا چې جګړه کې برخه اخيستې وي.(۵: ۳۳ مخ)

### ٤ - دوهمه نړيواله جګړه

دويم نړيوال جنګ چې په ۱۹۳۹ز.کال پيل شوی و، په ۱۹۴۵ز.کال کې پای ته ورسېد. د دې جنګ لمبې چې له اروپا څخه پورته شوې وې، ډېرې ژر آسيا او د نړۍ نورو برخو ته ورسېدې.

د دې جنګ دوه لوري د متحدينو او متفقينو په نامه يادېدل. په متحدينو کې المان، ايټاليا، جاپان او دختيځې اروپا کوچني هېوادونه شامل وو او په متفقينو کې انګلستان، فرانسه، شوروي اتحاد، د امريکا متحده ايالات او يو شمېر نور اروپايي هېوادونه شامل وو.

دا يو خطرناک جنګ و. په دې جنګ کې چې په مستقيم ډول کوم هېوادونه شامل وو، ډېر مالي او ځاني تاوانونه يې وګالل او هغه چې په کې شامل نه وو، هم بې ټپه پاتې نه شول. د دې جنګ په دوران کې د افغانستان په شمال کې شوروي روسيه، په لويديځ کې اېران او په جنوب او ختيځ کې برتانوي هند و او ټول په کې رانسکور شول.

دغه مهال په افغانستان کې محمد ظاهر شاه، پاچا و او سردار محمد هاشم خان صدراعظم و. محمد هاشم خان په ډېر لوی تدبير نه يواځې افغانستان د جنګ له لمبو څخه وژغوره او هېواد ته يې کوم زيان ونه رسېد، بلکې د اقتصاد له اړخه يې د سپما لپاره کافي ډالر هم ذخيره کړل، کوم چې وروسته په پراختيايي پروژو کې کار ورڅخه واخيستل شو. کله چې دويمه نړيواله جګړه په ۱۹۳۹ز.کال کې پيل شوه، نو هماغه وخت افغانستان د بې طرفۍ اعلان وکړ او په پاچايي فرمان سره په جګړه کې دخيل نه شو.(۴: ۲۳۸مخ)

د ۱۹۴۰ز.کال د اګست په ۱۷ مه نېټه افغانستان په دويم نړيواله جنګ کې د بېطرفه پاتې کېدو اعلان وکړ. د افغانستان يو شمېر سياسي کړيو او

روښانفکرانو د المان پلوي کوله او دا يې ښه وخت او موقع بلله چې په دې جگړه کې د ښکېلو انگرېزانو له ستوني څخه د هغوی تر اشغال لاندې د هېواد ځمکې بېرته خپلې کړي.

د نړيوالې دويمې جگړې له پيل څخه مخکې د افغانستان او المان ترمنځ اړيکې خورا ښې او نږدې وې. د افغانستان لپاره په ټوله معنا دا طبيعي خبره وه چې له برتانيې سره د هغې د استعماري سابقې په رڼا کې له المان سره ښې اړيکې ولري. دا په دې چې المان په سيمه کې نه استعماري سابقه لرله او نه يې په افغانستان کې د ناروا گټو ادعا لرله. هغه مهال په افغانستان کې گڼ شمېر الماني ماهرينو په بېلا بېلو اقتصادي ډگرونو کې کار کاوه او او د دواړو ولسونو ترمنځ په خورا لوړه کچه سوداگري روانه وه.

که چېرې دويم نړيوال جنگ نه و پيل شوی، نو دا اړيکې به له شک پرته نورې هم غوړېدلې وې، خو جگړې يادو اړيکو ته ناڅاپي د پای ټکي کېښود. دا چې په دې جگړه کې د برتانيې ماتې حتمي وه، بيا هم د افغانستان پاچا، محمد ظاهر شاه د ناپېيلتوب اعلان وکړ چې دغه اعلان په خپل ذات کې د برتانيې لپاره په سخت حالت کې يو خوږ زېری و.

د زرملوال په قول، پاچا محمد ظاهر خو د خپل ولس د هيلو او غوښتنو پر خلاف دا «ښايسته ډالۍ» برتانيې ته ورکړه، خو آيا برتانيې د دې ښايسته او خوږې ډالۍ په ځواب کې څه وکړل؟ د برتانيې چلن متکبرانه او کټ مټ هغه شان و لکه د تاريخ په اوږدو کې يې چې درلوده. (۲: ۲۵٦مخ)

کله چې په ۱۹۳۹ ز.کال د سپټمبر په ٦ مه د پاچا د يو فرمان په ترځ کې د افغانستان بې طرفي اعلان شوه، همدغه مهال جگړې زور واخيست. د متحدينو(محور) پوځونه شوروي اتحاد ته ننوتل. دواړو خواوو(متحدينو – متفقينو) غوښتل چې د ايران په څېر افغانستان کې هم نظامي اډه جوړه کړي، خو افغانستان د دويم ځل لپاره د ۱۹۴۱ز.کال د جولای په ۲۸ مه يو

ځل بيا خپله بې طرفي اعلان او تائيد کړه. د افغانستان بې طرفي د ۱۹۴۱ز.کال د نوامبر په مياشت کې د لويې جرگې له خوا هم تائيد شوه.

د افغانستان حکومت يو شمېر الماني او ايټالوي انجنيران د شوروي او انگلستان له غوښتنې وروسته په ډېر عزت سره خپلو هېوادونو ته واستول.(٦: ۲۲۵مخ)

اډاميک ليکي، افغان واکمنان له لومړۍ نړيوالې جگړې څخه په تجربې سره په دې تکل کې وو چې يا خو به له دويمې نړيوالې جگړې څخه ځانونه ژغوري او يا به يواځې د افغانستان تر ټولو ښو گټو د گټلو په صورت کې به پرې ور گډېږي.

افغان پاچا، محمد ظاهر شاه له افغاني پارلمان سره تر يو لړ سلا مشورو وروسته د ۱۹۳۹ز.کال د سپټمبر په ٦ مه نېټه يو فرمان صادر کړ او په هغه کې يې د افغانستان د ناپېيلتوب اعلان وکړ. دې اعلان د جگړه والو ځواکونو د اتباعو پر خوځښتونو هم بنديز ولگوه او هم يې د تبليغاتو هر ډول فعاليتونه تم کړل او بل دا چې د خبرونو خپرول يې د جگړه والو ځواکونو د حکومتونو په رسمي نشر پورې محدود کړل. همدارنگه په پام کې وه چې يواځې به دکابل د اصلاح د ورځپاڼې له لارې خپرېږي.

پر شوروي اتحاد د المان له بريد نه يوه ورځ وروسته د افغانستان دبهرنيو چارو وزير(علي محمد خان) په کابل کې د المان سفير ته وويل، کله چې شوروي اتحاد او برتانيه ملگري شوي دي، د نړۍ سياسي وضعې ته يې پوره تغيير ورکړی دی، دغه وخت افغانستان نه شي کولی چې خپل يو گاونډي هم مشغول وساتي. د بهرنيو چارو وزير وويل: اوس د افغانستان حکومت نه د المان ملگری دی او نه د برتانيې ملگرتيا کوي، بلکې يواځې د افغانستان ملگرتيا کوي.(۱: ۴۴۴، ۴۵۱مخونه)

د ۱۹۳۹ – ۱۹۴۱ز.کلونو تر نيمايي پورې د افغانستان بې طرفي انگرېزانو ته گټه رسوله، ځکه چې افغانستان هغوی ته تسلي ورکړې وه چې د

افغانستان حکومت به د پاڅون لپاره د قبایلو لمسولو نه ځان وژغوري. دغه ډول انګرېزانو د بېطرفۍ ارزښت ته په پام کې نیولو سره د هغې دوام غوښته او بل لوري ته المان، ایټالیې او شورویانو هڅه کوله چې افغانستان خپل ځان لوري ته را کش کړي.

په مقابل کې المانیانو په افغان حکومت زور راوړه چې بېطرفي نه واوړي او د افغانستان جذباتي ادعا بیا تازه کړي. ډېر افغانان د بې طرفۍ نه د اوړېدلو طرفداران وو، یو زیات شمېر نوښتیان او ملتپالان د افغانستان د ادعاګانو د تاثیر لاندې المان ته مخ اړوه، د هغوی دا یقین و چې برتانیه به هېڅکله افغانستان ته خپله بایللې ځمکه بېرته ورنکړي او د المان د بریالیتوب په حال کې د دې امکان و.(۵: ۷۲ – ۷۳مخونه)

د دویمې نړیوالې جګړې له پای ته رسېدلو څخه مخکې د افغانستان حکومت د پرنګیانو(انګرېزانو) انصاف ته هیله مند وو، خو په ۱۹۴۴ز.کال د برتانیې حکومت ته د انګرېزانو تر اشغال لاندې سیمو خلکو د خپل برخلیک په اړه یو لیک واستوه. د افغانستان د حکومت هیله دا وه چې برتانیه به له دې کبله چې افغانستان په جګړه کې بېطرفه پاتې شوی، د افغانانو نیولې ځمکې بېرته ور وسپاري، خو داسې نه وه.

په ځواب کې یې انګرېزانو ولیکل چې د دوی په اند د دوی له لوري تحمیل شوی «ډېورند لاین» نړیواله پوله ده. هماغه و چې په دې اړه خبرې او شکایتونه په نړیواله کچه کله ناکله په ټیټه کچه پورته کېدل، خو په عمل کې د افغانستان حکومت د تل په شان د خپل ملت په متو اتکا نه شوی کولی او نه یې د خپل ولس د راتلونکې په اړه غوڅ اقدام کوه، همدغه سبب و چې د جګړې تر پایه پورې بې طرفه پاتې شو.(۲: ۲۵۹مخ)

**٦ – له جګړې وروسته د بې طرفۍ د سیاست پایلې**

له دویمې نړیوالې جګړې وروسته د افغانستان د بې طرفۍ(ناپېیلتوب) سیاست په اړه څېړونکي او مؤرخین بېلا بېل نظریات لري. یوه ډله دغه د بې

طرفۍ سياست ښه او پرځای اقدام بولي او بله ډله يې منفي عمل بولي. دا چې دلته بحث د همدغه سياست د ارزونې ده، لومړی د مثبت لوري نظر او بيا د مخالف لوري نظر د موضوع د بشپړتيا لپاره را اخلو.

دا جنګ يو خطرناک جنګ و، هغه چې په مستقيم ډول په دې جګړه کې دخيل وو، ډېر مالي او ځاني زيانونه يې وليدل. د دې جنګ په دوران کې محمد ظاهر شاه په افغانستان کې واکمن و او سردار محمد هاشم خان صدراعظم و. محمد هاشم خان وکولی شول چې په ډېر لوی تدبير نه يواځې افغانستان د جنګ له لمبو څخه وژغوري او هېواد ته زيان ونه رسوي، بلکې د اقتصاد له اړخه يې کافي ډالر هم سپما کړل چې بيا وروسته يې په پراختيايي پروژو کې ورځينې کار واخيست.

د دغه جنګ سنګيني له شک پرته پر افغانستان هم پرېوته او يو شمېر ستونزې يې رامنځته کړې، خو مدبر صدراعظم(هاشم خان) چې په عين زمان کې يو مستبد شخص و، په جدي توګه يې د افغانستان اوضاع نورماله وساتله او د هغه وخت د شرايطو سره په مطابقت کې يې نوموړی کار د ستاينې او د قدر وړ دی.(۴: ۲۳۸مخ)

پورتنی نظر چې اکثره څېړونکي په ځانګړي ډول د هېواد نوموتی مؤرخ ابراهيم عطايي تائيدوي، موخه يې ورځينې دا ده چې جنګ او جګړه له وژنو سربېره ګڼې نورې ستونزې زېږوي. اقتصاد له رکود سره مخامخ کوي، امنيت يې پر سبب خرابېږي، وېجاړي رامنځته کوي او انسانان وږي کوي، دا ټول هغه څه دي چې د وخت د حکومت په ښه سياست او د ښې پاليسۍ په پايله کې رامنځته نه شول او محمد هاشم خان خپل مسؤليت هغه مهال په ښه ډول درک کړ.

له بل لوري بيا نور څېړونکي مخالف نظر لري. وايي چې د بې طرفۍ(ناپېيلتوب) سياست په ټوله کې د افغانستان په خير نه، بلکې په شر و.

استدلال کوي چې دغه پالیسي په هغه سخت مهال کې د برتانیې لپاره د تاریخ تر ټولو ښه، غوره او خوړه ډالۍ وه.

وايي، د افغانستان پاچا خو د خپل ولس او ملت د هیلو او غوښتنو پر خلاف دا ښکلې ډالۍ انګلستان ته ورکړه، خو آیا انګرېزانو د دغې ډالۍ په مقابل کې افغانستان ته څه ورکړل؟ پرته له دې چې چلند یې د پخوا په څېر متکبرانه و او د افغانستان په حکومت یې زور واچوه چې المانیان له خپل هېواده وباسي او په جګړه کې بې طرفه پاتې شي.

د افغان حکومت هیله دا وه چې برتانیا به له دې کبله چې افغانستان په جګړه کې بې طرفه پاتې شوی، د افغانانو نیولې ځمکې ور وسپاري، خو داسې نه وه. په ځواب کې انګرېزانو داسې ورته ولیکل چې د دوی په اند د دوی له خوا تحمیل شوی «ډېورند لاین» نړیواله پوله ده او موږ نه شو کولی چې یو نړیواله پوله ستاسو حکومت ته وسپارو. هماغه و چې په دې اړه خبرې او شکایتونه په ټېټه کچه کېدلې، خو په پایله کې افغان حکومت د تل په څېر د خپل ملت په مټو اتکا نه شوه کولی، پرته له دې چې د خپل ولس د راتلونکي په اړه غوښ اقدام وکړي د جګړې تر پایه بې طرفه پاتې شو.(۲: ۲۵۹مخ)

**پایله**

د څېړنې په پای کې ویلی شو چې د لومړۍ او دویمې نړیوالې جګړې پر مهال د افغانستان د بې طرفۍ سیاست هغه بحث دی چې په اړه یې څېړونکو او مؤرخینو بېلا بېل نظریات وړاندې کړي. دا چې په دې دواړو جګرو کې افغان حکومت بې طرفي غوره کړې، هغه سیاست دی چې د وخت حاکمانو وروسته له ډېرو مشورو او نظریاتو اورېدلو نیولی.

د لومړۍ نړیوالې جګړې پر مهال د افغان حکومت مشري امیر حبیب الله خان کوله او دویم نړیوال جنګ کې بیا د افغانستان د حکومت واګې د محمد

ظاهر شاه په لاس کې وې، دواړو مشرانو پرېکړه وکړه چې باید افغانستان له جګړې وساتي او د بې طرفۍ سیاست د حل لار وبولي.

دا چې نوموړی سیاست د افغانستان په زیان و او که په ګټه، په دې اړه بیا څېړونکي او تاریخ پوهان د نظریاتو اختلاف لري. هغه ډله چې بې طرفي ښه بولي خپل دلایل لري او ځوک چې يې په زیان ګڼي خپل استدلال کوي.

د دواړو جګړو د ګټې بحث څېړونکیو دا کړی چې افغانستان د جګړو پر مهال له ورانۍ، وېجاړۍ او له وژنو ساتل شوی او آن په دواړو جګړو کې افغان حکومت په مالي برخه کې د وخت پیسې د هېواد د آبادۍ لپاره سپما کړې.

دغه راز د دویمې ډلې نظر بیا متفاوت دی، هغوی ادعا لري که چېرې په دغو جګړو کې افغان حکومت بې طرفه نه وی پاتې شوی، په لومړي قدم کې افغان حکومت له استعمار څخه د تل لپاره خلاصېده، د خپلواکۍ له ستر نعمت څخه برخمن کېده او هم يې هغه سیمې بیا ځل لاسته راتللې کومې چې يې په بېلا بېلو حالاتو کې له لاسه ورکړې وې او په ټوله کې په راتلونکي کې د انګرېزانو د شرارت او د دسیسو ښکار نه ګرځېده.

**وړاندیزونه**

د پورته څېړنې په پای کې د افغانستان اسلامي امارت ته لاندې وړاندیزونه لرم:

۱ – که چېرې د لومړۍ او دویمې نړیوالې جګړې پر مهال د افغانستان د بې طرفۍ سیاست او پالیسۍ ته وکتل شي، د اکثریت څېړونکیو په نظر هغه مهال افغانستان ګټه کړې، له رنګا رنګ ستونزو ساتل شوی او په ټوله کې د دغې پالیسۍ په سبب په نړۍ کې ځلېدلی، نو اسلامي امارت ته هم په کار ده چې خپل بهرنی سیاست د بې طرفۍ(ناپېیلیتوب) د اصل له مخې وټاکي او پر مخ ولاړ شي.

۲ – د رسمیت پېژندلو موضوع اسلامي امارت ته اړینه او مهمه موضوع ده، په نړیوالو مسایلو کې اوسمهال بې طرفي او چوپتیا کولی شي چې ګاونډیانو او

په ټوله کې نړۍ سره یې له مخې اړیکې ښې او ورغول شي، د اړیکو د ښه والي په پایله کې خپله بیا د رسمیت پېژندنې بحث رامنځته کېږي.

**مأخذونه**


۱ – اډامیک، لوډویک. د شلمې پېړۍ تر نیمایي د افغانستان د بهرنیو اړیکو تاریخ، لومړی چاپ، دانش خپرندویه ټولنه: پېښور، ۱۳۸۳ل.

۲ – زرملوال، غلام محمد. افغانستان تر وروستي افغانه(په سیاسي تاریخ کې لنډه څېړنه)، لومړی چاپ، دانش خپرندویه ټولنه: پېښور، ۱۳۸۳ل.

۳ – زماني، خیرمحمد. تاریخ معاصر افغانستان(۱۷۴۷ – ۱۹۲۹ ز)، دویم چاپ، انتشارات عازم: کابل، ۱۳۹۲ل.

۴ – عطایي، محمد ابراهیم. د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه، لومړی چاپ، میوند خپرندویه ټولنه: پېښور، ۱۳۸۳ل.

۵ – غوث، عبدالصمد. د افغانستان سقوط، ژباړن: ډاکټر شېر زمان طایزی، لومړی چاپ، دانش خپرندویه ټولنه: ۱۳۷۸ل.

٦ – گریگوریان، وارتان. ظهور افغانستان نوین. لومړی چاپ، محمد ابراهیم شریعتی افغانستانی: تهران، ۱۳۸۸ل.

۷ - منیب، عبدالعزیز. د افغانستان معاصر تاریخ. لومړی چاپ، محمدي خپرندویه ټولنه: کابل، ۱۳۹۳ل.

۸ – نیازی، مستعلي. د افغانستان معاصر تاریخ. لومړی چاپ، ختیځ خپرندویه ټولنه: ننگرهار، ۱۴۰۰ل.

څېړندوی عبدالقهار عزيزي

# د مصنوعي ځيرکتيا او د حقوقو متقابلې اړيکې

# The Reciprocal Relationship Between Artificial Intelligence and Law

***Assistant Professor Abdul Qahar Azizi***

**Abstract**

Artificial intelligence (AI) is a recent innovation in the field of technology that has permeated nearly every aspect of human life, triggering transformations across various domains. From medicine to criminal justice, and from international law to interpersonal and transportation-related interactions, AI has had a profound impact, leading it to be regarded as a revolutionary force.

AI has introduced numerous conveniences into human life and has proven to be highly beneficial. For instance, there are machines that operate autonomously without human intervention and can even outperform humans in certain tasks. In the legal sector, the use of AI contributes to the improvement of practical legal functions and the enhancement of legal processes, offering advantages to both public and private institutions.

Despite these benefits, AI presents several challenges—common to many advanced systems—but this paper does not focus on general difficulties. Rather, it

explores how AI technology influences the theoretical and practical dimensions of law. The paper also examines potential risks associated with AI usage, particularly the issue of legal responsibility: Who is to be held accountable when damage arises from the use of AI systems? Additionally, matters concerning privacy, personal data protection, and the privileges of invention and discovery under intellectual property law are also investigated.

This research adopts a descriptive-analytical method and draws on a range of sources, including academic papers, instructional videos, legislative documents, and conventions. These resources have been utilized to develop context-specific solutions suitable for the legal landscape of Afghanistan.

**Keywords**: Autonomous, Artificial Intelligence, Technology, Attribution of Responsibility

**لنډیز**

مصنوعي ځیرکتیا د ټکنالوجۍ د برخې یو نوی نوښت دی، د ژوند ټولو برخو ته ننوتلې ده او په هره برخه کې یې انقلاب رامنځته کړی دی. دا ټکنالوجي له طبي برخې نیولې تر جنایي برخې او له نړیوالو حقوقو څخه نیولې بیا د افرادو خپل منځي اړیکو او د ټرانسپورټي اړیکو تر کارولو ټولې برخې په ځان کې رانغاړي. نو په همدې خاطر د انقلاب رامنځته کوونکې ګڼل کېږي.

مصنوعي ځیرکتیا انساني ژوند ته یو لړ اسانتیاوې رامنځته کړې دي او د ګټو لامل شوې ده. د بېلګې په توګه، داسې ماشینونه شته چې له انسان پرته په خپلچاري ډول کار ترسره کوي او حتی له انسان څخه یې په ښه بڼه ترسره کوي. په حقوقي برخه کې، د عملي حقوقي چارو د ښه والي لهپاره د مصنوعي ځیرکتیا کارول او دغه راز د حقوقي بهیرونو ښه کول د مصنوعي ځیرکتیا له یو لړ ګټو ګڼل کېږي چې دولتي او خصوصي دواړه اداري ورڅخه ګټه اخیستلی شي.

د ګڼو سربېره يو لړ ننګونې هم لري چې د يو شمېر څيزونو يوه مشخصه ده، مګر دلته په دې مقاله کې په عمومي ننګونو او ستونزو باندې بحث نه دی شوی، بلکې په دې بحث کېږي چې مصنوعي ځيرکتيا ټکنالوجۍ څنګه د حقوقو تيوريکي او عملي شتون باندې اغېز ښندي. په دې مقاله کې به د مصنوعي ځيرکتيا د کارولو احتمالي ګواښونه هم وڅېړل شي. په مشخص ډول په د مسؤوليت په موضوع باندې بحث ترسره شي چې د مصنوعي ځيرکتيا له کارولو څخه د راپيدا شوي زيان په صورت کې څوک مسؤول ګڼل کېږي. د دې سربېره، د محرميت او خصوصي حريم او ترڅنګ يې د معنوي ملکيت په برخه کې د اختراع او کشف د امتياز راجع کولو مسايل هم څېړل کېږي.

په دې مقاله کې له توصيفي-تحليلي ميتود څخه ګټه اخيستل شوې ده او د علمي مقالو، درسي ويډيوګانو، تقنيني سندونو او کنوانسيونونو په ګډون کتابتوني مواد راټول شوي او د افغانستان د شرايطو مطابق د حل‌لارو موندلو له‌پاره ترې ګټه اخيستل شوې. بالاخره، مقاله په پايله، وړانديزونو او د مأخذونو په فهرست پای ته رسېدلې ده.

**کليدي لغتونه:** خپل‌چاري، مصنوعي ځيرکتيا، ټکنالوجي، د مسؤوليت انتساب

**سريزه**

په تېرو څو کلونو کې د مصنوعي ځيرکتيا ټکنالوجۍ بې ساری پرمختګ کړی دی چې د علمي ساحې او حتی د ژوندانه د ډګر هره برخه يې اغېزمنه کړې ده. د نړۍ په ګوټ ګوټ کې په هره برخه کې د مصنوعي ځيرکتيا ډول ډول سيستمونه رامنځته شوي دي او د يو ساينسي انقلاب شکل يې غوره کړی دی. له څېړنيزې برخې نيولې بيا تر رغنيزې او نورو برخو پورې هره ساحه يې تر خپل چتر لاندې راوستې ده. د مثال په توګه، په دې وروستيو کې د امريکا

«ChatGPT»، چینایي «DeepSeek» او ورپسې «Grock۳» مصنوعي ځیرکتیا په علمي او څېړنیزه نړۍ کې یو نوی انقلاب رامنځته کړ.

مصنوعي ځیرکتیا د تېرو څو کلونو راهیسي یوه ګرمه موضوع ګرځېدلې ده. هېوادونه یې د بېلابېلو موخو لهپاره کاروي، ځینې یې د خپلې پوځي ځواکمنتیا او ځینې نور یې بیا د طبې پرمختګ او لاسبري لهپاره کاروي. دغه راز، ځینې هېوادونه یې یوازې د څېړنیزو موخو لهپاره کاروي. یعنې مصنوعي ځیرکتیا په هره برخه کې اغېز ښندلی او د علومو ټولې برخې یې تر خپل تاثیر لاندې راوستې دي. په حقوقي برخه یې هم اغېز ښندلی او د مصنوعي ځیرکتیا پرمختګونه او تاثیر د پام وړ دی.

دغې ټکنالوجۍ د ګڼو سربېره د مسؤولیت، خصوصي حریم او محرمیت، معنوي ملکیت او دولتي امورو کې یو لړ عمده ننګونې ایجاد کړې دي. د بېلګې په توګه که د مصنوعي ځیرکتیا په ټکنالوجۍ سنبال سیسټم کومه غلطي وکړي او کوم انسان ته زیان ورسوي یا یې مال تلف کړي، نو مسؤولیت یې چاته ور ګرځي؟ په دې څېړنه کې به په یادو مشخصو برخو باندې د مصنوعي ځیرکتیا د برخې اغېزې تحلیل شي او د اصولي چوکاټونو د ایجاد او ښهوالي لهپاره به مشخص وړاندیزونه ترسره شي.

**د څېړنې اهمیت او مبرمیت:** لکه څرنګه چې مخکې روښانه شول، په نړۍ کې د مصنوعي ځیرکتیا په برخه کې د پام وړ پرمختګونه ترسره شوي او لا هم د پرمختګ په حالت کې دي. دا پرمختګ خورا چټک دی او د حقوقو په برخه کې یې ډول ډول ننګونې رامنځته کړې دي. په دې څېړنه کې د یادو حقوقي ستونزو او ننګونو درک او مدیریت څېړل کېږي او د اصولي اسنادو د ایجاد د اړتیا د واضح کولو لهپاره یو علمي اثر وړاندې کېږي، نو په همدې خاطر دې څېړنې ته اړتیا لیدل کېږي.

دا چې نوموړې څېړنه به د مصنوعي ځیرکتیا د برخې د حقوقي ننګونو د ښه تشخیص او د اصولي اسنادو د تدوینوونکو لهپاره یو لړ عملي وړاندیزونه

ولري، چې د افغانستان په حقوقي نظام کې د اړوند برخو لهپاره نوې لارې چارې وړانديزوي، نو په همدې خاطر د ډېر اهميت لرونکې موضوع ده.

**د څېړنې هدف:** د مصنوعي ځيرکتيا د کارولو له کبله په حقوقي ډګر کې د رامنځته شوو ننګونو او ستونزو پېژندل، د شته اصولي مقرراتو تحليل چې څرنګه د مصنوعي ځيرکتيا له لوري رامنځته شوي مسايل تنظيموي او د مصنوعي ځيرکتيا د تنظيم په برخه کې د اصولي تعديلاتو او نوو اصولي اسنادو د تسويد او تدوين د اړتياوو واضح کول.

**اصلي پوښتنه:** مصنوعي ځيرکتيا او حقوق له يو بل سره څرنګه اړيکې لري؟

**فرعي پوښتنې:** مصنوعي ځيرکتيا د حقوقو پر وړاندې کومې ننګونې راپيدا کړې دي؟ د دغو ننګونو د هوارۍ لهپاره په کور دننه او نړيواله کچه کوم ډول اصولي چوکاټونه او لارې چارې شتون لري؟

**د څېړنې فرضيه:** مصنوعي ځيرکتيا او حقوق يو له بل سره ټينګې اړيکې لري او د دغو اړيکو له برکته يو پر بل باندې اغېزې ښندي. اټکل دا دی چې د نورو علومو او ساحو په څېر، مصنوعي ځيرکتيا په حقوقي برخو هم خپل اغېز ښندلی دی او دا برخه يې د مسؤوليت، نويو حقوقي اسنادو ته د ايجاد او ورته نورو برخو کې تغييراتو ته اړ کړې ده. د پورته پوښتنو د ځواب لهپاره، په دې مقاله کې دا برخې څېړل شوې دي: په عمومي ډول مصنوعي ځيرکتيا او حقوق، په دولتي سکټور کې مصنوعي ځيرکتيا، په خصوصي سکټور کې مصنوعي ځيرکتيا، په ځينو مشخصو برخو باندې د مصنوعي ځيرکتيا د کارولو اغېزې او په حقوقي برخه کې د رامنځته کړيو ستونزو او ننګونو د حل لارې چارې.

**د څېړنې تيوريکي يا تيوريز چوکاټ:** د دې څېړنې لهپاره له حقوقي رياليزم[١] او له مثبته حقوقي نظريو[٢] څخه ګټه اخيستل شوې ده. د لومړۍ

---

[١] Legal Realism
[٢] Legal Positivism

نظریې مطابق د مصنوعي ځیرکتیا په ټکنالوجۍ سنبالو سیستمونو له لوري د ترسره کېدونکو پرېکړو شفافیت او ترځنګ یې د ستونزو په هواري کې د قضاتو رول چې د حقوقو اړوند واقعیتونه دي، څېړل کېږي. د مثبته حقوقي نظریې مطابق چې د قوانینو د ایجاد او تطبیق د اصولو اړتیا روښانه کوي، د مصنوعي ځیرکتیا په برخه کې د شته قوانینو ضعف او راتلونکي کې د نویو هغو د ایجاد په اړتیا باندې بحث د دې نظریې پر بنسټ ترسره کېږي ترڅو نویو اصولي اسنادو ته اړتیا روښانه کړل شي. دغه راز، د مسؤولیت د انتساب تیورۍ په رڼا کې د مسؤولیت راجع کولو په بېلابېلو لارو رڼا اچول شوې ده.

**د څېړنې میتود:** د څېړنې میتود تحلیلي-توصیفي دی. د اړتیا وړ مواد د نړۍ له معتبرو علمي ادارو او پوهنتونو څخه ترلاسه شوي او دلته د افغانستان له شرایطو سره په سمون څېړل شوي او تحلیل شوي دي.

دا څېړنه د مصنوعي ځیرکتیا له پېژندنې پیل کېږي، ورپسې په عامه اداره، د معنوي ملکیت حقوقو، طبي قوانینو او ځینو برخو باندې د مصنوعي ځیرکتیا په اغېزو ور ټوله ده. همدارنګه په دې څېړنه کې په هغو حل لارو هم بحث شوی دی چې د مصنوعي ځیرکتیا د ټکنالوجۍ له لوري په نړۍ کې رامنځته شوو ننګونو د هواري لپاره ایجاد شوي دي. دا حل‌لارې د افغانستان له شرایطو او اوضاع سره ارزول او تړل شوي او تر څنګ یې د څېړنې پایلې او وړاندیزونه څېړنه رانغاړي.

**لومړی- د مصنوعي ځیرکتیا پروګرام ( Artificial Intelligence Program) څه ته وایي؟**

دا یوه پېچلې پوښتنه ده او له بده مرغه چې ځواب موندل ورته ستونزمن ښکاري. خو له پېژندنې وړاندې که دا لغت تجزیه شي، بیا یې مفهوم یو څه روښانه کېدای شي. دا اصطلاح له دریو کلمو څخه جوړه ده: مصنوعي (Artificial)، ځیرکتیا (Intelligence) او پروګرام. ذکاوت یا ځیرکتیا، چې په انګریزي کې ورته انټلیجینس (Intelligence) وایي؛ یوه اوږده او پېچلې

مخينه لري. د انګريزي ژبې انټيليجنس کلمه د لاتيني ژبې د «Inter» (منځ) او «Legere» (انتخابول، لوستل) له کلمو څخه راخيستل شوې ده. نو له لغوي پلوه، ځيرکتيا «Intelligence » هغه وړتيا ده چې يو شخص د متفاوتو ځيزونو ترمنځ توپير کولی شي. د مصنوعي معنی دا چې د انسان په واسطه جوړ شوی وي. ځينې يې ډېر ساده کارونه ترسره کوي، لکه د نمبرونو زياتول او نور چې دا مصنوعي ځيرکتيا نه شو بللی. مګر ځينې نور بيا پېچلي کارونه هم اجراء کولی شي چې انسان يې په ترسره کولو کې ځينې وختونه له ستونزو سره مخ کيږي. د بېلګې په توګه، د مصنوعي ځيرکتيا ځينې پروګرامونه په عامه ځايونو کې د مجرمينو د څېرې پېژندلو لهپاره کاريږي، ځينې يې د ليکنو او خبرو د تحليل او پروسيس لهپاره کارول کېږي، ځينې نور بيا د پير او پلور لهپاره د مناسب وخت او طريقې د تشخيص له لارې د توکو د قيمت کولو په موخه کارول کېږي. د اروپايي ټولنې د پارلمان او شورا په مقرراتو کې مصنوعي ځيرکتيا په دې ډول تعريف شوې ده: «د مصنوعي ځيرکتيا سيسټم يو ماشيني سيسټم دی او د دې لهپاره ډيزاين شوی دی چې بېلابېل خپلچاري[٣] فعاليتونه ترسره کړي او له ځای پر ځای کېدو وروسته د څرګندو او ضمني موخو د لاسته راوړلو لهپاره له چاپيريال سره تطابق وکړي، له ورکړل شوې ډېټا څخه اخذ وکړي چې څرنګه نتيجې رامنځته کړي لکه د وړاندوينو ترسره کول، د منځپانګې توليد، د توصيو ورکول يا د پريکړو کول چې په فزيکي يا انلاين چاپيريال باندې اغېز ښندي» ( Regulation EU ٢٠٢٤/ ١٦٨٩ of the European Parliament and of the Council: article ٣, ١) نو په لنډ ډول ويلی شو چې مصنوعي ځيرکتيا هغه سيسټمونه دي چې د انسان له مداخلې پرته د انسان د فعاليت په څېر خپل فعاليتونه په خپلچاري ډول ترسره کوي، د انسان په څېر فکر، عمل او استدلال ترسره

[٣] autonomous

کوي. د مصنوعي ځيرکتيا سيستمونه په ډېرو چارو کې کارول کېږي چې لاندې يې ځينې بېلگې وړاندې کېږي.

په دې وروستيو کې، ۱۴۰۳ کال د جدي مياشتې په ۲۰ مه نېټه باندې، د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت د امريکا د دغه هېواد د ويزو د ردولو لەپاره د مصنوعي ځيرکتيا ټکنالوجي په کار واچوله ترڅو هغه کسان تشخيص کړي چې د فلسطين د داعيې مبارزين دي، امريکايي ويزې ور نه کړي. دا تشخيص په ټولنيزو رسنيو کې د لټون پر مټ ترسره کېږي چې د خلکو حسابونه کتل کېږي او پرمټ يې پرېکړه وکړي چې آيا دغه غوښتونکي د فلسطين پر قضيه خواخوږي ښودلې که څنگه. د ځواب د مثبتوالي په صورت کې يې ويزه رد کېدله.

ځينې د اوبو لاندې گرځېدونکي او په هوا کې الوتونکي روباټونه په خپل چاري ډول تگ راتگ کولی شي. په دې وروستيو کې، خپل چاري موټرونه هم جوړ شوي دي. دا موټران په خپل‌چاري ډول چليږي، سرو ټرافيکي نښو ته ودريږي، ټرافيکي اصول مراعت کوي او نور موټرونه او پلي خلک نه وهي. ICRC, Autonomous Weapon Systems: Technical, Military, Legal ) (and Humanitarian Aspects: p ۲٦ دا يې يوازې يو څو بېلگې دي، مگر مصنوعي ځيرکتيا ډېرې نورې برخې هم لري چې په همدغو مثالونو يې بسنه کېږي. له دغو مثالونو څخه داسې ښکاري چې مصنوعي ځيرکتيا يوه چټکه او ښه وسيله ده چې د انسانانو د ستونزو په راکمولو کې گټوره ثابته شوې ده.

**دوهم- د مصنوعي ځيرکتيا د ټکنالوجۍ ځانگړنې**

مصنوعي ځيرکتيا ټکنالوجي يو شمېر عمومي مشخصات لري چې د کارونو په ترسره کولو کې يې اسانتياوې رامنځته کړې دي. دا مشخصات په لاندې څنگزنو سرليکونو کې مطالعه کېږي.

**۱- د طبيعي ژبې پروسېس:** مصنوعي ځيرکتيا کولی شي د طبيعي ژبې پروسېس ځينې بې ساختاره او بې جوړښته متني ډېټاوې لکه قانوني اسناد،

راپوروونه او عمومي احساسات وشني، هغه که د نړۍ په هره ژبه باندې وي. دا چاره له ځینو دندو لکه د قرارداد تحلیل، له مقرراتو سره سمون، پر عمومي افکارو څار او اطلاعاتو ته په لاسرسي کې مرسته کولی شي.

**۲- د تقلب تشخیص او امنیت:** مصنوعي ځیرکتیا د ډېټا په لویو مجموعو کې د نمونو او بې نظمیو په پېژندلو سره د احتمالي تقلبونو، سایبري ګواښونو د مخنیوي او امنیتي مسایلو په برخه کې مرسته کولای شي. همدا راز کولای شي چې له دولتي ادارو سره د مهمو زیربناوو په ساتنه، د حساسې ډېټا په خوندیتوب او د خطرونو په کمښت کې مرسته وکړي.

**۳- ځیرک ښاري سیستمونه او زیربنا:** د مصنوعي ځیرکتیا ټکنالوجۍ کولای شي د ټرافیکو د مدیریت، د انرژۍ د مصرف، کثافاتو د مدیریت او عمومي امنیت په ښه کولو سره د ځیرکو ښاري سیستمونو پراختیا شونې کړي. په مصنوعي ځیرکتیا سنبال سیستمونه کولای شي له دولتي سازمانونو سره د ښې ښاري پلان جوړونې، د حمل و نقل په شبکو او زیربناوو په ساتنه کې مرسته وکړي (مصنوعي ځیرکتیا، د انسان رقیب که ملګری: ۱۴۰۲، جوزا، ۲۵).

**۴- خپلچاري** «**Autonomy,**»: مصنوعي ځیرکتیا کولای شي چې ځینې تکراري او له وړاندې ټاکل شوي کارونه خپلچاري کړي او دولتي کارکوونکو ته اجازه ورکړي چې پر زیاتو پېچلو او ستراتېژیکو کارونو تمرکز وکړي. په دې عمومي دندو کې د ډېټا ثبتول (لکه وارده او صادره)، د اسنادو پروسېس، له مراجعینو سره مرسته او اداري چارې شاملېږي. دغه راز خپلچاري ټکسي موټرونه، په کانونو کې خپلچاري ټرکونه، د مدافع وکیل په رول کې، د پېښې د متضرر په توګه، په طبي برخه د ډاکټر د مرستیال او مستقل ډاکټر یا جراح په توګه.... او داسې نورو هغه چارې دي چې د مصنوعي ځیرکتیا پر مټ اوسمهال ترسره کېږي.

**۵- د انساني ځانګړنو د تقليد وړتيا:** په دې وروستيو کلونو کې د مصنوعي ځيرکتيا هغه ځانګړتيا چې د انساني صفاتو د تقليد په برخه کې يې خپله کړې ده، بيخي عالي ده حتی چې عادي انسانانو ته به يې تشخيص ستونزمن وي چې ياد خواص اصلي دي که د مصنوعي ځيرکتيا پر مټ جوړ شوي دي. د بېلګې په توګه د غږ مشابهت، د انساني سلوک انځور وړاندې کول او له انسانانو سره د روباټونو داسې چلند چې ځرګند عاطفي حساسيت لري. دې چارې هغه اندېښنې زياتې کړې دي چې ممکن مصنوعي ځيرکتيا داسې وړتيا پيدا کړي چې خلک به وغولوي او د غير اخلاقي يا نورو ناسمو موخو لپاره به وکارول شي. (Karen Yeung: ۲۳- ۲٤ pp) يو روباټ کولی شي چې د انسان په څېر ستړي مه‌شي وکړي، دغه راز هغه خدماتي کارونه چې په هوټلونو کې يې انسانان کوي، روباټ يې تر انسان ښه ترسره کوي، همدارنګه د انسان د غږ په څېر غږ جوړولو او د هغه په څېر تصوير او ويډيوجوړول يې ډېر مهم دي. په داسې حالت کې د اصلي او جعلي منځپانګې جلا کول، ستونزمن دي، په تېره بيا عادي انسانانو لپاره.

**٦- د فردي خوښو مطابق چاپيريال رامنځته کولو وړتيا:** مصنوعي ځيرکتيا د دې وړتيا لري چې د انټرنيټي پلټنو او د انسانانو د پل ځارنې له لارې د هغوی خوښې معلومې کړي او ترځنګ يې ورته د هغه د خوښې وړ منځپانګه برابره کړي. د بېلګې په توګه که فيسبوک ته نظر واچول شي، د هر کس د خوښې مطابق معلومات ورته مخې ته راولي، نجونو ته به د ميک اپ، تاجرانو ته به د سوداګريزو توکو او دې ته ورته نور. ښاغلی يونګ په دې اړه وايي: «په داسې حال کې چې د ډيجيټلي خدماتو او وړانديزونو انفرادي کول يا شخصي کول[٤] کاروونکو ته د نامربوطه وړانديزونو او خدماتو د ترلاسه کولو د کچې په راټيټولو کې مرسته کړې، نتيجه يې دا کېږي چې کاروونکي له يو بل څخه بېلوي يعنې يو کاروونکی د خپلې معلوماتي برخې ځانګړې شوې

[٤] personalisation

منځپانګه ویني چې ښایي له نورو هغو سره متفاوته وي.» (Karen Yeung: p ۲٤) دې چارې سره افراد له یو بل څخه جلا کېږي او ټولنیزو اړیکو او حتی د پیوستون احساس یې هم راټیټېږي. په هر حال، د مصنوعي ځیرکتیا سیسټمونه د دغو پورته مشخصاتو په سبب یو لړ ګټې او یو لړ زیانونه لري. دا ګټې او زیانونه یې په لاندې جلا سرلیکونو کې تر مطالعې لاندې نیسو.

**دریم- د مصنوعي ځیرکتیا د ټکنالوجۍ ګټې او زیانونه**

هر څیز د ګټې  او تاوان دواړو احتمال لرونکی وي. د ټکنالوجۍ په برخه کې دا احتمال هم صدق کوي. مصنوعي ځیرکتیا هم په خپل وار سره د یو لړ ګټو او د ځینو تاوانونو لرونکې ده. دا ګټې او زیانونه په لاندې جلا عناوینو کې په تفصیل سره څېړل کېږي.

**الف- ګټې**

مصنوعي ځیرکتیا د علومو په برخه کې د یو انقلاب په ډول په چټکۍ سره د پرمختګ په حال کې ده. دې ټکنالوجۍ سیسټمونه نوي کړي، دودیز هغه یې پرېښي او  نوي او معاصر سیسټمونه یې په هره برخه کې ځایناستي کړي دي. د موټر په برخه کې که نظر وکړو، دا ټکنالوجي د انسان د وخت د سپما لامل ګرځېدلې ده. موټر پرته له دې چې د انسان په  واسطه  چالان شي، په خپله چالانیږي او د هدف وړ ځای ته په خپلچاري ډول ځان رسوي. د دې سربېره، هغه سخت کارونه چې پخوا به کارګرو ترسره کول، اوس د مصنوعي ځیرکتیا د ټکنالوجۍ پرمټ په اسانه ډول ترسره کېږي. په لاندې څنګزنو سرلیکونو کې د مصنوعي ځیرکتیا ګټې په تفصیل سره څېړل شوي دي.

**۱- خپلچاریتوب (Autonomy)**

لکه څرنګه چې مو په مشخصاتو کې وویل، د مصنوعي ځیرکتیا ټکنالوجي ټول فعالیتونه په خپلچاري ډول ترسره کوي. دا یې یوه له مهمو مشخصاتو څخه ده او ډېرې ګټې هم له ځان سره لري. خپلچاریتوب په دې معنی چې له وړاندې څخه د جوړونکو له لوري په کومو الګوریتمونو روزل شوی وي،

هماغه ډول له چاپیریال سره ځان عیاروي او د انسان له مداخلې پرته، په خپل سر کارونه نه ترسره کوي. خپل چاریتوب له اتوماتیک وضعیت سره توپیر لري. که یو موټر فرض کړو، اتوماتیک ډول د ګیر بدلول، یوازې د منډې یا سرعت په برخه کې د ګیر بدلول ممکن دي. مګر په خپلچاریتوب کې بیا داسې نه وي، موټر د خپل شاوخوا محیط مطالعه کوي، له وړاندې د نورو موټرو، بایسکلونو، تیټ سرعت لرونکو موټرو او حتی پلي خلکو ته د ور رسېدو اندازه هم معلوموي؛ ټرافیکي نښې ځاري، د رش اندازه او خپل هدف ته د ور رسېدو د هغو بدیلو لارو ارزونه هم کوي چې رش ورباندې نه وي، دا ټول د خپلچاریتوب سیسټم په وسیله ترسره کېږي.

**۲- روغتیایي برخه کې پرمختګونه، د امراضو تشخیص او درملنه**

مصنوعي ځیرکتیا د خپلو پرمختګونو پرمټ په روغتیایي برخه کې یو انقلاب راوستی دی. د امراضو له تشخیص او درملنې نیولې بیا د پېچلو عملیاتو ترسره کول هغه وړتیا ده چې د مصنوعي ځیرکتیا د ټکنالوجۍ پرمټ د نړۍ په پرمختللو هېوادونو کې ترسره کېږي.

**۳- جرم پېژندنه او د مجرم تشخیص**

د مصنوعي ځیرکتیا ټکنالوجۍ داسې وړتیا لري چې د مجرمینو څېره او مخ په دقیق ډول تشخیص کړي. د دې سربېره، د دې ټکنالوجۍ پرمټ حتی د مجرم تګ راتګ، رفتار او کړه وړه ټول د تشخیص وړ دي. نن ورځ د امنیتي کمرو په واسطه په نړۍ کې د مجرمینو تشخیص او کشف خورا اسانه شوی دی او دا چاره د مصنوعي ځیرکتیا په مټ ترسره کېږي.

**۴- حمل او نقل کې اسانتیاوې، د خپلچارو موټرو رامنځته کېدل**

د ټرانسپورټي وسایلو او لېږد رالېږد وسایلو په برخه کې هم د مصنوعي ځیرکتیا ټکنالوجۍ خپل پرمختګ لاپسې ګړندی ساتلی او داسې وسایل یې ایجاد کړي دي چې له انسان پرته په خپلچاري ډول چلېږي. له شاوخوا چاپیریال څخه زده کړه  او د دې زده‌کړې پرمټ له مخکې ټاکل شوي اهداف

تعقیبوي. همدارنګه لوی موټرونه یا لارۍ هم جوړې شوي دي چې له ډرېور پرته په خپل‌چاري ډول مالونه انتقالوي.

**٥- علمي څېړنې**

د معاصرو ټکنالوجیکي وسایلو، یعنې د مصنوعي ځیرکتیا په ټکنالوجۍ سنبالو وسایلو په مرسته نن ورځ علمي څېړنې اسانه  شوي دي. د علمي څېړنو ډېری پړاوونه د مصنوعي ځیرکتیا په ټکنالوجۍ ترسره کېږي. له ډیټا راټولولو نیولې بیا تر ټرانسکریپشن، کوډینګ، تحلیل او ریپورټ جوړولو پورې هر څه د مصنوعي ځیرکتیا  په مرسته په اسانه او ژر ترسره کېږي.

**٦- د مالي فساد تشخیص او کشفول**

د مصنوعي ځیرکتیا سیسټمونه اوس مهال د نورو څانګو سربېره، د فساد د تشخیص او کشفولو له‌پاره هم یوه مؤثره وسیله ده. مصنوعي ځیرکتیا د دې برخې له‌پاره په خورا بریالیتوب سره په کار اچول شوې ترڅو مالي فساد تشخیص او مخه یې ونیسي. بانکونه او نورې مالي ادارې د مالي فساد د واقع کېدو مراکز ګڼل کېږي. په دې کې د بانکي سټېټمنټ فساد، د کریډیټ کارټ فساد، د ګروۍ فساد او دغه راز د بیمې فساد شامل دی. ( Jaffery (Atik, Fraud Detection: ١٠ sec دا هره نوع فساد، مشخص ډول ستونزې زېږوي او هره یوه برخه یې د مصنوعي ځیرکتیا ځانګړې بڼې ته اړتیا لري ترڅو یاد ډول فساد تشخیص کړي.

بانکي سټېټمنټ د شرکتونو له لوري ترتیبېږي او پانګوالو، پور ورکوونکو او دولتي ادارو ته په واک کې ورکول کېږي. ډېری شرکتونه بانکي سټېټمنټونه په رښتینولۍ سره جوړوي، مګر شته ځینې کسان، په ځانګړي ډول د بانکونو مدیران چې په بانکي سټېټمنټونو کې لاسوهنه کوي یا قصدي غلط معلومات په دغو بانکي سټېټمنټونو کې ځایوي. د دوی موخه دا ده چې په بازار کې ډېره ګټه وکړي، لکه د تضمیناتو له‌پاره لوړې بیې ترلاسه کړي، ټیټې مالیې اداء کړي، په یو ډول غیرموجودو کریډیټونو ته لاسرسی ولري، بهرنیو هېوادونو

ته سفر وکړي، له دولتي او غیردولتي ادارو څخه پرې قراردادونه واخلي او نورې غیر اصولي ګټې ترلاسه کړي. د دا او دې ته ورته بانکي سټیټمنټونو په مرور او تشخیص کې د مصنوعي ځیرکتیا سیسټمونه خورا ډېر اغېزمن دي. د مصنوعي ځیرکتیا سیسټمونه «هغه بانکي سټیټمنټونه تشخیصوي چې په ډېر احتمال سره غلط یا ناسم معلومات په کې لیکل شوي وي». ( Jaffery Atik, Fraud Detection: ۱min, ۱ sec)

د کریډیټ کارټونو معلومات هم په اسانه غلا کېدای شي او ډېر کله د سوداګرو، بانکونو او عادي کاروونکو څخه غلا کوي او په ناسم ډول کارول کېږي. د مصنوعي ځیرکتیا ماشین یا سیسټمونه بیا د دا ډول چارو د تشخیص په برخه کې مخکښ رول لري. مخکې له دې چې معلومات پروسیس شي، تشخیصوي یې. په دې ترتیب، د مصنوعي ځیرکتیا سیسټمونه د مالي فساد په مخنیوي کې ګټور ثابتیږي.

د ګروۍ فساد او د قرضو د فساد په نورو انواعو کې د ګرو شوي ملکیت د ارزښت په اړه مبالغه او یا د ملکیت او شتمنۍ اړوند ادعاوو تحریف شامل دی. دا د مالي فساد بل ډول دی. که یو کس له بل کس څخه پور واخلي، په بدل کې ورته خپل کور/موټر/ګاڼه ګرو کړي. په داسې حال کې چې په ګرو ایښودل شوي څیز ټیټ وي، مګر نوموړی یې لوړ حساب کړي، دا هم د مالي فساد یو ډول دی. «د مصنوعي ځیرکتیا سیسټمونه د ګروۍ په برخه کې د داسې غیرعادي چارو د تشخیص وړتیا لري چې د مالي فساد بوی ترې راځي» (Jaffery Atik, Fraud Detection: ۱min, ۳۰ sec) نو د مصنوعي ځیرکتیا پر مټ کولی شو چې دا ډول غیر واقعي او له حقیقت څخه لیرې معلومات تشخیص او د غیراصولي ګټې مخه ونیسو.

په همدې ډول، د مصنوعي ځیرکتیا سیسټمونه د بیمې هغه ادعاوې هم مرور کولی شي چې د مالي فساد امکان په کې موجود وي. د دې سربېره، بانکونو ته هم د دې وړتیا ورکوي چې د غلطو او ورانکارو فعالیتونو پر مخ

وړونکي تاجران وپېژني او له هغوی سره له مالي معاملو يې راوګرځوي ترڅو د مالي فساد مخه ونيول شي.

د پورته مالي فساد هر ډول، د مشخصې ډېټا او معلوماتو په اساس کېږي. د مصنوعي ځيرکتيا سيسټمونه په داسې مشخصو ټکنالوجيو سنبال دي چې د هر ډول مالي فساد لهپاره کاربدونکې ډيټا تشخيص کړي، خو د هر ډول فساد لهپاره د ځانګړو او مشخصو سيسټمونو ځای پر ځای کولو ته اړتيا ده. د بېلګې په توګه، د بيمې اړوند ناسمو ادعاوو تشخيص لهپاره يې مشخص ډيزاين شوی سيسټم اړين دی په همدې ترتيب نورو لهپاره هم ځانګړی سيسټم.

د دې سربېره، جالبه نقطه دا ده چې د حقوقو عامه معقوله دلته هم صدق کوي، «مجرم تر پوليس څو قدمه وړاندې دی». په دې معنی چې «جعل کاران هم د مصنوعي ځيرکتيا ټکنالوجي ترلاسه کولی شي او کولی شي چې د ګټه اخيستلو نوې لارې ومومي او د فساد له افشاء کېدو څخه تېښته وکړي» (Jaffery Atik, Fraud Detection: ۱min, ۰۸ sec) يعنې مجرمين هم د خپلو جرمي اعمالو د ارتکاب وړتيا بدلوي رابدلوي او نوې کوي يې. نو د دې احتمال هم شته چې د مالي فساد مرتکبين د مصنوعي ځيرکتيا ټکنالوجۍ ترلاسه کړي او پر مټ يې مالي فساد ترسره کړي. دلته بيا د دواړو اړخونو (د مالي فساد مرتکبينو چې مصنوعي ځيرکتيا د فساد لهپاره کاروي او قربانيان يې چې د مصنوعي ځيرکتيا د دا ډول فساد د کشف او مخنيوي لهپاره کاروي) ترمنځ توازن خورا مهم دی. د هر لوري له اړخه کاربدونکې مصنوعي ځيرکتيا چې غښتلې او پياوړې وي، هغوی به برلاسي وي.

**ب: زيانونه او ننګونې**

سره له دې چې د مصنوعي ځيرکتيا ټکنالوجي د ودې او پرمختګ په حال کې ده او د ودې او پرمختګ دا بهير په خورا چټکۍ سره وهي، چې ډېر شمېر ګټې يې رامنځته کړي دي، مګر په ورته وخت کې يو لړ ستونزې، ننګونې او

زیانونه هم ورسره مل دي. د خطاء او تبعیض اړوند زیانونه، خصوصي حریم د خوندیتوب له منځه تللو اړوند او ځینې نور چې په لاندې ډول یې تفصیل وړاندې کېږي.

**۱- خطاء، تبعیض:** په مصنوعي ځیرکتیا کې د خطاء او تبعیض احتمال ډېر لیدل کېږي. دا ټکنالوجي کولی شي د ژبو، عمر، جنسیت، نژاد او ځینو نورو ډولونو تبعیض او خطاؤو لامل وګرځي. له هغه ځایه چې دا ټکنالوجي له وړاندې ثبت شوې ډیټا په اساس فعالیت کوي، نو هرکله چې د جوړونکو له لوري داسې ډیټا ورسره اضافه شي چې په کې تبعیض یا خطاء ترسره شوې وي، نو د مصنوعي ځیرکتیا ټکنالوجي به هم په همدې اساس مخکې ځي او د تبعیض او خطاء ښکار به ګرځي.

**۲- خصوصي حریم او محرمیت:** دخصوصي حریم او محرمیت خوندیتوب ته هم کله کله د مصنوعي ځیرکتیا په سیستمونو کې ضربه رسېږي. د بېلګې په توګه، که یو کارګر یا کارکوونکی په کاري وخت کې ځارل کېږي، د هغه له خوښې پرته یې انځور اخیستل کېږي او هر ډول فعالیت یې په سیستم کې ثبتیږي، نو دا چاره یې د خصوصي حریم او محرمیت پر وړاندې ستونزې زېږوي.

**۳- اقتصادي او ټولنیزې ستونزې:** د مصنوعي ځیرکتیا ډېرېدونکي رول د اقتصاد او ټولنې لپاره یو لړ نوې عملي او مفهومي ستونزې راولاړې کړې دي. ډېری عملي ننګونې له هغې طریقې څخه سرچینه اخلي چې په مصنوعي ځیرکتیا باندې تحقیقات کېږي او رامنځته کېږي او همدارنګه له هغې بنسټیزې ستونزې څخه چې د خپلچارو (autonomous) ماشینونو د فعالیتونو د کنټرول لپاره کېږي. مفهومي ستونزې بیا د خپلچارو ماشینونو له لوري د رامنځته شوې خسارې د اخلاقي او حقوقي مسؤولیت د نسبت ورکولو په برخه کې لیدل کېږي او له دې څخه سرچینه اخلي چې مصنوعي ځیرکتیا اصلاً څه معنی او په دې تړاو دې مسؤولیت چا ته متوجه شي. دا

ډول ځينې ستونزې په مصنوعي ځيرکتيا پورې تړلې دي، ځينې يې له نورو صنعتي ټکنالوجيو سره شريکې دي. دې چارې حقوقي سيسټمونه د مصنوعي ځيرکتيا په را د بره کېدلو کې خنډونه ايجاد کړي دي. ( Scherer, (Matthew U, ۲۰۱۵: abstract

**۴- د چاپيريالي پوهې محدوديت:** که څه هم د خپل چارو ماشينونو پرمختګ د پام وړ دی، له چاپيريال څخه معلومات اخلي او د هغې مطابق ځان عياروي، خو له چاپيريال څخه د معلوماتو په ترلاسه کولو کې يو لړ محدوديتونه هم لري. تر ټولو مهم هغه يې، د يو پېچلې او تغييرېدونکي چاپيريال په اړه پوهه يې ډېره محدوده ده. يعنې چاپيريال پېچلې او د تغيير په حال کې وي، نو په اړه يې معلومات ترلاسه کول ستونزمن ګرځي. د دې ستونزې د هواري لهپاره، دغو سيسټمونو لهپاره جوړ شوي الګوريټمونه د خپل فعاليت تر ساحې لاندې چاپيريال په اړه له فعاليت پيلولو وړاندې پراخې ډيټا ته اړتيا لري. د مثال په توګه، خپلچاري موټرونه بايد د هغو ترافيکي نښو او لارو په اړه له وړاندې معلومات ولري چې ورسره مخ کېږي، ترڅو کمپيوټري محاسبې ساده شي. يعنې په کابل کې ډيزاين شوی موټر به په جلال اباد کې يا د نړۍ بل ښار کې ښه ډول ونه چلېږي، بلکې ستونزې به راولاړې کړي.

**۵- جعل او تزوير:** له ګټو او مؤثريت سربېره، له مصنوعي ځيرکتيا څخه د ناوړه ګټه اخيستنې له ډلې يو يې هم د جعلي اسنادو جوړول دي. د دې ټکنالوجۍ پر مټ هر څوک کولی شي په اسانه يو سند جوړ کړي. د بېلګې په توګه د برېښنا بيل، د هوټل بيل او ورته نور بيلونه يا ليکلي سندونه په خورا اسانه ډول جوړولی شي چې له اصلي هغو سره يې تشخيص پېچلی دی.

اوس د مصنوعي ځيرکتيا او حقوقو ترمنځ د اړيکو په پوښتنه باندې تم کېږو چې دا دواړه څانګې له يو بل سره څرنګه ارتباط لري.

په اوسنۍ نړۍ کې مصنوعي ځيرکتيا خورا پراخه ساحه نيولې ده او زموږ شاوخوا ترې اغېزمنه ده. مصنوعي ځيرکتيا زموږ په کمپيوټرونو، موبايلونو،

ساعتونو او عامه ځايونو کې کارول کېږي. د نړۍ بېلابېل حقوقي سيستمونه، د مصنوعي ځيرکتيا لەپاره حقوقي چوکاټ ته اړتيا لري لکه د پخوا په څېر د انټرنټ، موبايل او کمپيوټر لەپاره يې چې حقوقي سيستمونه رامنځته کړل. افغانستان هم د نړۍ يو غړی دی، اړتيا لري چې د نورو برخو په څېر، د مصنوعي ځيرکتيا لەپاره هم حقوقي چوکاټ رامنځته کړي.

په عمومي ډول، له حقوقي پلوه د مصنوعي ځيرکتيا درې بعدونه د پام وړ دي:

**۱)** د دې خطر شته چې د مصنوعي ځيرکتيا د پروګرام رامنځته کوونکو خوښې، علاقې او تبعيض/خطاوې په يادو پروګرامونو کې ځای پر ځای شي. په حقيقت کې، د دې اندېښنې مخنيوی ناشونی دی. ځکه زمونږ علايق او تمايلات زمونږ په چارو باندې اغېز ښندي او دا چاره په مصنوعي ځيرکتيا کې د اندېښنې وړ ده، ځکه ستونزې زېږوي. د بېلګې په توګه، که يو پوليس له کوم مشکوک سره د هغه د قوميت پر بنسټ چلند وکړي، دا به دومره ستونزه ونه زېږوي؛ مګر که پوليس د مصنوعي ځيرکتيا داسې يو سافټ وېير وکاروي چې هغه په عمومي ډول له مجرمينو سره د هغوی د قوميت په بنسټ چلند کوي، نو دا به ډېره زياته ستونزې زېږوونکې مسئله وي. دا موضوع په مصنوعي ځيرکتيا کې ډېره ليدل شوې ده. ځکه که د څېرې يا مخ پېژندنې کوم سافټ وېير چې د سپين پوستو له لوري جوړ شوی وي، هغوی به له سپين پوستو څخه پرته د نورو خلکو د پېژندلو په برخه کې مشکل ولري. له حقوقي پلوه دا يو ډول تبعيض ګڼل کېږي چې مصنوعي ځيرکتيا پروګرام يې کوي. دا پروګرام خپله تبعيض نه کوي، بلکې د رامنځته کوونکو د تبعيض په اساس يې دا ډول ستونزه رامنځته کړې ده. په لنډ ډول، مصنوعي ځيرکتيا د هغه د ايجادوونکي اړوند ځينې تبعيضونه له ځان سره لري.

**۲)** دوهمه مسئله د مصنوعي ځيرکتيا د پروګرامونو څارنه ده. کله چې کوم انسان غلطي کوي، مسؤوليت ورته په اسانه راجع کېږي، مګر که کوم ماشين

غلطي وکړي، لکه د موټر بريک خراب شي، نو ځينې استدلال کوي چې جوړوونکی يې بايد مسؤول وپېژندل شي. خو د نورو ماشينونو لکه د مصنوعي ځيرکتيا اړوند لويو پروګرامونو کې بيا د دې تشخيص ګران کار دی. دا ستونزمنه ده چې واضح شي د مصنوعي ځيرکتيا دا پروګرام څرنګه او ولې دې نتيجې ته رسېدلی دی، ځکه د مصنوعي ځيرکتيا په سيستمونو څار نشته او د څار نشتوالی د حقوقي ستونزې لامل ګرځي.

**۳)** دريمه اندېښنه د «ولې» ده. په دې معنی چې مصنوعي ځيرکتيا ولې او کومې موخې لهپاره کارول کېږي؟ يعنې د دې لهپاره کارول کېږي چې خلک وربانديې کنټرول کړل شي يا دا چې خلک له کاره وغورځوي. اصلاً د «ولې» پوښتنه يوه سياسي او فلسفي پوښتنه ده، مګر يوه حقوقي پوښتنه هم ده. ځکه دا مهمه ده چې له حقوقي پلوه له مصنوعي ځيرکتيا سره کوم ډول چلند وشي. نو دې ولې ته ځواب موندل، له حقوقي پلوه لا هم د پوښتنې په حالت کې قرار لري او ځواب موندل ورته ناشونی برېښي. په هر حال، مصنوعي ځيرکتيا له نورو علومو سربېره، حقوقو سره هم تړلې او ژورې ريښې يې ترمنځ غځېدلې دي. دا رېښې د دې لامل شوې دي چې د مصنوعي ځيرکتيا د سيستمونو له لوري يو لړ ننګونې هم رامنځته شي. دا ننګونې په لاندې سرليک کې تر بحث لاندې نيول کېږي.

**پنځم- د مصنوعي ځيرکتيا له لوري رامنځتهشوې ننګونې**

مصنوعي ځيرکتيا له زيانونو سره سره، په حقوقي برخه کې يو لړ ننګونې او ستونزې هم رامنځته کړې دي. دا ننګونې تر ډېره په ابتدائي حالاتو کې دي او د نورې نړۍ په څېر په افغانستان کې د مصنوعي ځيرکتيا او حقوقو ترمنځ اړيکو پرمهال رابرسېره کېدای شي. د بېلګې په توګه، يوه تر ټولو مهمه او لويه ستونزه د مسؤوليت هغه ده. که يو خپلچاری موټر حرکت کوي، د لارې په اوږدو کې يو کس ووهي يا دا چې له بل موټر سره ټکر وکړي، د دې مسؤوليت

به چا ته راجع شي. همدا مثال په هوايي بې‌پيلوټه الوتکو او هوايي ټکسيو کې هم صدق کوي.

مسؤوليت يا مکلفيت راجع کول دوه اړخونه لري، يو هغه مسؤوليت ارجاع کول دي چې پخوا کومه واقعه شوې وي، وروسته يې مسؤول کس معلومېږي او مسؤوليت ورته راجع کېږي. بل هغه ډول مسؤوليت ارجاع کول دي چې له مخکې څخه د راتلونکو پېښو له‌پاره مسؤوليت انتسابول معلومېږي. يعنې که دا عمل په داسې ډول ترسره شو، مسؤوليت يې فلاني ته راجع کېږي. د دې موخه د ښو پايلو ايجاد او د بدو هغو مخنيوی دی.

په هر حال، مصنوعي ځيرکتيا په حقوقي برخه کې يو شمېر مهمې او ژورې ننګونې رامنځته کړې دي. دا ننګونې هم د تطبيق[٥] او هم د تقنين[٦] په دواړو پړاوونو کې تر سترګو کېږي. دلته يې ځينې مهم اړخونه په لنډ ډول توضيح شوي دي.

**الف- په عامه سکټور کې مصنوعي ځيرکتيا او د هغې حقوقي مسؤوليت**

په دې برخه کې د مصنوعي ځيرکتيا په حقوقي مسؤوليتونو باندې رڼا اچول کېږي. د مثال په توګه، که يو خپل‌چاری موټر په پلې لاره کې کوم کس په موټر ووهي، مسؤول يې څوک دی؟ يا دا چې د روغتيايي برخې يو روباټ يو مريض ناسم تشخيص کړي، مسؤوليت يې چاته ورګرځي؟ د مسؤوليت انتساب سيستمونه پخواني دي او ډېر کار نه ورکوي او هغوی په پلي کېدو سره ممکن ځينې خلک د خسارې له جبران څخه پاتې شي او ممکن ځينې زيانونه جبران نه شي. د انسانانو د مسؤول پېژندلو له‌پاره بېلابېل حقوقي چوکاټونه جوړ شوي دي. که يو کس بل ته ضرر ورسوي، د ضرر په تناسب مسؤول ګڼل کېږي او رسول شوې خساره جبرانېدای شي. مګر آيا دا مناسبه او شونې ده چې يو روباټ دې مسؤول وګڼل شي، جزا دې ورکړل شي يا دا

[٥] enforcement
[٦] legislation

چې تاوان دې ورڅخه واخیستل شي؟ یا دا چې ووایو نوموړی روباټ مجرم دی یا نه دی؟ که د ماشین یا روباټ د مسؤول پېژندلو له‌پاره اصول او مقررات ونه لرو، نو د داسې پېښو پرمهال به څوک او څرنګه مسؤول وګڼو؟ د غیرځیرک ماشینونو د مسؤول پېژندلو په اړه اسانه ده چې جوړونکی یې مسؤول وګڼل شي. فرضاً د ویښتو وچولو ماشین دی، ویښته یې درته خراب کړل، په اسانه کولای شې چې جوړونکی یې مسؤول وګڼې. مګر د ځیرکو ماشینونو په اړه بیا دا موضوع پېچلې ده چې ګواکې جوړونکی دې مسؤول وګڼل شي. دا موضوع په «CCTV» کیمرو کې بیخي لا پسې پېچلې ده چې د مخ پېژندنې له‌پاره د ماشیني زده‌کړې پرمختللې ټکنالوجي کاروي. « ماشیني زده‌کړه په دې معنی چې سیستم له چاپیریال څخه زده کړه کوي او ورسره ځان عیاروي، یعنې دا سیستم متحرک دی او د وخت په تېرېدو سره تغییر کوي.» ( Lena Wahlberg, AI and Legal Responsibility: ۲ min, ۳۷ sec) نو په دا ډول سیستمونو کې جوړونکی نه شي کولی چې پېښېدونکي حالات اټکل کړي. ځکه دا سیستمونه له چاپیریال سره ځان عیاروي او د تغییر په حال کې دي چې په خپل سر دا تغییر راولي. د مصنوعي ځیرکتیا ځینې سیستمونه د «High-low part» برخه لري، یعنې د جوړونکو په ګډون انساني اپلیکیشن څارونکو له‌پاره یې دا مشکله یا حتی ناممکنه ده چې د چلند ډول یا د کار ډول او څرنګوالی یې معلوم کړي. نو په داسې حالاتو کې به دا ممکنه وي چې اصلي جوړونکی یا کاروونکی یې د دا ډول ماشین د غلطۍ له کبله مسؤول وګڼل شي؟ دا به نا مناسبه وي چې یو جوړونکی دې خپل ټول وس وکړي او پاملرنه دې هم وکړي، بیا دې هم د ماشین د غلطۍ له وجې نوموړی مسؤول وګڼل شي.

له هغه ځایه چې دا سیستمونه خپل شاوخوا محیط مطالعه کوي او اقدام کوي، لکه د ټسلا کمپنۍ موټر چې خپله شاوخوا د سینسرونو په واسطه معلوموي. د پلې‌ټګ لارې څاري، د نورو موټرو حرکت څاري، په لاره کې پراته

موانع ګوري او د ټرافیکي نښو شننه خو یې بیخي لومړنی کار دی، ولې په دغو سیسټمونو باندې باور تراوسه لا نشته. «مونږ په یادې کمپنۍ یا معیاریتوب ځانګو کې داسې هوکړې نه لرو چې ماشیني زده‌کړه به څنګه ترسره کېږي، څنګه ازمایښت کېږي او څنګه به ارزول کېږي» ( John (McDermi: ۲۰۲۰

د مسؤولیت راجع‌کولو له‌پاره بېلابېلې لارې چارې موجودې دي. په یو شمېر حقوقي سیسټمونو کې د مطلق مکلفیت راجع کولو لاره دود ده. مګر په مصنوعي ځیرکتیا کې دا ډول شدید او سخت مکلفیت ناممکن دی ځکه د تعریف له مخې دا ډول ماشینونه نه شي کنټرول کېدای نو څنګه به ورته مسؤولیت راجع کړل شي. په هر حال، د مسؤولیت ارجاع کولو په انګریزي-امریکایي[۷] حقوقي سیسستمونو کې ټول‌ټال څلور لارې موجودې دي: د ارادې په بنسټ د مسؤولیت ارجاع کول؛ د خطر/بې‌پروایۍ په بنسټ د مسؤولیت ارجاع کول؛ ۳- مطلق یا شدید مسؤولیت انتساب او؛ ۴- د جبري بیمې طرحې چې د خطرونو او د بشري حقوقو د سرغړونو له‌پاره د حقوقي مسؤولیت د انتساب د لارو چارو بېلګې دي. (Karen Yeung, ۲۰۲۹, p ۵٦) په پورته څلورو تیوریو کې، که د مطلق مسؤولیت تیوري باندې عمل وشي، نو څوک به جرئت ونه کړي چې دا ډول ماشینونه دې بیا ځلې جوړ کړي، ځکه له خپل راتلونکي مسؤولیت څخه به وېرېږي. د دې سربېره، که یې جوړونکي مسؤول وګڼل شي او هغوی نه وي، مګر ماشینونه یې لا هم په خپل حال پاتې وي، نو داسې حال کې به ورته مسؤولیت څنګه راجع شي؟

له هغه ځایه چې دا سیسټمونه ډېر یا لږ خپل‌چاري دي او د انسان د مستقیمې مداخلې او کنټرول پرته دغه راز د جوړونکي یا پرمخ وړونکي له کنټرول پرته مخته ځي، نو د هغوی پرېکړې او نتایج دې له یو بل سره ونه تړل شي.» ( Yeung, Karen, ۲۰۱۹, p۵۳) ځکه د دوی اعمال او پرېکړې د دې

[۷] Anglo-American

لامل شوي نه دي چې نوموړی ماشين دې ضرر وارد کړي، بلکې دا ماشين دی چې له چاپېريال څخه يې زده‌کړه کړې او داسې يوه ستونزه پېښه شوې ده. په ټوليز ډول، د خسارې لپاره د حقوقي مسؤوليت منسوبول به د مصنوعي ځيرکتيا په قانونمند کولو کې يو څه رول ولوبوي، مګر دا چاره د ماشين په واسطه د پېښې شوې خسارې د جبران او د راتلونکو خسارو د مخنيوي لپاره کافي نه ده. نو بايد بديل يې ولټول شي.

د ټکنالوجيو کمپنۍ د دې ستونزې هوارې لپاره لاس په کار شوي او د مصنوعي ځيرکتيا د مسؤوليت انتساب لپاره يې ځانګړي اصول او مقررات ايجاد کړي دي، خو دا اصول هم په ټولو هېوادونو کې د تطبيق وړ نه دي. ځکه هېوادونه توپير لري، ممکن دا سيستمونه په «الف» هېواد کې جوړ شي، خو په «ب» هېواد کې به کارېږي، نو د مسؤوليت ستونزه نشي هوارولی. د دې سربېره پوښتنه دا ده چې آيا دا مناسبه ده چې مصنوعي ځيرکتيا ماشينونو اړوند مسؤوليت دې د کمپنيو اصولو او مقرراتو ته پرېښودل شي؟

نه، ډېری حقوقپوهان په دې باور دي چې د کمپنيو اصول دې د هېوادونو د حقوقي مقرراتو په واسطه تکميل کړل شي او ښکېلکار کوي چې د خپل چارو ځيرکو ماشينونو ايجادول مونږ مجبوروي چې بديلې حقوقي لارې ولټوو ترڅو داسې فعاليت ترسره کړي چې د مسؤوليت انتساب، د پخوانيو دوديزو لارو چارو په واسطه ترسره کړي.

د حقوقي مسؤوليت د انتساب په دوديزو تګلارو کې ځينې لارې چارې موندلی شو. د بېلګې په توګه، د ځينو هېوادونو قوانين د مصنوعي ځيرکتيا له جوړوونکو غواړي چې داسې بيمې وپېري چې د مصنوعي ځيرکتيا په برخه کې خلکو ته رسيدلي زيانونه جبران کړي، البته په هغه صورت کې چې بل مسؤول کس پيدا نه شي. دا ډول جبري بيمې خصوصاً په صحي برخه کې ډېرې دي. يا دا چې ياد مقررات له جوړوونکو يا کاروونکو څخه غوښتنه کولی شي چې لا ډېر احتياطي تدابير ونيسي ترڅو د خسارو مخه ونيسي او بالاخره

به انسان د دې وړ شي چې يو وخت ماشين مسؤول وګڼي او د خسارو په جبران يې مکلف کړي.

د مصنوعي ځيرکتيا ټکنالوجي نوې او ځينې يې په ابتدايي حالاتو کې دي چې کله کله تخنيکي عارضې پيدا کوي. د بېلګې په توګه دايلان ماسک د کمپنۍ له لوري جوړ شوی خپل چاری موټر، په لاره د تګ پرمهال له سينسرونو څخه کار اخلي ترڅو شاوخوا سيمه وڅاري او همدې ته په کتو اقدام وکړي. «مګر خراب موسم، رش، د سړکونو نښې او ورباندې چټلي د دغو سينسرونو کره والی اغېزمنوي» (McDermid, John, ۲۰۲۰) نو فهلذا دا سيستمونه د حقوقي چوکاټ سربېره، تخنيکي احتياط ته هم اړتيا لري او نه پاملرنه يې د حقوقي مسؤوليت د ايجاد باعث ګرځي.

ځينو هېوادونو د مصنوعي ځيرکتيا د حقوقي سيستمونو له لوري واردېدونکو خسارو د جبران لپاره بېلابېل ماډلونه جوړ کړي دي. په دغو کې مخکښ يې، لکه څرنګه چې مخکې ذکر شول، امريکايي حقوقي نظام دی چې څلور ماډلونه يا لارې چارې لري ترڅو د مصنوعي ځيرکتيا خپلچارو ماشينونو له لوري پېښېدونکې خسارې ورباندې جبران کړي. دا څلور ماډلونه عبارت دي له: «ارادي ماډل، د خطر يا بې پروايۍ ماډل، د مطلق مکلفيت ماډل او د جبري بيمې طرحې.» (Yeung, Karen, ۲۰۱۹, p۵۶) چې په لاندې ډول يې هر يو ته لږ لږ تفصيل وړاندې کوو.

**۱- د ارادې/تقصير ماډل**

د مسؤوليت راجع کولو لپاره د ارادې/تقصير ماډل د جزا حقوقو يو اساسي ماډل دی او د يو عمل د عامل په اراده باندې تمرکز کوي. دا ماډل دوه اساسي شرايط لري: د «کنټرول» شرط چې ثابتوي عامل د يو عمل مسؤول دی، ځکه نوموړي په خپله خوښه دا کار کړی دی يعنې پر ځان باندې يې کنټرول درلود. بل شرط د «پوهاوي»[۸] دی چې د «تقصير» ثبوت ته اړتيا لري.

[۸] epistemic

يعنې هغه عامل د خپلو اعمالو د زيانمنونکو نتايجو په اړه ربښتينې پوهه او معلومات درلودل او اخلاقاً يې بايد مسؤول وبلو. لکه څنګه چې يونګ وايي: «د مسؤوليت راجع کولو ارادي ماډل چې د اخلاقي مسؤوليت پر بنسټ دی.» (Yeung, Karen, ۲۰۱۹, p۵۷) په هر حال، ماشيني عاملان دوهم شرط نشي پوره کولی ځکه دوی ذاتي پوهه، معلومات او اراده نه لري چې تقصير ورباندې ثابت شي. له همدې کبله، دا ماډل مستقيماً د مصنوعي ځيرکتيا په ماشينونو باندې نشي عملي کېدای، پر ځای يې په هغو انسانانو باندې تطبيقيږي چې د يادو ماشينونو په ايجاد او فعالولو کې دخيل وي.

په اروپا کې د غيرقراردادي مسؤوليت يا تقصيري مسؤوليت[۹] ثابتول د تقصير په اساس دي، په هغه صورت کې متضرر ته تاوان ورکول کېږي چې مدعی عليه مقصر وګڼل شي. (European Commission, ۲۰۱۹, ۲۳p) په دې سيستم کې متضرر شخص مکلف دی چې د متخلف تقصير ثابت کړي، د نه اثبات په صورت کې متخلف ته مکلفيت نه راجع کېږي. مګر پرمختللو ټکنالوجيو کې دا ستونزمنه ده چې تقصير اړوند د مکلفيت اصول عملي شي، ځکه د يادو ټکنالوجيو د مناسب کارنده‌توب ماډلونه نشته او ترڅنګ يې دا ټکنالوجۍ له انسان پرته، له خپل محيط او چاپيريال څخه زده‌کړه کوي. (European Commission, ۲۰۱۹, ۲۳p) دا ټکنالوجۍ له چاپيريال څخه زده‌کړه کوي او له مخې يې په خپل‌چاري ډول تصميم نيسي نو د تقصير ثابتول ورکې خورا ډېر ستونزمن کار دی.

د دې ماډل له لارې د مصنوعي ځيرکتيا اړوند مسؤوليتونه يې جوړوونکو يا کاروونکو انسانانو ته منسوبيږي، په ځانګړي ډول په هغه حالت کې چې د مصنوعي ځيرکتيا ماشينونه کله په قصدي ډول د ناسمو موخو له‌پاره ايجاد يا وکارول شي. لکه څرنګه چې يونګ وايي: «د ارادي/تقصير ماډل تر چتر لاندې د هغو افرادو عمل دا شرط په دقيق ډول پوره کوي چې په قصدي ډول

[۹] tort laws

يې مصنوعي ځيرکتيا د ناسمو يا خطرناکو اهدافو لهپاره لکه فريب او يا بلې غلطې لارې ښخه د گټې ترلاسه کولو لهپاره کارولې ده.» ( Yeung, Karen, ٢٠١٩, p٥٧) په داسې حالاتو کې، د جزا حقوقو له مخې د افرادو يا شتمنيو خلاف د انسانانو داسې اعمال د عدلي تعقيب وړ دي. دغه راز، د مدني حقوقو له مخې د خسارې د جبران په ورکړه هم مکلف کېدای شي. د دې سربېره، دلته له بشري حقوقو ښخه ښکاره سرغړونه هم رامخې ته کېږي، چې حقوقي مسؤوليت يې معمولاً سخت وي، يعنې د قصد او ارادې ثبوت هر کله اړين نه وي، صرف زيان اړول کفايت کوي او له دې پرته هم داسې نقض د عدلي تعقيب وړ دی.

پاتې برخه په راتلونکې گڼه کې.....

**Published:** Academy of Science of Afghanistan

**Editor in Chief:** Abdul Baqi Shahab

**AS. Editor:** Abdul Baqi Shahab

**Editorial board:**

Senior research fellow Shir Ali Tazri

Senior research fellow Abdul Jabbar Abid

Researcher Fellow Muhammad Dawood Nazim

Associate professor Gholam Nabi Hanafi

Assistant professor Shirhasan Kamalzai

**Composed & Designed By:**

Abdul Baqi Shahab

**Annual Subscription:**

Price of each issue in Kabul: ۳۲۰ AF.

- For Professors, Teachers and Members of Academy of Science of Afghanistan: ۷۰ AF.
- For the disciples and students of schools: ٤۰ AF.
- For other Departments and Offices: ۸۰ AF.